دا اوښکې خوړونه شوه، بیا سیندونه شوه، او بیا ویالې شوې! او
وروسته د ګل په شاخ کښی وچلیدې.
خدای زده څومره علل او اسباب سره یو ځای شوه او څومره
شرایط وجود ته راغله چه پدغو ټولو باندی د غوټۍ زندګی مرتبه شوه.
د سحر نری شمال په دی غوټۍ ورو، ورو د شفقت لاس تیرولو د
شپې پرخې ورباندې خپله درافشانی کوله چه څو د شمال په ډېره
دلاساینه غوټۍ خپل شین داوڼ له مخه لرې کړ. د چمن طراوت،
د مرغانو نغمو، د اسمان د شنی فضا لاانتهائیت، د لمر زرینو
پلوشو، د سپوږمۍ مرغوبیت، د ستورو مرموزو اشارو او د کایناتو
نظام ته ئې وکاته او په نیمه خوله ئې وخندل.
چه څو بیا دې خوله خندا ته جوړوله نمر د ماسپښین ځای ته
راغلې و غوټۍ دده خواته مخ واړاوه او سر ئې ټیت کړو.
کوم وخت چه د نمر پریواته له پلوه د نمر د طلائی پلوشو سره د
نسیم په لګیدو د غوټۍ نازکی پاڼې رپیدی نو دی په داسی اواز
چه ایله د شاعر د زړه غوږونو اوریدی شو ویل:
پاکی تا لره ده ای خالقا، ای د کایناتو صانعا ستا عالم څومره
ښایسته دی، څومره ګلالی دی او څومره وسیع؟ مګر ای خاونده!
زما د زندګی وار همدا و «پس له لږ سکوته» باداره؟ پاکی ده تا
لره زه راضی یم چه ستا د بې انتها ملك یوه ډېره، جزئی برخه
په ما ښایسته شوه؟
ستا د مخلوقاتو د سترګو طراوت وګرځېدم، بلبلان را باندې



ERIC

وچغیدل، بوراگان را باندی والوتل، د صبا وږمی زما خوشبوئی یووړه
او خپه زړونه ئی پی خوشحاله کړل.... ډېره ثنا ده تالره چه زه
گل یم او اغزی نه یم، نمر د غروب په حال کښ و، گل خپل زړه
په خپلو مړاوو پانو کښې راونغښت او د خپل حیات په وروستیو
لحو کښې ئی یواړې بیا دا وویل: «ډېره ثنا ده تا لره ای خاونده!
چه زه گل پیدا شوم او اغزی نه شوم» او ورژید.

*Pre-reading*

## Background

Qiyamuddin Khadem was born in Ningrahar sometime around the turn of the century, and is the oldest of the 'older' modern writers. He was educated within his family and in mosque schools, and also studied in Peshawar and India. He was a journalist - an editor of *Islah,* a prestigious daily paper - and a member of the early Pashto Academy. He was also in politics, serving for a while as a senator in the Afghan Parliament. He was jailed briefly after the Communist coup, and died not long after he was released in 1978.

This essay was first published sometime in the forties. It is a philosophical statement to the effect that one should thank God for making one productive, or at least not harmful - a statement more pointed when considered in the context of the repression and cruelty that existed in the Afghan government prior to Shah Mahmud's tenure as Prime Minister.

Our copy of the essay appears in Ulfat's لیکوالی: املا او انشا, page 101.

## Key vocabulary

| | |
|---|---|
| wind, breeze *n, M2.* [shamā́l] شمال | sign, signal *n, F1.* [ishārā́] اشاره |
| golden *adj 4.* [tɪlāyí] طلائی | buzz, fly *smp. irreg. int. vb.* [aluz-́] الوز- |
| world *n, M2.* [ʔā́lam] عالم | voice *n, M2.* [awā́z] اواز |
| bud *n, F3.* [ghuṭáy] غوټی | tear *n, F1.* [wúxka] اوښکه |
| atmosphere *n, F3.* [fazā́] فضا | nightingale *n, M1.* [bəlbə́l] بلبل |
| cute, appealing *adj 2.* [golaláy] گلالی | bee (a big black one) *n, F3.* [bawrā́] بورا |
| caress *phr.* [lā́s teraw-́] لاس تیرو- | ray (of sunlight) *n, F1.* [palwashā́] پلوشه |

creatures *M irreg. Ar. pl.* [makhlúq] مخلوق
orderly *adj 1.* [moratáb] مرتب
bird *n, M1.* [morgh] مرغه
faded *adj 2.* [mṛā́way] مراوی
tender *adj 1.* [nāzə́k] نازک
breeze *n, M2.* [nasím] نسیم
order *n, M2.* [nɪzā́m] نظام
time, turn (as in 'my turn') *n, M2.* [wār] وار
existence *n, M2.* [wujúd] وجود
cloud *n, F1 - [a].* [wrédz] وریځ
breeze *n, F1.* [waghmá] وږمه
wide *adj 1.* [wasíʔ] وسیع
once again *phr.* [yawāre byā] یوارې بیا

lower *der. tr. vb.* [ṭiṭaw-́] تیټو-
small *adj 4.* [juzʔí] جزئی
shout, sing *smp. int. vb.* [chəghég-] چغېږ-
be drawn in *smp. int. vb.* [chalég-] چلېږ-
by the time *phr.* [che tsó byā] چه څو بیا
fragrance *n, F3.* [khoshbuʔí] خوشبوئی
comfort *n, F1.* [delāsāyéna] دلاسائینه
satisfied *adj 4.* [rāzí] راضي
quiver *smp. int. vb.* [rapég-] رپېږ-
die *smp. int. vb.* [razhég-] رژېږ-
golden *adj 1.* [zarín] زرین
life *n, M3.* [zəndagí] زندګي
branch, stem *n, M2.* [shākh] شاخ
condition *n, M2. Ar. pl.* [shart] شرط

*Scanning hints*

1. The overall paragraphing in this essay roughly corresponds to the logical structure, which is as follows:
   - Global conditions lead to the creation of a flower.
   - The flower blooms, and responds to the sun.
   - The flower addresses God.
   - The flower dies.

2. Before scanning, put periods after the full verbs.

*Post-reading*

١. څومره علل او اسباب او څومره شرایط منځ ته راغلل چه د غوټۍ زندګي مرتبه شوه؟

٢. په غوټۍ باندې چا ورو ورو د شفقت لاس تیرولو؟

٣. څو چه غوټۍ خوله خندا ته جوړوله څه پېښ شوی وو؟



ERIC

٤. غوټۍ ولې راضي وه؟

٥. بلبلان په څه شي وچغیدل او بوراګان په څه شي والوتل؟

## *Notes for Detailed Rereading*

1. Mispunctuations: The question mark after باداره in the fifth paragraph should be an exclamation point, and the comma after the phrase او اغزی نه یم in the last paragraph should be a period.

2. The phrase واوښته را واوښته is another example (see the notes for Selection F) of the verb + را + verb construction which indicates repeated action.

3. The word لاانتهائیت is an Arabic construction through and through. انتها is 'end', plus the noun ending ئیت which makes it 'final-ness', plus the negative لا, which makes it 'non-final-ness', or 'limitlessness'.

4. The term داوڼ refers to the part of the *tsadar* that a woman brings across her face when she encounters someone she shouldn't show her face to.

5. په نیمه خوله ئي وخندل is a poetic way to say the bud smiled, which is in turn a poetic way to say the bud blossomed.

6. As the bud is talking in a voice only the ears of the heart of a poet could hear, she addresses God in a series of vocatives, which traditionally translate as "O ____!" , i.e.:

پاکې خالقا صانعا خاونده باداره

7. Khadem repeats the phrase تا لره ده several times in the essay. It means '... is for you.' Twice, Khadem gives the Arabic word order - ده تا لره - rather than the Pashto order. Pashtun writers have often been influenced by Arabic as the "correct" language, in much the same way that writers and teachers of the western languages were (or are!) influenced by Latin as the "correct" language. The word order of Arabic is verb - subject - object; the word order of Pashto is of course subject - object - verb, which renders a Pashto sentence with Arabic word order dead flat ungrammatical. Tegey remembers an exchange with Khadem, in which Khadem wondered which was correct - the Arabic form or the Pashto form; Tegey suggested that Khadem ask his wife and daughters which they thought was correct; Khadem rejected that suggestion, but some time later admitted that occasionally (but only occasionally!) Tegey was right....

8. The phrase پس له لږ سکوت is found in dramatic scripts as a stage direction.

9. یوورږه ([yúwṛa]) is a dialectal variant of the Kabul dialect's وي وور .

10. The verb وگرځیدم would ordinarily translate as 'I walked', but in the first sentence of the last paragraph it works better as 'I became' or 'I represented".

11. The word غروب, 'sunset', is an Arabic word, clearly related to the Pashto word for west, which is غروب and also borrowed from Arabic. Khadem uses another phrase for sunset - د نمر پریوات له پلوه - which refers more to the place where the sun sets than to its setting.

---

کله چه خادم په پښتو ټولنه کي کار کاؤ، یوه ورځ د یوه سړی جنازې ته ولاړ. کوم سړی چه مړ شوی ؤ، هغه د معارف د وزارت یو پښتون مامور ؤ. خو پدې مشهور ؤ چه له پښتو او پښتنو سره رښتینی مینه نه لری.
کله چه خادم له جنازې نه بېرته راغی نو راته یې وویل: سړی د ځینو کلمو په معنا په کلونو کلونو نه پوهیږی. خو کله داسې موقع راشی چه سړی په ډیره اسانه پرې پوه شي. مثلاً ما ټول عمر د «متعصب» او «بې تعصب» کلمې اورېدې، خو په معنا یې نه پوهېدم. نن خدای هسی پرې پوه کړم.
ما ورته وویل: څنگه؟
ده راته وویل: د ... په قبر د ادبیاتو د پوهنځی رئیس وویل: خدای دې وبخښی بې تعصبه سړی ؤ. دده له دې خبرې سره زه پوه شوم چه «بې تعصب» یعنی «دووس».

- تړی

بې تعصب unbiased *adj 1.* [be ta?súb(a)]

جنازه funeral *n, F1.* [jənāzá]

دووس cuckolded *adj 1.* [dawə́s]

رئیس president *n, M1.* [ra?ís]

رښتینی sincere, real *adj. 2.* [rixtínay]

عمر life *n, M2.* [?ómər]

متعصب biased *adj 1.* [muta?sɪb]

معنا meaning *n, F1.* [ma?nā]

موقع opportunity, time *n, F1.* [moqé]

د ادبیاتو پوهنځی Faculty of Letters *phr.* [de edebiyāto pohandzáy]

Note: Advocates of the Pashto language and those who worked for it were frequently called *mutasib* by a number of Persian speakers.

## Selection H

# ملاله

سمندر د بدربښو -

څه کم زيات د اتياکالو خبره ده کال دولس سوه اوه نوی هجری و د برات د مياشتی اولسمه ورځ وه د پرنگی فوځ د ميوند په ميره کښی پروت و په هر ساز او سامان پوره، په خوراك څکاك موړ تك سور اوړی و، د آسمان نه اور وريدو، ځمکه تيغنه وه ملك سور تنور و کانی د گرمیۍ له تاوه چاودل، پېريانو تنوروﻧﻪ اچولی و، هوا سره لبه وه اوبه نه وی او که چيرته کوهی يا چينه وه نو په هغو د دښمن قبضه وه د مسلمانانو غازيانو سره اوبه خلاصی شوی وی له تندې د هر چا ژبی وتلي وې مریۍ وچې؛ شوندې سپينې تبښتيدلي وې، سره ددې ملاترلی ولاړ و او دا يی غوښتل چه ددين دښمن، د آزادیۍ دښمن د خپل ملك نه وباسی ورك يې کړی خو ددښمن زور ډېرو او خښ ناست و او جنگېدو آخر چه په غازيانو تندې ډير زور وکړو نو داسې واېی چه ځينو ځښو په شا وکتل، زړونه ئې پريوتل، وارئې خطا شو، امام حسېن ر ض مسلمانانو ته يو سبق پريښی دی چه که چيری هم د حق او باطل تر مينځ جنگ وی د باطل ډېر زور وی د حق ملگری په سرونو هم کم وی او په وسله هم او لوږې تندی پری هم راشي خو بيا هم بايده دی چه د ذليل ژوند ځنې د عزت مرگ واخلی خو کله کله مسلمانان داسبق هېر کړی نو ځکه پری وار خطايی غلبه وکړی همدغه وجه ده چه په ميوند کښې هم مسلمانانو تښتته وکړه او په شا روان شول ورستو ددوی ښځی وې په هغو کښې يوې جينیۍ سر هسك کړو او د ځان سره ئی ووې چه دا خو کار خراب شو؟ دا جينیۍ ملاله وه، ملاله د ملی غرور او کلکی پښتو ډکه په تلوار د ښځو د منځ نه د غازيانو په لور ور روانه شوه چه نزدی ورغله لکه د زړوره، نره شيرببره، ودريدله او لکه يوه جرنيله ئې د زړه د اخلاصه نعره کړه چه:

ای پښتنو ميړنو!

د هر جنګيالي پښتون غوږ ته دا چغه ورسيده او په جنګ کښې
ئې د ملالي ورته وکتل ملالې د زړه د جوشه دا لنډۍ ووی چه:
يه که خار:
که په ميوند کښې شهيد نشوې خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه
د ملالۍ د لنډۍ يو يو توری د هر غازی په زړه لکه دغشي ور
ښخ شو اودې چه دا ټپه ختم کړه نو سمدستي ئې د الله تعالی نامه
واخسته «الله اکبر» او لکه د وړې زمرۍ ئې د دښمن په لور ورمنډه
کړه او په منډه کښې يې دا بله لنډۍ شروع کړه:
يه قربان: ......
خال به د يار په وينو کيږدم چه شينکي باغ کښې ګل ګلاب وشرمومه
د ماتو مسلمانانو غازيانو د غيرت جذبه په جوش شوه، مات زړونه
يې جوړ شول لکه چه مړه را ژوندي شي د هر غازی په رګ رګ کښې
پښتني وينې منډه وکړه وبهيته ئې ودريدل، ملاله بيا د دوی تر منځ
وتلې او په دښمن ورغلې وه هر يو ورپسې ورمنډه کړه او د کفارو
په لښکرو ورغلل دښمن څه مقابله خو وکړه خو مسلمانان چه يو وار
په کلکه د الله تعالی نوم واخلي نو غرونه ورته هم نه ټينګيږي آخر
دښمن مات شو هغوی به په شا تښتيدل او ميړنو غازيانو به وهل
ډير ئې مړه کړل او ډير وتښتيدل توپې او ګولۍ ترې په ځای ځای
پاتې شوې ميوند فتح شو ـ دا چا فتح کړو؟.
دا پښتنې ملالۍ:
نه زرها ځلمي ورغلي تر کماله نه يوه نره ملاله ميوند واله

*Pre-reading*

Background

Samandar də Badrasho was from Peshawar, born in the early 1900's. He went as far as the fourth grade in a modern school in Nawshera. He worked as a broadcaster in Radio Peshawar, and wrote poetry which won him acclaim.

This essay recounts a battle that took place between the British and Afghans (Pashtuns) on the Maywand Plain (in southern Afghanistan) in 1880, and the part played in the battle by one of the Pashtuns' camp followers, the girl Malala. Malala's story is

probably only loosely based on fact, but whatever really happened, Malala is now a legendary Pashtana heroine. The more conventional hero of the battle was Sardar Mohammad Ayub Khan.

The essay of course gives the Pashtun point of view of the battle. Here is how Louis Dupree describes it (*Afghanistan,* p. 410-411):

> "But some months would follow before the British left Afghanistan, and they would suffer another disastrous defeat at the hands of the Afghans. On July 27, 1880, Mohammad Ayub Khan, fifth son of Amir Sher Ali, decisively defeated a British force under Brigadier G. R. S. Burrows in open battle at Maiwand, near Qandahar. of the 2, 476 British and Indian soldiers engaged in the fighting, 971 were killed in action, 168 wounded. In addition, the Afghans slaughtered 331 camp-followers and wounded seven; 210 horses were killed and 68 wounded (*Abridged Official Account of the Second Anglo-Afghan War,* 1908, p. 526.) At the battle of Maiwand a legendary Pushtun heroine, Malalai, used her veil as a standard, and encouraged the warriors by shouting the following couplet (*landay*) in Pashto (Shpoon, 1968, p. 48)
>
> Young love, if you do not fall in the battle of Maiwand,
> By God, someone is saving you as a token of shame."

(The landay appears in Samandar's essay as well; you can compare Shpoon's translation with your own, and with the translation given in the Notes for Detailed Rereading section.)

Dupree gives a footnote to all this (p. 411): it seems that this was the battle in which Dr. John H. Watson, as in "Elementary, my dear Watson", was wounded. See Arthur Conan Doyle's *A Study in Scarlet* for the details. It also seems that the Baker Street Irregulars at one point asked the Afghan government for permission to put up a monument to Dr. Watson, baffling the Afghans who couldn't understand why anyone would erect a monument to a fictional character, and on a site where the monument erectors' side lost...

Our copy of the essay appears in Ulfat's ليکوالی املا او انشا, page 146, with the notation that it comes from پښتنی.

*Key vocabulary*

Christian *n, M1.* [parangáy] پرنگی

towards *phr.* [pə lór] په لور

intensity, strength *n, M2.* [tāw] تاو

thirst *n, F1.* [tə́nda] تنده

cannon *n, F1.* [tópa] توپه

great God *phr.* [allā́h tālā́] الله تعالی

fire *n, M2.* [wor] اور

wrong *n, M1.* [bātə́l] باطل

*alternative of* باید [bāydə́] بایده

dishonor *n, F2.* [be nangí] بی ننگی

against, compared to *prep.* [dzə́ne] څنګې

*abbrev. for Ar.* [radiyálahu ʔanhú] رض

vein *n, M2.* [rag] رګ

pride *n, M2.* [ghorúr] غرور

arrow *n, M3.* [ghə́shay] غشی

stone *n, M3.* [kā̆ṇay] کاڼی

infidel *n, M1.* [kufā́r] کفار

bullet, ammunition *n, F2.* [gwəlә́y] ګولۍ

army unit *n, M irreg.* [laxkár] لښکر

plain, desert *n, F1.* [merá] مېره

brave, masculine *adj 1.* [nər] نر

panic *phr.* [wār khatā kég-] وار خطا کېږ-

raise der. tr. vb. [haskawʹ-] هسکو-

run away *phr.* [texta kawʹ-] تېښته کو-

withstand *der. int. vb.* [ṭingég-] ټينګېږ-

emotion *n, F1.* [jazbá] جذبه

female general *n, F1.* [jarnáyla] جرنيله

fighting man *n, M1.* [jangyaláy] جنګيالی

boiling *adj 1.* [jósh] جوش

*alternative of* نجلۍ *n, F2.* [jenə́y] جېنۍ

noise, shout *n, F1.* [chə́gha] چغه

explode *smp. irreg. int. vb.* [chwʹ-] چو-

spring *n, F1.* [chinə́] چينه

wrong *adj 1.* [kharā́b] خراب

entrenched *phr.* [khakh nā̆st] خښ ناست

drinking *n, M2.* [tskāk] څښاک

Scanning hints

1. Samandar's style, as exemplified in this essay, is straightforward and unadorned. He starts with a description of the conditions of the battle, then describes what happened. The narrative includes two traditional landays, which are set apart from the prose via punctuation. The essay ends with a couplet, also punctuated separately.

2. Before scanning, go through the passage, putting periods after each full verb. Samandar's sentences are very short.

3. One of the characteristics of Samandar's style is that he deletes parallel verbs - in particular و - , parallel to something in English like

*As for ammunition, they were well supplied; as for food and water, full.*

The deleted verbs have been added (and double-underlined) in the following sentences from the text (and see Note 5 below):

په هر ساز او سامان پوره وو، په خوراك څښاك موړ وو.

د مسلمانانو غازيانو سره اوبه خلاصې شوې وې، له تندې د هر
چا ژبې وتلې وې، مرۍ وچې وې، شونډې سپينې تبتيدلې وې، ...

*Post-reading*

١. د پرنگی پوځ څه وخت په میوند کې پروت ؤ؟

٢. ملالۍ له ټولو غازیانو نه څه وغوښتل؟

٣. امام حسین مسلمانانو ته څه شی پری ایښی ؤ؟

٤. ملاله د ښځو له منځ نه د چا په لور ور روانه شوه؟

٥. ملالۍ له لنډۍ نه پخوا غازیانو ته څه وویل؟

٦. ملالۍ دوهمه لنډۍ څه وخت شروع کړه؟

٧. د چا د غیرت جذبه په جوش راغله؟

***Notes for Detailed Rereading***

1. Misprint: تېگېړی should be تېنگېړی

2. هر ساز او سامان is literally ' every instrument and tool'; together in this context, they refer to the superior equipment of the British force.

3. A *ghazi* is a Moslem who participates in wars against non-Moslems. These wars may be for religious purposes, or to defend one's country.

4. The various words for 'red' in the description of the heat are parallel to English 'white-hot', and serve to emphasize how hot it was. The fire from the sky was from the sun, not from ammunition.

5. The term ملا تړلی is literally 'tied waist', and refers to the fighting man's having tied his sword on for battle. For practical purposes, the term is parallel to English 'able-bodied', i.e. the men who are able to fight.

6. Samandar doesn't want to take responsibility for saying that some Pashtuns considered retreating, so he uses the phrase داسې وایی 'it is said that ...' in the sentence

نو داسې وایی چه څینو ځېنو په شا وکتل.

7. ر ض is the abbreviation for the Arabic phrase [radwiyaláhu ʔánhu], inserted when one has mentioned someone close to Mohammad. The phrase translates roughly as 'May

God be content with him'. The lesson that Hussein taught is explained in a long *if-then* sentence. That sentence is repeated below, with western punctuation and a restored deleted verb:

چه که چیری هم د حق او باطل تر مینځ جنګ وی، د باطل ډېر زور وی، د حق ملګری په سرونو هم کم وی او په وسله هم (کم وی)، او لوږې تندی پری هم راشې، خو بیا هم بایده دی چه د ذلیل ژوند ځنې د عزت مرګ واخلی.

8. The sentence ورستو ددوی ښځی وې refers to the practice whereby women accompanied the soldiers into battle. These women were parallel to western 'camp followers' , but were considered virtuous and honorable.

9. The word نر is usually 'male' or 'masculine' as opposed to ښځه. Samandar's use of it as a feminine adjective, in the context of Malala's being like a lioness, suggests that Malala was man-like in her bravery....

10. The word شیرببره consists of the Persian word for lion - [sher] شیر - and the Persian word for tigress - [bábra] ببره. Later in the essay, Samandar uses زمرۍ , the Pashto word for lioness.

11. The phrases یه قربان and یه که ځار are preliminaries to the chanting or singing of a landay. Malala clearly sang rather than shouted.

12. The landays translate idiomatically as something like

'If you are not a martyr in Maywand,
By God, lover, they will keep you as [an example of] dishonor.'

and

'I am making a beauty mark from the blood of my lover
And I will shame the flowers in the green orchards [with my beauty].'

13. The final couplet was written by Samandar, to summarize Malala's heroism. It translates something like

'Not a thousand young men can approach the skill
Of one brave Malala of Maywand.'



ERIC

## Answers to Post-reading Questions

Selection A.

١. که بېګناه بندی خلاص شي د ګډوډو او پریشانو خوبونو تعبیر به وکړی.
٢. بېګناه بندی د طبیعت په رمزونو او اسرارو پوهیږی.
٣. بېګناه بندی له خپلو جفاکارو ورنو سره ښه سلوك کوی.
٤. دا بندی فکر دی.

Selection B.

١. تر څو چه د ښځو مخونه پټ وی.
٢. په کومه خبره کې چه ابتکار وی هغه د ادب پردې ته ډېر ضرورت لری.
٣. د لیکوال قافله د مچیو ده.
٤. له قافلې سره د سبا وږمو خوشبویی بار کړې ده.

Selection C.

١. د علم د زده کوونکو په ډله پسې یو مغرور بې علمه زلمی رهی نه شو.
٢. د خاندان د خولۍ سیوری هغه بې علمه زلمی ته د هما سیوری ښکاریده.
٣. شلم قرن له دې بې علمه زلمی نه د تحصیل دپلومه وغوښته.
٤. شلم قرن دې بې علمه زلمی ته وویل: «ای ناپوه او بېکاره ځلمیه! دا خولۍ ډېره زړه شوې او له موده لوېدلی ده.»

Selection D.

١. په ټولو پانو کې پاکه پانه د قران پانه ده.
٢. د چین ما چین ښاپېرو د لیکوال وطن ته د چایو پانه راوړې ده.

۳. که د چای پانه په وکیل ووهی رښتیا به درله د روغ کړی او دورغ به درله رښتیا کړی.
٤. پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کې د قران په پانو سترگی غړولې.

Selection E.

۱. لیکوال چه له کوره ووت هدیرې ته ولاړ.
۲. ښایی چه کوم غریب سړی او یا کومی کونډې به لگولې وه.
۳. د پوهو قومو پوهان د کور د ډیوې مثال لری.
٤. نه! هغه قوم چه پوهه نه لری د پوهانو قدر ورسره نه وی.

Selection F.

۱. د آرین د لسو خیلونو سر او سترگې زه وم.
۲. د باختر او بلخ په زرینه زانگو زه زنگیدم.
۳. د آمو او اباسیند تر منځ د بخدیا، پارتیا، پښتیا، اراکوزیا او گندهارا ځمکې دی.
٤. پښتنی جونو ته ما په مزه رباب واهه.
٥. زما په نامه ټول قام قبیل ښایسته او سرلوړی ؤ.
٦. د شریفانو، پاکانو او اصیلانو نسل آرین نومیږی.

Selection G.

۱. ډیر زیات علل او اسباب او ډیر زیات شرایط منځ ته راغلل چه د غوټۍ زندگی مرتبه شوه.
۲. د سحر نری شمال په غوټۍ باندې ورو ورو د شفقت لاس تیراؤ.
۳. څو چه غوټۍ خوله خندا ته جوړوله نمر د ماسپښین ځای ته راغلی ؤ.
٤. غوټۍ ځکه راضی وه چه د خدای د بی انتها ملك یوه ډیره وره برخه پرې ښایسته وه.
٥. بلبلان په غوټۍ وچغیدل او بوراگان په غوټۍ والوتل.



BEST COPY AVAILABLE

Selection H.

۱. د پرنگی پوځ د کال دولس سوه اوه نوی هجری د برات په میاشت کې په میوند کې پروت ؤ.

۲. ملالې له ټولو غازیانو وغوښتل چه د آزادۍ دښمن له خپل ملك نه وباسی.

۳. امام حسین مسلمانانو ته یو سبق پری ایښی ؤ.

٤. ملاله د ښځو له منځ نه د غازیانو په لور ور روانه شوه.

٥. ملالې له لنډۍ نه پخوا غازیانو ته وویل: ای پښتنو میړنو!

٦. ملالې دوهمه لنډۍ هغه وخت شروع کړه چه د دښمن په لور یې ور منډه کړه.

۷. د ماتو مسلمانانو غازیانو د غیرت جذبه په جوش راغله.

From the joke book:

د یوه ړانده د یوی ښځی سره نکاح وشوه. په ړومبۍ شپه ښځې ړانده ته وویل: افسوس چه تا زما ښایست او سپین رنګ لیدی شوی نو تا به په خپل قسمت ناز کولی.
ړانده وویل: کم بختې! که چېری ته واقعی ښایسته او سپینه وی نو سترګه ورو ماله ولی پرېښودلی؟

| | |
|---|---|
| افسوس چه [afsús che] if only *phr.* | کم بخته [kam bákhta] silly you *phr.* |
| ړومبۍ = لومبۍ | ناز کو- [nāz kaw-́] take pride *phr.* |
| سترګه ور [stərgawə́r-] with eyes *adj irreg.* | نکاح کېږ- [nikā́h keg-] get married *phr.* |
| ښایست [xāyə́st] beauty *n, M2.* | واقعی [wāqi] really *adv.* |



ERIC

# Unit 2: Articles

## Introduction

The pieces in this section are articles – [muqālá] مقاله in Pashto. The primary purpose of a *muqāla* is to inform or to argue a point: as such, it can be either a news article, an editorial, or a piece of research. *muqālas* are published in newspapers and journals.

We have shortened the articles, even the excerpts. There are factors which encourage Pashtun writers to be lengthy and repetitive: newspapers and journals pay by the word, and – not surprising given the literacy and education rates in Afghanistan, which severely limits the number of people capable of producing articles – are frequently hungry for material to fill their pages; and there is a traditional opinion that the longer a piece is, the higher the scholarship it exhibits.

The selections in this unit include a classic analytical article by Ulfat, an excerpt from a long article on the *atan*, an excerpt from a speech reprinted as an article, a humorous feature article from a newspaper, and some short news briefs.

رشتین به ډیرې زیاتې لیکنې کولې او متعدد کتابونه یې خپاره
شوی وو. یو ورځ یې ماته د خپل دغه مهارت په ارتباط وویل:
«بېگاه شپه مې غوښتل چه د زیری جریدې ته یوه لنده مقاله ولیکم.
خو د لیکلو په وخت کې رانه اوږده شوه او په پای کې کتاب ترې
جوړ شو.»

– ترېی

اوږدېږ- [ugdég-] become long *der. int. vb.*

په ارتباط [pə irtebāt] د ... *phr. w/* in relation

د زیری جریده [de zíri jaridá] *phr.* weekly bulletin

خپارېږ- [khpareg-] *n, M2.* be published

زېری [zéray] *n, M3.* message, *name of bulletin published in Kabul.*

متعدد [muta?díd] *adj 1.* numerous

مهارت [mahārát] *n, M2.* expertise

## Selection A

# احمق څوك دی؟

الفت -

هغه چه د دنيا په سود او زيان نه پوهيږی او د گټی په ځای تاوان
کوی خلق ورته احمق، بې عقل او ساده وائی...

د احمق او ساده يو مثال ملا نصرالدين دی چه په ظرافت او
مسخره توب هم شهرت لری.

ددغه مرحوم د حماقت دليل دخلقو په نزد دادی چه ده به په يوه
روپۍ څلور دانې هگۍ واخستلی هغه به ئې وخوټولی په رنگ به ئې
سرې او شنې کړې بيا به ئې د روپۍ پنځه دانې خرڅولې يعنی د
گټې په ځای به ئې تاوان کاوه او خپل مال به ئې ارزانه خرڅاوه...

مونږ په خرله وايو چه عقل بېل شی دی او د دنيا مال بېل شی دی.
څوك به عقل لری مال به نه لری، ځينو نورو سره به مال وی
او عقل به نه وی، مگر په عملی ډول د هر چا عقل او بې عقلی د دنيا
د گټی او زيان له مخې معلوموو او په حقيقت کښې گټې ته عقل وايو
او تاوان بې عقلی يا حماقت بولو.

زمونږ په خيال او تصور کښې دا نشی راتلی چه ملا نصرالدين به
دا کار ددې دپاره کاوه چه نرخ ارزانه کړی او خپل احسان په دغسې
تجارت کښې پټ کړی چه خريدار ئې په سخاوت هېڅ پوه نشی او
کرامت حماقت وگڼل شی.

که زمونږ گمان نېك او ښه وای ملا نصرالدين به مو د خير او فيض
خاوند گڼه او د هغه په عقل پورې به مو نه خندل.

هغه بل کال زمونږ په هيواد کښې قحطی او گرانی وه يوه لوی
سوداگر له هرات نه ډيره غله قندهار ته راوړه او په خلقو ئې د بازار



BEST COPY AVAILABLE

له نرخه ارزانه خرڅه کړه یعني گټه ئې ونکړه تاوان ئې وکړ دا کار هیڅ‌چا د هغه په بې عقلۍ حمل نکړ او په اخبارونو کښې ئې ډیره ستاینه وشوه.

هغه ته چا ملانصرالدین و نه ویلې بلکه د خیر او برکت خاوند ئې وباله. یو وخت زه د یوه شتمن سړی کره میلمه شوم د هغه په کاله کښې هر څه پاخه شو. مگر سکرک ئې نه درلود. د کاله خاوند څو غلمینې ډوډۍ خپلو همسایه گانو ته ولېږلې او هماغومره سکرکان ئې راوړه.

ما ته دا معلومه شوه چه دوی هره ورځ دغه راز تجارت کوی او پخپل کاله کښې جواری نه پخوی...

که دغه راز کار یو خوار او غریب وکړی حماقت دی.

مگر د بډایانو دپاره صفت دی...

که خواران او غریبان له اسراف او تبذیر نه کار واخلې ډېره لویه ناپوهی او نادانی ده. مگر بډایان په اسراف او تبذیر د جود او کرم خاوندان گڼل کیږی.

دغه عقل چه د خوار او غریب رهبری کوی د بډایانو دپاره نه دی په کار.

هو! عقل هغه امسا ده چه گوډ او ضعیف انسان ورته اړ دی. هغه چه دقوت او قدرت خاوند دی دغه د ضعیفانو وسله ورته نه ښائی.

د عقل عینکی د کمزوری نظر بینائی زیاتوی او د تېز نظر خاوندان ئی کله کله د ډول او فیشن دپاره په سترگو کوی.

که څوك عقل او هوښیاری لټوی د خوار او غریب په کور کښې دی ولټوی زورور او بډایان له دغه شی نه بی نیازه دی...

د زورورو په مخکښی عقل گونگ وی او ډېر مزخرف معلومیږی هر څه چه بی ضرورته وی او احتیاج ورته نوی بد ښکاری او قیمت ئی لږ

وی. که چیرې په انسان کښې ډیره نیمگړتیا او کمزوری نه وای او عقل ته ئې احتیاج نه درلودای عقل او پوهې به دغومره قدر نه درلوده...

یو بډای که په زرهاو روپۍ یوه شپه په قمار کښې بایلی احمق نه دی هغه چه د ورځې د شلو یا دیرشو روپو په سگرتو اور لگوی یا د سینما او تیاتر په تشه ننداره پیسې ورکوی څوك ورته احمق نه وائی، مگر که یو مزدور یوه ورځ کار ونکړی او وزگار وگرزی احمق دی ځکه چه ښځگا ته په کور کښې څه نلری او وږی پاته کیږی...

کله چه یو بډای یوه ښکلې نفیسه تابلو په ډېرو روپو اخلی یا ځینې انتیك او زاړه شیان د تش نمود دپاره په ډېر لوړ قیمت را نیسی هغه بل چه یو زوړ قلمی کتاب چه ذوق او صنعت پکښې خرڅ شوی په گرانه بیه اخلی او د هماغه کتاب چاپی نسخې ډېرې ارزانه لاس ته راځی ته ووایه چه دغه راز تاوانونه د څه دپاره دی؟

که غرض معنوی استفاده وی هماغه معنی په چاپی کتاب کښې هم شته معلومه شوه چه مال تاوانول د نامه او شهرت دپاره د شوق او ذوق دپاره دهوا او هوس دپاره حماقت نه دی صنعت دی او ستاینه ئې کیږی مگر پدی شرط چه سړی خوار او فقیر نه وی بډای وی او ډېرې پیسې ولری.

اوس خو به پوهیدلی یاست چه احمق څوك دی او مونږ چا ته احمق وایو؟

*Pre-reading*

Background

This piece is halfway between what we have defined as an article and what we have defined as an essay. Its length and analytic nature qualify it as an article; its language qualifies it as an essay.

The article was probably written in the fifties, and originally published in a newspaper. Our copy of the essay appears in نثرونه غوره, pp. 17 - 20.

Key vocabulary

compliment *n, M2.* [sɪfát] صفت
art *n, M2.* [sɪnʕát] صنعت
humor, wit *n, M2.* [zarāfát] ظرافت
wisdom *n, M2.* [áqəl] عقل
glasses *n, F1.* [aynáke] عینکې
reason, purpose *n, M2.* [gharaz] غرض
poor *adj 1.* [gharíb] غریب
famine *n, F2.* [qatí] قحطي
gambling *n, M2.* [qemār] قمار
strength *n, M2.* [quwát] قوت
*dialectal obl. form of [kor]* [kālá] کاله
weak *adj 2.* [kamzóray] کمزوری
inflation *n, F2.* [grāní] ګراني
lame *adj 1.* [gwəḍ] ګوډ
dumb, speechless *adj 1.* [gwəng] ګونګ
search *smp. tr. vb.* [laṭaw-́] لټو-
nonsensical *adj 1.* [muzakhráf] مزخرف
spiritual *adj 4.* [mānawí] معنوی
decoration *n, M2.* [namúd] نمود
show *n, F1.* [nəndārá] ننداره
shortcoming *n, F3.* [nimgəṛtyā] نیمګړتیا
jobless, idle *adj 1.* [wuzgār] وزګار
egg *n, F2.* [hagə́y] هګۍ
desire *n, F3.* [hawā] هوا
caprice *n, F2.* [hawás] هوس

kindness *n, M2.* [ihsān] احسان
stupid *adj 1.* [ahmáq] احمق
needy *adj 1.* [aṛ] اړ
gain, *n, F1.* [istifādá] استفاده
extravagance *n, M2.* [isrāf] اسراف
cane *n, F3.* [amsā] امسا
rich man *n, M1.* [baḍāy] بډای
price *n, F1.* [báya] بیه
foolish *adj 1.* [be ʔáqəl] بې عقل
loss *n, M2.* [tāwān] تاوان
mere, empty *adj 1.* [təsh] تش
view *n, M2.* [tasawə́r] تصور
sharp *adj 1.* [tez] تېز
generosity *n, M2.* [jud] جود
stupidity *n, M2.* [hamāqát] حماقت
customer *n, M1.* [kharidār] خریدار
blessing, benefit *n, M2.* [khayr] خیر
boil *smp. tr. vb.* [khuṭaw-́] خوټو-
good taste *n, M2.* [zawq] ذوق
increase *der. int. vb.* [zyātég-] زیاتېږ-
naive *adj 4.* [sādá] ساده
praise *n, F1.* [stāyə́na] ستاینه
generosity *n, M2.* [sakhāwát] سخاوت
cornbread *n, M1.* [sokṛə́k] سکړك
profit *n, M2.* [sud] سود
merchant *n, M1.* [sawdāgə́r] سوداګر

Scanning hints

1. Ulfat starts this article with a premise about stupidity:

هغه چه د دنیا په سود او زیان نه پوهیږي او د گټي په ځای تاوان کوي خلق ورته احمق، بې عقل او ساده وائي...

then argues against the validity of the premise by giving a number of examples. In almost all the examples, he shows that a particular action is considered stupid under one set of circumstances, and benevolent/generous/appropriate under another set of circumstances.

2. Synonyms:

| | | |
|---|---|---|
| خیال او تصور | خیر او فیض | اسراف او تبذیر |
| سخاوت او کرامت | خیر او برکت | ناپوهي او نادانې |
| نېك او ښه | خوار او غریب | جود او کرم |

3. Guess:

تیاتر سینما انتیك فیشن تابلو

*Post-reading*

۱. د ملا نصرالدین د حماقت دلیل څه شی و؟

۲. په عمل کې د هر چا عقل د څه شی له مخې معلومیږی؟

۳. کله چه یوه سوداگر له هرات نه غله راوړه او په قندهارکې یې
د بازار له نرخه ارزانه خرڅه کړه خلکو هغه ولې احمق و نه باله؟

٤. د عقل همسا ته څوك اړ دی؟

٥. که څوك عقل او هوښیاری لټوی، نو چیرته یې باید ولټوی؟

٦. که یو مزدور یوه ورځ کار ونه کړی خلك ولی ورته احمق وایي؟

۷. بدایان انتیك او زاړه شیان د څه دپاره په ډیرو پیسو اخلی؟

## *Notes for Detailed Rereading*

1. The word مرحوم is 'forgiven' in Arabic, referring to God's forgiveness to someone who has died.

2. داني is a grammatical quantifier, e.g. the word 'piece' in 'a piece of bread' or a piece of chalk'. Pashto, like English, usually just counts things with numbers, e.g. 'four eggs'.

3. The phrase د دنيا مال is an idiom meaning 'worldly goods' (as opposed to heavenly attributes).

4. The sentence below is convoluted, even for native speakers.

زموږ په خيال او تصور کښې دا نشى راتلى چه ملا نصرالدين به دا کار ددې دپاره کاوه چه نرخ ارزانه کړى او خپل احسان په دغسې تجارت کښې پټ کړى چه خريدار ئې په سخاوت هيڅ پوه نشى او کرامت حماقت وګڼل شى.

The idea expressed is something like:

'It wouldn't occur to us that Mullah Nasruddin lowered the price and hid his kindness in this business, in such a way that his customers would be unaware of his generosity and instead consider it stupidity.'

5. سکرك is cornbread, a flat round loaf of corn flour and water, baked in a tandur. The whole point of Ulfat's example here is based on the Pashtun opinion that cornbread is of much lower quality and desirability than wheat bread.

6. The phrase نه دى په کار is an idiom. It translates as 'is irrelevant for', or 'is not needed by'.

7. Throughout the essay, Ulfat uses خاوند coupled with attributes. In these contexts, it translates best as 'a man of ...' or 'the possessor of ...'

8. The phrase معلومه شوه چه is used here by Ulfat as a logical transition. It translates as 'It [thus] becomes obvious that ...'

## Selection B

- علی محمد منگل

دمه ډول دی بڼه شه    دا ډول دې ولی غلی کی
حکیم مو ښه گډیږي    نیازمین صورت یې سترې کی

چې ډول وهی خوانان ټولیږي    یا به لښکر وی یا غدی، د ژنیو ځینه

# پښتنی ملی اتڼ

### په منگلو کې اتڼ (گډیدا) په څو ډولو دی؟

پښتنی ملی اتڼ ډیر ځندن دود او ملی عنعنه ده چې د گران هیواد په زیاتو برخو په تېره د پښتنو په ټولو سیمو کې دا ملی عنعنه په زیاته مینه سره تر سره کیږي، افغانان دا ملی دود د جنگ، اختر، واده، خپلواکی، په ورځو، جشن او پسرلی په لومړی ورځ کې په خاصو مراسمو او ډولونو سره په خوښی، تر سره کوی...

په حقیقت کې اتڼ یوه ځند نه ملی لوبه ده...په گران هېواد کې ملی اتڼ یوازې نرینه نه کوي، بلکې د پښتنو پیغلې، جنکی، او ښځې یې هم د ښادیو او ییدونو (اختررونو) په ورځو کې په ډېره مینه او خوشالی، سره کوي، ددې له پاره دغه څو پامونه (بیتونه) وگوری چې په موضوع باندې رڼا اچوی:

خت مې گلبدن گونځې یې ورای نه شم
زه چې گډه نه شم د سلیم ښځه راوری نه شم
یمو (زما) شېرین جانانه !
لیلو (لیلی) گډیږي غورځوی سره دسمالونه
خت مې ځنځیري دی، زه یې ورای نه شم
یمو (زما) ادکې مورې اتڼ کرای نه شم

### په واده کی اتڼ ځنکه پیل کیږي؟

موږ دلته د واده په وخت کې د اتڼ په شروع کیدو باندې غږیږو

چې څنګه په کلو او باندو کې د اتڼ دود په دې ښادی کې د ولس
تر منځ تر سره کیږي.

په منګلو کې د چارشنبې په ورځ د هلکپلار یا تره او وورنه خپلو
کلیوالو ته خبر ورکوي چې سبا د زیارت ورځ ده موږ د خپل زوی
او وورور دپاره د واده په نیت ورا جوړوو، زموږ په ښادی کې خو
به تاسې ګډون کوئ کله چې کلیوال خبر شی د چارشنبې په ورځ خپلې
تورې څنې په وییو (هګیو) مینځی، د غوا په زېړو غوړیو یې غوړوی،
د پنجشنبې (زیارت) په ورځ د تنکی بریځر په وخت کې خپل ملی
لباس او جامې اغوندي، ځوانان د ختونو (کمیسونو) د پاسه د لیس او
چرمینو نه جوړ شوي سره، شنه او زرغونه واسکټونه چې له بخمل نه
جوړ شوي اغوندي، د واسکټونو د پاسه د پنځو ګمټو (سلوکرټوسو)
بندونه غاړې ته اچوی، او تر ملا یې تړی، خپل پنځه ډزې، لیسنی او
غوږبور ټوپك متونو ته اچوی، ډول ډول تورې، نسواري سپینې او خرې
لونګی په سر کوي، د ټکندې یاستاغ بریځر په وخت کې ډول وهونکی
د کلی تر شا یا منځ کې درمند او میدان ته ځان رسوي او په ډېر ټاس
او خراپ سره د چوغې (چیغې) ډول وهی، ځوانان یا د هلك د کلی
وروڅی ځوانان چې د ډول بغ واوری له خپلو کورونو نه راوزی او د اتڼ
میدن ته چې ډول وهونکی په کې ولاړ دي ځانونه ور رسوی، ځوانان چې
د اتڼ میدان ته داخل شی د چوغې (چیغې) د ډول له غږ سره پوړته
غورځی او ټوپونه وهی، نو یونیم تن د توپکو ډېډې (ډزونه، بارونه،
وارونه) کوي، د څه شېبو له پاره ډول وهونکی د چوغې (چیغې) ډول
ددې له پاره وهی چې ځوانان را غوند شی، کله چې ځوانان ټول له
کورونو نه د اتڼ میدان ته راورسیږي په دې وخت کې ډولچی د ډول
غږ دچوغې (چیغې) له حالت نه د اتڼ دپاره اړوی او ځوانان د میدان
په منځ کې دوی ډلې کیږي، یوه ډله د میدان په یوه سر کې په
کتار سره دریږي، او بله ډله د میدان په بل سر کې په یوه کیله
او کتار سره دریږي، لاسونه سره ورکوي،یو وارې یو کتار په لوړ
آواز د اتڼ بیت وایی بیا یې بل کتار د اتڼ بیت په لوړ آواز د دوی
د پام او اتڼ د بیت د ورګرزولو او مخی کولو له پاره وایی...

## *Pre-reading*

### Background

This piece is excerpted from a long article on the Pashtun national dance which appeared in *Kabul* in August, 1980. The excerpt focuses on the *atan* as it is danced among the Mangal tribe in Paktyā.

### Key vocabulary

body *n, M2.* [surát] صورت

band of robbers *n. F2.* [ghadə́y] غدی

gather *der. int. vb* [ghwənḍég-] غونډېږ-

line *n, M2.* [katā̃r] کتار

quality *n, M2.* [kayifiyát] کیفیت

line *n, F1.* [kíla] کیله

twenty-cartridge group *n, F1.* [gamṭá] گمټه

gather in material *n, F1.* [gwə́ndza] گونځه

outfit, costume *n, M2.* [lebā̃s] لباس

turban *n, F2.* [lungə́y] لونګی

gold/silver lace or braid *n, M2.* [lays] لیس

square *n, M2.* [maydā̃n] میدان

competition *phr.* [məkhi kawə́l] مخې کول

mommy *n, F1.* [adáka] ادکه

style *n, M2.* [andā̃z] انداز

velvet *n, M2.* [bakhmál] بخمل

decorative thread *n, F1.* [chərmá] چرمه

alarm, summons *n, F1.* [chígha] چیغه

shirt, blouse *n, M2.* [khət] خت

shoulder-length hair *n, F1.* [tsə́ṇe] څڼې

ancient *adj 1.* [dzənḍán] ځنډن

over, on top of *phr.* [de pā̃sa] د پاسه

enter *der. int. vb.* [dākhelég-] داخلېږ-

medium green *adj 1.* [zarghún] زرغون

happy occasion *n, F2.* [xādí] ښادي

### Scanning hints

1. This article starts out with the refrain from the song sung while dancing the *atan*. It continues with a sample *landay*, then goes into a prose discussion of the national *atan*. The point in the second paragraph is illustrated with a six-line poem. We have replicated the original's format as closely as possible, including bold-face for sub-titles.

2. Mangal uses a lot of dialectal words, and when he uses one that he thinks will not be understood, he puts the more common word in parentheses. (Sometimes the less common word is in parentheses.) The unusual words are listed below, with their more widespread equivalents and English glosses:

| English | Common Pashto word | Mangal's word |
|---|---|---|
| torn, broken | څيري | [bə́zha] بژه |
| couplet | بيت | [pām] پام |
| early morning | سهار | [tankay bridzár] تنکی بريځر |
| shot (from a gun) | ډزه | [ḍíḍa] ډيډه |
| young man | ځوان | [zhə́ṇay] ژڼی |
| ??? | | [laysaní] ليسنی |
| popular | منلی | [nyāzmín] نيازمين |
| late morning | څاښت مهال | [stāgh bridzár] ستاغ بريځر |
| member of a ورا | ورابانی | [wrutsáy] وروڅی |
| egg | هگی | [wey] ويی |

*Post-reading*

١. پښتانه د ملی اتڼ دود څه وخت تر سره کوی؟

٢. اتڼ يوازي نارينه کوی؟

٣. ځوانان په واده کي د ختونو د پاسه څه اغوندی؟

٤. ډول وهونکی د بريځر په وخت کي چېرته ځی؟

٥. ځوانان چه د اتڼ ميدان ته داخل شي څه کوی؟

٦. ځوانان چېرته دوي ډلي کيږی؟

٧. د اتڼ بيت دواړه کتاره يو ځای وايي او که يې يو واري يوه ډله وايي او بيا يې بله ډله؟

BEST COPY AVAILABLE



ERIC Full Text Provided by ERIC

### *Notes for Detailed Rereading*

1. A free translation of the refrain of the *atan song* is as follows:

Musician, may your drum be torn!
Why did you silence that drum?
Our Hakim was dancing well,
His lovely body was getting tired...

The couplet given after the refrain is a *landay*. During an *atan*, the dancers alternate the refrain with *landays* of their choice. The *landay* can be anything, but well-constructed *atans* include *landays* that have a word or an idea in common with the refrain. A written article of course cannot convey the very distinct rhythm of the music that accompanies the *atan*, or the way in which the refrain and landays are chanted.

2. A ډم in rural Afghanistan is a barber, and one of the barber's duties is to act as musician, which includes beating the drum for the *atan*. A ډم in Afghanistan does not enjoy particularly high social status. In the Northwest Frontier Province of Pakistan, however, the term refers to minstrels, who as composers and poets enjoy much higher status.

3. تر سره کېږ- is an idiom; it translates best as 'be carried out' or 'be accomplished'.

4. When the author uses the phrase گران هیواد in the first paragraph, he means 'our dear country', in this case Afghanistan.

5. The phrase ادکي موري in the poem about the girl and her blouse is a vocative phrase ('O dear mother'). Masculine vocatives end in ـه; when a feminine noun ending in ـه occurs in the vocative, the ending is ي .

6. غږيږو: the author is referring to himself in the plural.

7. The هلك mentioned in the discussion of weddings is the groom.

8. د زيارت ورځ is the 'day of shrine', i.e. Thursday. See Shinwara's essay in Unit 1.

9. The phrase

سبا د زيارت ورځ ده موږ د خپل زوی او ورور دپاره د واده په
نيت ورا جوړوو، زموږ په ښادی کې خو به تاسې ګډون کوئ

is a direct quote, i.e. the wording of the invitation.

10. The verb -مينځ , 'wash', is a simple transitive verb. There is another verb, also 'wash', which is a doubly irregular, stress-shifting verb with two possible past stems. The alternatives and their forms are given below:

| | | |
|---|---|---|
| *Pres. Imp.* | [mindzə́]-مينځ | [premindzə́]-پرېمينځ |
| *Pres. Prf.* | [wə́mindz-]-و مينځ | [prémindz-]-پرېمينځ |
| *Past Imp.* | [mindz(ə́l)-]-مينځل | [premindz(ə́l)-]-پرېمينځل *or* [prewə́l-] -پرېوول |
| *Past Prf.* | [wə́mindz(əl)-]-و مينځل | [prémindz(əl)-]-پرېمينځل *or* [préwol-] -پرېوول |

11. An 'eared gun' is a rifle from British occupation times, with a sight (the 'ear') on the barrel.

12. A درمند is a stack of harvested grain, corn, etc. Here, it probably refers to a communal place in the village where the grain is stacked.

13. حالت usually means 'state', status' or ;'situation'. In this context, it refers to the drum's rhythm; the drummer shifts from a rhythm which signifies that everyone should come to him, to the unique *atan* rhythm.

14. The words تاس and خراپ are onomatopes, reflecting the sound of the drum and the dance.

## Selection C

# د جدی شپږمه

# د افغانستان د معاصر تارخ توره ورځ

- پروفیسر عبدالرسول امین

... د ۱۳۵۸ کال د جدی په شپږمه نیټه زمونږ د ملت د تاریخ په پاڼو کې یوه نه هیریدونکې تراژیدی ثبت شوله او نن موږ د هماغې تورې ورځې د غندلو له پاره، د خپل میړنې مسلمان او مجاهد اولس د تاریخی میړانې د لمانځلو له پاره را ټول شوي یو. موږ افغانانو تل د ګاونډیتوب او د یو او بل په کورنیو چارو کې د نه لاس وهنې پربنسټ له ګاونډیو هیوادونو سره اړیکې ساتلې وې او په دې لړ کې مو له روسانو سره هم ورته چلند کړی و، او هیڅکله مو د هغوی له پاره کومې سرحدي او امنیتی ستونزې نه وې پیدا کړې...

خو روسانو ددې ټولو عینې واقعیتونو پر خلاف د ښه ګاونډیتوب په غولوونکو شعارونو، زموږ له پاره یوازې ستونزې او بد مرغۍ پیدا کړي دي...

د ۱۳۵۸ کال د جدی په شپږمه نیټه یې سرو پوځونو پر افغانستان یرغل وکړ او د یو مستقیم تیري له لارې یې خپل یو لاس پوڅی رژیم د واکمنۍ پر ګدۍ کینولو... له دغې خونړۍ پیښې سره سم زموږ مسلمان، میړنی او مجاهد ملت د تاریخ یو بل امتحان ته چمتو شو. د جهاد بیلا بیلو سنګرونو ته یې ور ودانګل او له خپل دین، خپل هیواد او خپل ناموس څخه د ساتنې مورچلې یې جوړې کړې. موږ دې ته مجبور کړی شو چه هر څه پریږدو او تورې را واخلو، دا ځکه چې ددین او وطن غوښتنې مو مخې ته ولاړې وې...

اوس چې روسان یوازې په فزیکی لحاظ له افغانستان څخه وتلي دي، په حقیقت کې د هغوی مداخلو او تجاوز نوی ډولونه او لا پیچلی بنه پیدا

کړې ده. هغوی اوس هم په افغانستان کې د خپل لاس پوځي رژيم ملاتړ کوي.د کابل مزدور رژيم ته نه يوازې هر اړخيزې مرستې ورکوي، بلکه اوس هم په ټول اولس کې ناکوښې رواني دي او تر اوسه پورې لا شوروی، زموږ د مسلمانو او وطن دوستو خلکو د ارادې او غوښتنې په مخالف لوری ولاړ دی.

افغانان به ترهغې پورې خپل سپيڅلي اسلامي جهاد ته ادامه ورکوي چې په افغانستان‌کې يې دخپلې خوښې يواسلامي حکومت نه وي‌جوکړی.
دا د هغوی د جهاد د پيل او دوام يو اساسي ټکی دی: روسان په نړيواله ټولنه کې، د افغانستان په وړاندې ځان تش د انسانيت او اخلاقی گناه په نوم نه شي تبرئه کولی. هغوی بايد چې اوس د خپلو گوډاگيانو حمايت پريږدي، او افغانان خپلې خوښې ته پريږدي، چې پخپله خوښه په افغانستان کې يو اسلامي حکومت منځ ته راولی. روسان د افغانستان د ټولنې د تباهۍ اساسي مسؤولين دي او لازمه ده چې هغوی افغانانو ته د ټول جنگ او ټولې تباهۍ بشپړ تاوان ورکړي...

اوس چې افغانستان د برې په وروستي پړاو او د بشپړې آزادۍ په درشل کې دی، موږ هيله کوو چې د افغانستان ټول قهرمان جهادي تنظيمونه به په خپلو کې لا متحد او متفق شي. دغه اتحاد به زموږ د بشپړ وروستنې برې ضامن وي.

لازمه ده چې د دوست او مسلمان هيواد پاکستان د هغو هر اړخيزو مرستو له امله مننه وکړو چې ددی‌هيواد خلکو او حکومت زموږ سره کړی دی.

موږ هيله لرو چې په راتلونکي کې به دغه دواړه اسلامي هيوادونه د وروروليٖ د اوسنې ثبوت د واقعيت په اساس د يو او بل د ملاتړ په حيث دورونو غونډې ژوند وکړي. موږ افغانان د دوست دوستې او د دښمن ترخې تجربې نه هيروو، موږ له نورو دوستو هيوادونو څخه هم د زړه له کومې مننه څرگندو چې د هجرت د ستونزو په برخه کی يې مرستې کړې او زموږ د اسلامي جهاد سره يې ملاتړ کړی دی او کوي يې.

BEST COPY AVAILABLE

## *Pre-reading*

### Background

This article is the transcription of a speech read by Professor Rasul Amin at a conference on the tenth anniversary of the Soviet invasion of Afghanistan. We have deleted portions of the speech which do not have to do with the subject matter.

Rasul Amin is the director of WUFA, an organization funded by Pakistan and some of the western countries to provide an outlet for scholars resistant to the communist government in Afghanistan. WUFA has been headquartered in Peshawar, and has published a quarterly journal خپلواکي (in which this article appeared, in the October 1989 issue), the journal WUFA in English, and a newsletter. Professor Amin was educated in Pakistan, and was a professor at Kabul University until 1979. He was imprisoned for a short time, and after his release he fled to Peshawar. See Unit 6 for a sample of his less formal writing.

### Key vocabulary

direct *adj 1.* [mustaqím] مستقیم
responsible *adj 1 irreg.* [masúl] مسول
support *n, M2.* [mlātáṛ] ملاتړ
cruelty *n, F1.* [nākóba] ناکوبه
threshold *n, M2.* [darshál] درشل
continuation *n, M2.* [dawā́m] دوام
pure, sacred *adj 2.* [spetsə́lay] سپیڅلی
problem *n, F1.* [stúnza] ستونزه
border *n, M2.* [sarhád] سرحد
stronghold *n, M2.* [sangár] سنگر
slogan *n, M2.* [sheʔár] شعار
guarantor *n, M1.* [zāmín] ضامن
condemn *smp. tr. vb.* [ghənd-́] - غند
deceiving *adj 2.* [ghulawúnkay] غولوونکی
amity *n, M2.* [gāwanḍitób] گاونډیتوب
throne *n, F3.* [gadə́y] گدۍ
interference *n, F1.* [las wahána] لاس وهنه

ethical *adj 4*.[akhlāqí] اخلاقي
security *n, M2.* [amniyát] امنیت
success *n, M3.* [baráy] بری
total *adj 1.* [bə́shpəṛ] بشپړ
basis *n, M2.* [bansə́ṭ] بنسټ
form *n, F1.* [bə́ṇa] بڼه
on the contrary *phr.* [pə khelā́f] په خلاف
acquit *der.tr.vb.* [tabreʔá kaw-]-تبرئه کو
aggression *n, M2.* [tajāwə́z] تجاوز
experience *n, F1.* [tajrubá] تجربه
invasion *n, M3.* [tiráy] تیری
point *n, M3.* [ṭə́kay] ټکی
be recorded *der. int. vb.* [sabtég-] - ثبتیږ
proof *n, M2.* [subút] ثبوت
attitude, approach *n, M2.* [chalánd] چلند
ready *adj. 4* [chamtú] چمتو
support *n, M2.* [hemayát] حمایت

help, support *n, F1.* [mrásta] مرسته

world community *n, F1.* [nuṛəywāla] نړیواله

migration *n, M2.* [hɪjrát] هجرت

attack *phr.* [yarghál kaw-́] یرغل کو-

respect *smp. tr. vb.* [lmāndz-́] لمانځ-

united, aligned *adj 1.* [mutahéd] متحد

interference *n, F1.* [mudākhalá] مداخله

*Scanning hints*

1. The author begins with a statement of the purpose of the speech. He then briefly touches on the treachery of the Russian/Soviet invasion, and the forced Afghan response. He comments that the Russian withdrawal and their acknowledgement of error is not sufficient. He concludes by thanking Pakistan and other western countries for their help.

2. The author alternates between زمونږ and زموږ, and between په and پر

3. Guess: رژیم تراژیدی

### *Post-reading*

۱. کومه غونډه چه لیکوال خبرې پکښې وکړې هغه د څه دپاره جوړه شوې وه؟

۲. د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت څه وخت د تاریخ یوه بل امتحان ته چمتو شو؟

۳. اوس چه روسان له افغانستان نه په فزیکي لحاظ وتی دی، د هغوی مداخلو او تجاوزونو څه بنه پیدا کړې ده؟

٤. د افغانانو د جهاد د پیل اساسی ټکی کوم دی؟

٥. روسان باید افغانانو ته څه شي ورکړی؟

٦. اوس چه افغانستان د بری په وروستی پړاو کې دی، د افغانستان ټول جهادی تنظیمونه باید څه وکړی؟

۷. افغانان د پاکستان د دولت او خلکو د څه شي مننه باید وکړی؟

### *Notes for Detailed Rereading*

1. The original seventh paragraph reads as follows:

لازمه ده چې د دوست او مسلمان هیواد پاکستان له دولت او خلکو
څخه د هغوی د هر اړخیزو مرستو له امله مننه وکړو چې ددی
هیواد خلکو او حکومت زموږ سره بشري او اقتصادي مرستې کړي
دي او زموږ سپیڅلي جهاد، چې د واړو هیوادونو مشترك هدف دی،
ملاتړ یې کړ دی.

There has been some kind of printing mixup, as the last three lines above don't make sense. It is impossible to reconstruct what Professor Amin wrote: our correction of the paragraph to

لازمه ده چې د دوست او مسلمان هیواد پاکستان له دولت او خلکو
څخه د هغوی د هر اړخیزو مرستو له امله مننه وکړو چې ددې
هیواد خلکو او حکومت زموږ سره کړی دی.

makes sense, but probably varies somewhat from what Professor Amin had in mind.

2. In the first paragraph, Amin uses the word اړیکي, 'connection, relation', which is not a common Pashto word. اړیکي is a masculine noun, but – probably because its synonym رابطه is feminine, it's considered feminine as well – hence the feminine ساتلې وي immediately after.

3. In the first paragraph, the nouns سرحد and امنیت appear with final ی's. In this context they are being used to modify ستونزې – 'border and security problems' – and so have been given the Persian adjective ending.

4. The phrase لاس پوڅی in the third paragraph translates literally as 'hand raised', and carries the connotation that something wild has been domesticated and in the process become tame and passive. It is the standard translation for 'puppet' as in 'puppet government'.

5. In the third paragraph, سنګر and مورچله appear. سنګر translates as 'stronghold' – an area, usually a natural formation like a cliff or cave or river bank – that has been fortified with guns, etc. مورچله is used both for 'stronghold', and also in hunting contexts for 'blind', e.g. something you build to hide behind so whatever you're hunting doesn't see you. مورچله, by the way, is usually *n, M2.*

6. The verb مجبور کېږ- is one of the typical derivative intransitive verbs that translates as a passive, e.g. 'be forced'. Amin uses the transitive form مجبور کو-, which translates literally as something like 'cause to be forced to...' Amin uses the form deliberately, to emphasize his point that the Soviets forced the Afghan response.

7. Amin uses شوروی as a short form for اتحاد شوروی, exactly parallel to English use of the term 'Soviets'. Afghans, like Americans, used the terms for 'Russian' and 'Soviet' interchangeably, before the dissolution of the Soviet Union.

8. The phrase د یو او بل د ملاتړ په حیث in the last paragraph translates as 'in support of one another'.

9. The phrase په درنښت which ends the speech/article is literally with respect. It's customarily used to signal the end of a piece of writing or a speech, much the way 'sincerely' or 'yours truly' is used to end letters in English.

From the joke book:

یو ډیر غټ سړی د یوه اوچت بلډنگ د نهم منزل نه لاندی
وغورزیدو. کله چه په هوش کښی شو، نو په هسپتال کښی پروت ؤو.
د نرس نه یې تپوس وکړ: زه په خیریت سره یم که نه، مسټر؟
نرس ځواب ورکړو: ته خو په خیریت سره ئی. لیکن تا لاندی
چه کوم څلور سړی راغلی وو، هغه مړه دی.

| | |
|---|---|
| however, but *conj.* [lékɪn] لیکن | heavy *adj 1.* [ghaṭ] غټ |
| floor, level *n, M2.* [manzə́l] منزل | fall *smp. int. vb.* [ghurdzég-] غورزېږ- |
| consciousness *n, M2.* [hush] هوش | |

English words: هسپتال نرس مسټر بلډنگ

## Selection D

# ټوکه نده واقعیت دی

- م. ن سالارزی

وایی کله چی د شوروی اتحاد پخوانی جمهور رئیس میخائیل گرباچف د امریکا د جمهوررئیس بوش په بلنه امریکا ته سفر کړی و، بوش د گرباچف ډیر توصیفونه وکړل او گرباچف یی د نړۍ والی سولی د تامین، د شرق او غرب تر مینځ د اړیکو دښه والي اصلی‌محور وگانه، جمهوررئیس بوش جمهوررئیس گرباچف ته وویل دا چی اوس د شرق او غرب تړ منځ سوړ جنگ پای ته رسیدلی او د دوو ابر قدرتونو د مخامخ کیدلو خطر هم له مینځه تلل دی اوس د سپینی مانۍ واك لرونکی تا ته ډیر دقدر په سترگه گوري او امریکائیان تا خپل نژدی او صمیمي دوست گڼی. نو زما یوه هیله ستا څخه دا ده چی نن به رسمي میلمستیا څخه تیر شوو، زه غواړم چی ستا په فریمایش درته نن خواړه پاخه کړو، گرباچف ورته وویل: اشنا زه خو هسی هم امریکا ته په خدمت کولو او د سوسیالیزم دښمن معرفی شوی یم ددی لپاره چه نړیوالو ته د پانگوالو ځان ضد وښایم نو ځما ارزو دا ده چی د یو څو لویو امریکایی پانگوالو د زړونو څخه راته کباب تیار کړی، بوش په ځواب کی وویل چه یاره! مونږ لوی امریکایی پانگوال که پانگی ډیری لرو ولی زړونه مو ډیر کوچني دی مونږ د خپلو شخصي او ځانگړو گټو او اهدافو پرته په وړیا توگه یو ډالر هم چاته نه ورکوو، مگر کله چی په یوه مسئله کښی زمونږ ځانگړی گټی او اهداف موجود وی هغه وخت مو زړونه ډیر لوی (وی) د پانگی قربانی څه کوی چی د ځانونو قربانۍ ته هم حاضریږ، ستا د غوښتنی لپاره که یو شمیر پانگوال قربانۍ هم شي مهمه نده ځکه تاسو خو نشو خپه کولای، که تاسو خپه کړو نو په نړۍ کښی زمونږ ځانگړی گټی او اهداف د خطر سره مخامخ کیږي نو مجبور یوو چی دخپلو گټو او اهدافو د ساتلو لپاره څو تنه قرباني ورکړو او تا خوشحاله

وساتو چی په نتیجه کی د گرباچف د غوښتنی سره سمه غذا تیاره شوه.
کله چه جمهور رئیس بوش مسکو ته په سفر لاړ، نو جمهوررئیس،
گرباچف ددی لپاره چی کسات یی ادا کړی وي د جمهوررئیس بوش
څخه یی د خپلی خوښی د غذا د تیارولو د فرمایش غوښتنه وکړه،
جمهوررئیس بوش وویل خوږه یاره! که نن راته د یو څو تنو لویو
لویو کمونستانو د مغزو څخه غذا تیاره کړی نو ډیر به خوښ شم.
جمهوررئیس گرباچف د بوش د غوښتنی سره سم د غذا د تیارولو
لارښوونه وکړه، ولی د ډوډی د تاکلي وخت څخه څو ساعته زیات تیر
شوو، اما غذا تیاره نشوه. جمهوررئیس بوش، گرباچف ته وویل چی
یاره د ډوډی د تاکلي وخت څخه څو ساعته زیات تیر شوي، ډوډی نده
تیاره؟ پدی وخت کی جمهور رئیس گرباچف یو آه وکړ او وی ویل
عفوه غواړم د هغه وخت څخه چی تاسو د غذا فرمایش ورکړی دی
تر اوسه پوری مونږ یو زیات شمیر غټ غټ کمونستان حلال کړل خو
په ډیر تاسف سره باید ووایم چی د یوه په سر کی هم ماغزه نه وو،
کاشکی چه تاسو دکمونستانو د ژبو څخه د غذا فرمایش ورکړی وی،
ځکه د کمونستانو ژبی ډیرې اوږدی دي ولی په سرونو کښی یی بالکل
ماغزه نشته...

*Pre-reading*

Background

This article was published in January 1992, some months after the dissolution of the Soviet Union and the resignation of Mikhail Gorbachev as its president. It appeared in *Mujahid Wolas Newspaper*, a publication of the Afghan Mujahid Information Centre in Oslo.

### Key vocabulary

private *adj 2.* [dzāngəṛay] خانگړی
peace *n, F1.* [sóla] سوله
improvement *n, M3.* [xəwǎlay] ښه والی
beg pardon *phr.* [ʕáfwa ghwāṛ-] عفوه غوارٍ-
food *n, F3.* [ghezǎ] غذا
order (for food) *n, M2.* [farmāísh] فرمایش
disappear *phr.* [lə mándza dz-] له مینځه ځ-
axis *n, M2.* [mehwár] محور
brain *n, M2.* [maghz] مغز
international *adj 1.* [naṛəy wǎl] نړی وال
authority *phr.* [wāk larúnkay] واك لرونکی
however, but *conj.* [wále] ولی

request, desire *n, F3.* [arzó] ارزو
relation *n, M3.* [āṛikáy] اړیکی
goals *n, M2. Ar. pl.* [ahdǎf] اهداف
at all *phr.* [bélkwəl] بالکل
capitalist *n, M1.* [pāngawǎl] پانگوال
capital *n, M3.* [pānga] پانگه
freely *phr.* [pə waṛyǎ toga] په وړیا توگه
regret *n, M2.* [tā?asúf] تاسف
accomplishment *n, M2.* [tāmín] تامین
compliment *n, M2.* [tawsíf] توصیف
scheduled *adj 2.* [ṭākólay] ټاکلي
let alone *phr.* [tsə́ kawe che] څه کوی چی

### Scanning hints

1. This article is a 'report' about incidents in the relationship between Presidents Bush and Gorbachev. The hearts and brains mentioned in the article are literal, not figurative.

2. The piece has apparently not been edited, and there are several gross misprints and arbitrary punctuation marks. Go through the piece, inserting periods after full verbs and colons after the occurrences of وویل . The conjunction چې is used twice merely as a signal that the sentence has ended.

3. Guess:

بوش دالر سپینی مانی سوړ جنگ
سوسیالیزم کمونست میخائیل گرباچف

### *Post-reading*

۱. جمهور رئیس بش جمهوررئیس گورباچوف څنګه سړی وګانه؟

۲. بش له ګرباچوف نه څه هیله وکړه؟

۳. ګورباچوف له بش نه څه آرزو وکړه؟

٤. کله چه بش مسکو ته ولاړ ګورباچوف د هغه د خپلې خوښې د غذا د تیارولو د فرمایش غوښتنه ورنه وکړه؟

٥. بش ګورباچوف ته څه وویل؟

٦. ګورباچوف غټ غټ کمونستان ولی حلال کړل؟

۷. کمونستانو ماغزه لرل؟

۸. د کمونستانو ژبې څنګه وې؟

### *Notes for Detailed Rereading*

1. Watch for major typographical errors. The inserted (وی) in the nineteenth line of the article was omitted from the original.

2. The phrase ابر قدر، has been constructed out of the Persian ابر and the Arabic قدرت.

3. سپینه مانه is literally 'white castle'.

4. د قدر په سترګه ګور- is an idiom: 'look with favor on'.

5. رسمي میلمستیا څخه تیر شوو means 'get beyond the formal banquet', i.e. to become on closer terms with.

6. The phrases د سوسیالیزم دښمن معرفي شوی and خان د پانګوالو ضد وښایم translate as 'show myself to be anti-socialism' and 'show myself to be anti-capitalism', respectively.

7. کسات usually means 'revenge', but here it works better as 'reciprocate'. The verb ادا کو- usually occurs with the word انتقام, which is the normal one for 'revenge'.



ERIC

## Selection E

### News Briefs

1.

**د خواخوږی پیغام**

د افغانستان د جمهور رئیس محترم نجیب الله له خوا د اطریش د فدرالی جمهوریت د جمهور رئیس کورت والدهایم په نامه ددغه هیواد د مسافر وړونکی الوتکی د راغورزیدو له امله چی د سر زیان یی اړولی دی دغه هیواد ته د ذاد گیرنی پیغام مخابره شویدی.
په پیغام کی دافغانستان د خلکو ژوره خواخوږی څرگنده شویده.

- هیواد (5/30/91)

2.

مزارشریف :

میدیا: له جهادی سنگرونو څخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی د مزارشریف نومیالو مجاهدینو د مزارشریف په ښار کې د دښمن په پوځی مرکزونو د درنو وسلو ډزی وکړی چی د هغو په نتیجه کی د مزدور رژیم د قواو دوه ټانکونه تخریب او په هغو کی ناست کسان وژل شوی او یا ټپیان شوی دی.
خبر زیاتوی چی دښمن ته زیات مالی زیانونه هم اوښتی دی.
د یو بل خبر له مخی مجاهدینو د بلخ ـ جوزجان په لویه لار د رژیم پر پوځی کاروان برید وکړ چی د هغی په نتیجه کی پنه عسکر او ملیشه وژل شوی او څلور په پوځی اکمالاتو بار لاری سوځیدلی دی.

جهاد هنداره (11/6/91)

3.

**اخبار خارجی**

**د دیکویار او عرفات ترمنځ کتنه**

د فلسطین د خبری اژانس د خبر له مخی د فلسطین د آزادی غوښتونکی سازمان رئیس یاسر عرفات د ملگرو ملتو د سازمان

له سرمنشي هاوير پريز ديكويار سره د نايجيريا په پايتخت په
ابوجا كې د افريقا د يووالى سازمان په اوه ويشتمه غونډه كې كتنه
او خبرې وكړې.

دغه آژانس خبر راكوى دوى د لبنان په جنوب كې د اسرائيلو د
پرله پسې بريدونو په باب خبرې وكړې دوى همدا راز د ژنيو د
څلورم كنوانسيون د لاسليك كوونكي غونډي د جوړيدو غوښتنه
وكړه او د منځنى ختيځ د سولې د بهير د پرمختگ په خاطر د
امريكا د متحده ايالاتو او شوروى اتحاد د هلوځلو په باب
خبرې وكړې.

– هيواد (6/8/91)

*Pre-reading*

Background

These news briefs are typical of those appearing in newspapers. Such briefs are frequently from news services such as ميديا and اخبار خارجي. Brief #1 appeared just after one of those plane crashes that attract international attention; brief #2 appeared a month or two before the demise of the communist government in Kabul, when the Afghan *mujaheddin* were still engaged in sporadic fighting around the cities controlled by the government; and brief #3 appeared during Xavier Perez de Cueillar's tenure as Secretary General of the United Nations. You can tell by the tone of the articles that هيواد was published in Kabul (still under the communist government) and د جهاد هنداره was published by a *mujaheddin* organization in Pakistan.

Afghan newspapers contain news, editorials, and poetry. While there are Pashto-only and Dari-only papers, most publish in both, with both languages appearing in any given issue, and the frequency of one language over the other depending on the locale and political position of the newspaper. During the communist regime, the government-backed newspapers were mostly in Dari, while the *mujaheddin* publications were mostly in Pashto in Pakistan, and in Dari/Farsi in Iran. In general, an article is printed in the language it is submitted in, although frequently articles are translated into Pashto. See Unit 6 for some examples of these translations.

## Key vocabulary

injured *adj 4.* [tapí] تپي
according to *phr.* [de ... lə mə́khe] د ... له مخې
consolation *phr.* [ḍaḍ girə́na] ډاډ گيرنه
organization *n, M2.* [sāzmā́n] سازمان
force *n, F3.* [qəwá] قوه
meeting *n, F1.* [katə́na] کتنه
famous, brave *adj 2.* [numyālə́y] نوميالى
efforts *n, F1.* [ale dzále] هلي ځلي
by the same token *phr.* [həmdā́ raz] همدا راز

Austria *n, M2.* [utaraísh] اطريش
equipment *n, M irreg.* [ɪkmālā́t] اکمالات
attack *n, M2.* [brid] بريد
movement, process *n, M2.* [bahír] بهير
continuous *phr.* [parla pəsé] پرله پسې
progress *n, M2.* [pərməkhtág] پرمختگ
for the sake of *phr.* [pə khatə́r] په خاطر
message *n, M2.* [payghā́m] پيغام
destroy *der tr vb* [takhribaw-́] تخريبو-

## Scanning hints

1. We have put the headlines in bold face. The second brief doesn't have one.

2. Guess:
   (*1) کورت والدهايم فدرالى
   (*2) لاري (British English!) کاروان ټانگ
   (*3) کنوانسيون ياسر عرفات هاوير پريز ديکويار
   ژنيو نايجيريا اژانس
   اسرائيل لبنان ابوجا

2. In *3, there are several titles:

| | |
|---|---|
| Palestine Liberation Organization | د فلسطين آزادى غوښتونکى سازمان |
| United Nations | د ملگرو ملتو سازمان |
| General Secretary | سرمنشي |
| Organization of African Unity | د افريقا د يووالى سازمان |
| Signatory | لاسليك کوونکى |
| Middle East | منځنى ختيځ |

*Post-reading*

۱. د افغانستان جمهوررئیس نجیب اله چا ته پیغام استولی دی؟

۲. نجیب اله کورت والدهایم ته د څه شی پیغام استولی دی؟

۳. مجاهدینو د مزارشریف په ښار کې پر څه شي ډزې کړی دی؟

٤. مجاهدینو د بلخ ـ جوزجان په لویه لار پر څه شي برید وکړ؟

٥. د فلسطین د آزادی غوښتونکی سازمان رئیس یاسرعرفات له چا سره وکتل؟

٦. یاسرعرفات او دیکو یار پر څه شي خبرې وکړې؟

***Notes for Detailed Rereading***

1. مسافر وړونکی الوتکه in #1 is literally traveler carrying plane', i.e. a passenger plane.

2. د سر زیان اړولی in #1 is literally 'loss of head', i.e. casualty.

3. The phrase په هغو کی ناست کسان in #2 translates most economically as "those inside".

## Answers to Post-reading Questions

Selection A.

۱. د ملا نصرالدين د حماقت دليل دا ؤ چه د روپۍ څلور دانې هگۍ به يې واخستې. هغه به يې وخوټولې. په رنگ به يې سرې او شنې کړې بيا به يې د روپۍ پنځه دانې خرڅولې.

۲. په عمل کې د هر چا عقل د دنيا د گټې او تاوان له مخې معلوميږي.

۳. خلکو دغه سوداگر ځکه احمق ونه گاڼه چه شتمن ؤ.

٤. د عقل همسا ته گوډ او ضعيف انسان اړ دى.

٥. که څوك عقل او هوښيارى لټوى، د خوار او غريب کره دې ولټوى.

٦. خلك ځکه ورته احمق وايى چه بيگا ته په کور کى څه نه لرى.

۷. د نمود دپاره يې په ډيرو پيسو اخلى.

Selection B.

۱. پښتانه د ملى اتڼ دود د جنگ، اختر، واده، خپلواکۍ په ورځو جشن او د پسرلى په لومړيو ورځو کې تر سره کوى.

۲. اتڼ يوازې نارينه نه کوى بلکه پيغلې، جنکۍ او ښځى يې هم کوى.

۳. ځوانان د واده په ورځ د ليس او چرمينو نه جوړ شوى واسکټونه اغوندى.

٤. ډول وهونکى د بريځر په وخت کې د کلى تر شا يا منځ کې درمند او ميدان ته ځان رسوى.

٥. ځوانان چه د اتڼ ميدان ته داخل شى د چيغى د ډول له غږ سره پورته غورځى.

٦. ځوانان د ميدان په منځ کې دوې ډلې کيږى.

۷. د اتڼ بيت يو وارې يوه ډله په لوړ آواز وايى او بيا يې بله ډله په لوړ آواز وايى.

Selection C.

۱. کومه غونډه چه لیکوال خبرې پکښې وکړې هغه پرافغانستان باندې د روسانو د یرغل د غندلو او د افغانستان د مجاهد ولس د لمانځلو دپاره جوړه شوې وه.

۲. د افغانستان مسلمان او مجاهد ولس ملت د شورویانو د یرغل له خونړۍ پیښې سره یوه بل امتحان ته چمتو شو.

۳. اوس چه روسان له افغانستان نه په فزیکي لحاظ وتي دي، د هغوی مداخلو او تجاوزونو پېچلې بڼه پیدا کړې ده.

٤. د افغانانو د جهاد د پیل اساسي ټکی د یوه اسلامي حکومت جوړول دي.

٥. روسان باید افغانانو ته د ټول جنګ او ټولې تباهۍ بشپړ تاوان ورکړي.

٦. اوس چه افغانستان د بري په وروستي پړاو کې دي، مونږ هیله کوو چه د افغانستان ټول قهرمان جهادي تنظیمونه به په پخپلو کې لا متحد او متفق شي.

۷. افغانان د پاکستان د دولت او خلکو د هغو هر اړخیزو مرستو مننه باید وکړي چه له افغانانو سره یې کړې دي.

Selection D.

۱. جمهور ریس بش جمهور ریس ګرباچوف د شرق او غرب تر منځ د اړیکو د ښه والی اصلي محور وګانه.

۲. بش له ګرباچوف نه هیله وکړه چه نن به له رسمي میلمستیا نه تیر شو.

۳. ګورباچوف له بش نه دا آرزو وکړه چه د یو څو لویو امریکایي پانګه والو د زړونو څخه کباب ورته پوخ کړي.

٤. خوکله چه بش مسکو ته ولاړ ګرباچوف د هغه د خپلې خو ښې د غذا د تیارولو غوښتنه ورنه وکړه.

٥. بش ګرباچوف ته وویل: خوږه یاره! که نن راته د یو څو تنو لویو کمونستانو د مغزو غذا تیاره کړې نو ډېر به خوښ شم.

BEST COPY AVAILABLE

٦. گورباچوف غټ غټ کمونستان څکه حلال کړل چه له مغزو نه يې
غدا جوړه کړی.

٧. نه کمونستانو ماغزه نه لرل.

٨. د کمونستانو ژبې ډېرې اوږدې وې.

Selection E.

١. د افغانستان جمهور رئيس د اطريش د فدرالی جمهوريت رئيس
کورت والدهايم ته پيغام استولی دی.

٢. نجيب اله کورت والدهايم ته د ډاډګيرنې پيغام استولی دی.

٣. مجاهدينو د مزارشريف په ښار کې د دښمن پر پوځی مرکزونو
ډزې کړی دی.

٤. مجاهدينو د بلخ ـ جوزجان په لويه لار د رژيم پر پوځی کاروان
بريد وکړ.

٥. د فلسطين د آزادی غوښتونکی سازمان رئيس ياسرعرفات د
ملګرو ملتو د سازمان له سرمنشی هاوير پرزديکويار سره وکتل.

٦. ياسر عرفات او ديکويار په خپلو کې د اسرائيلو په پرله پسې
بريدونو خبرې وکړې.

From the joke book:

يوه کور ته نيمه شپه غل ننووت. د يوه کټ نه علاوه چه پکښی د
کور مالك ويده ؤ، تمامی سامان ئی يوړو. په آخر کښی مالك ويښ
شو او ويې کتو چه کور خالی دی. کټ ئی واخست، ورپسی روان شو.
غل چه د کور مالك په داسی حالت کښی وينی، وائی: ته دا څه کوی؟
د کور مالك وائی: زما دا خيال دی چه تاسو زما د پاره د کرائی
کور کتلی دی.

- په آخر کښی finally *phr.* [pə akhə́r ke]
- تمامی all *adj 4.* [[tamāmí]
- غل thief *n, M1.* [ghal]
- کتـ- find *smp. tr. vb.* [kat-]
- کرائی rental *adj 4.* [krāyí]
- له ... نه علاوه except for [lə ... na ʔalāwá]

# Unit 3: Stories

## Introduction

Modern Pashto short stories reflect a long oral tradition which includes the [nakə́l] نکل and the [qɪsá] قِسّه. *nakəls* are longish fairy tales and romances, told either within the family to pass a winter evening, or among men in the *hujra* by professional story-tellers - or at least by some talented story-teller in the neighborhood. *nakəls* told in the *hujra* include songs, and are frequently accompanied with music from the rabob. The stories are either fairy tales, some borrowed from Persian or Arabic, or romances. Some of the more famous Pashtun romances are *Adam Durkhanəy, Momɪn Shirinəy, Zarif Khan Mābəy,* and *Dalay aw Shahəy* from the Afghanistan/Pakistan border area. In addition to the central plots, romances like these usually contain references to uniquely Pashtun customs; they, and their modern counterparts, can provide wonderfully clear insights into Pashtun ideal values and behaviors, as well as spin a terrific yarn.

In contrast to the *nakəl, qɪse* are anecdotes and jokes: Mullah Nasruddin stories are perfect examples of traditional *qɪse,* and *qɪse* are used throughout this reader as fillers.

The *nakəl* and *qɪsa* comfortably made the shift to print. There are very few Pashto dramas or novels, either modern or traditional. But collections of Pashto *qise* and *nakəls* are easily found, and the *nakəl 's* modern counterparts - *lanḍe qɪse* (a direct translation of the Western term *short story* ) - appear regularly in newspapers, journals, and collections. After the communist coup in 1979, most of the Afghan intellectuals and writers fled to Peshawar, where they regrouped and continued their writing. In that circle, the *landa qisa* has effectively replaced the *adabi parcha* as the vehicle for descriptive prose.

A modern Pashto *lanḍa qisa* is either a narrative with a strong central plot, or a descriptive piece patterned after such western short stories as Crane's *The Open Boat*: In *Intermediate Pashto* , Munshi Ahmad Jan's *Badal* in Unit 25 exemplifies the former, and Tegey's *Jar Worbal* in Unit 28 exemplifies the latter. A particular story, of course, can include both elements; much of the description the original *Badal* was deleted in the interests of space and reducing the vocabulary load.

Of course, there are well-told and ill-told stories. From the Pashto learner's point of view, it would appear that (vocabulary problems aside) the better the quality of the Pashto, the easier it is for the non-Pashtun to understand the story.

In this Unit, Selection B, Munshi Ahmad Jan's آدم درخانۍ, is one of the *nakəl* mentioned above, rewritten in short story form. The other three selections are examples of narrative *lanḍe qɪse.*

## Selection A

# یوه رښتیانی قصه

الفت -

ځوکاله: پخوا تاماس خان اپریدی له تیرا نه د مومند و غرونو ته ولاړ او په لاره دیر بی پروا تیریده، دده توپك دیر ښکلی او دیر، باوری و ځکه ئی له چا نه ویره نه کیده د مومندو بنارس خان چه د هغه قیمتی توپك ولید دومره ئی خوښ شو چه په هیڅ شان ئی زړه نشو صبرولی، مومند سړی چه ښه توپك ووینی نوبیا ځان نه وینی او د سره په سودا هم ددغسی توپك خستلو ته تیار وی.

بنارس خان په همدغه اراده له کلی او ودانی نه لری د تامام خان مخه ونیوله او غږ ئی پری وکړ چه توپك همدغلته کیږده او ځه تاماس خان چه دا غږ واوریده سمدلاسه ئی یوی تیږی ته ځان پناه کړ او په دزو ئی شروع وکړه دا ځکه چه یو پښتون هیڅکله دا پیغور نشی قبلولی چه په ژوند چا ته خپله وسله تسلیم کړی دا کار په پښتنو کښی یوه بی غیرتی ده او ددغسی سړی اولادونه هم د خپل پلا ـ پدغسی نامه شرمیږی تاماس خان پدی پوهیده چه که دده د زی له بنارس خان سره شروع شی نو ارو مرو نو مومند د هغه په مرسته را رسیږی او لوپه شخړه جوړیږی مگر سره لدی دی مجبور ؤ چه په یوه سر جنگ شروع کړی او د بی غیرتی نوم په ځان کښیږدی په دی جنگ کښی بنارس خان ووژل شو او د تاماس خان گولی د هغه په تندی ونښته مگر د دزو په اوریدو له یوی خوا او بلی خوا د مومندو چیغه را ووته او تاماس خان دیر کوشش کاوه چه له دغه ځایه په منده پښی وباسی.

هر کله چه دی د غره سړی و نو بیائی هم یو ځای ته ځان ورساوه مگر په مخکښی ئی له نورو کلیو نه نور خلق را ووتل او دی پوه شو چه دوه خوا جنگ نشی کولی ځکه ئی د یوه خوړ په غاړه یوه کاله ته پناه ور وړه او د ځان د حمایت غوښتنه ئی وکړه، ده ته دا معلومه وه چه که یو خونی او قاتل هم د یوه پښتانه کور ته پناه ورووړی هغه

پړی له سر او ماله تیریږی او چاته ئی په لاس نه ورکوی د پښتنو دغه پښتنی عادت دیر شهرت لری او هر پښتون ترینه هر چیرته خبر دی تاماس خان په پدغه کاله ننوت نو ځان ورته په امن او آمان کښی ښکاره شو او باور ئی درلود چه د کاله خاوند که څه هم په قام مومند دی بیا هم پدی هیڅکله نه راضی کیږی چه دی نورو مومندو ته وسپاری تاماس خان اپریدی چه د مومند په کاله کښی لړ غوندی دمه جوړه کړه نو خلق له توپکو سره هلته را ورسیدل او کاله خانو میر اکبر خان ته ئی وویل چه ستا د زوی قاتل په کاله در ننوت چه د بنارس خان غوندی یو توریالی ځلمی ئی وژلی دی له دی خبر سره سم د بنارس خان مړی هم را ورسید او میر اکبرخان د خپل گران ځوی په دیر لوی غم اخته شو. دلته تاماس خان په ځان وویریده او پدی پوه شو چه په لوی لاس ئی لکه اجل نولی ځان مرگ ته وسپاره ده دیر افسوس کاوه چه کاشکی د بل چا په کور کښی ننوتی وای او د ځوی مړی له کاله نه په څنگ وای میر اکبر خان په دغه وخت کښی دیر عجیب او غریب حال درلود کله به د انتقام جذبه پری دومره غالبه شوه چه باید سمدلاسه د قاتل په ستونی چاړه را کاږی او خپل زړه پری یخ کړی ځکه چه ده ته دا هم نه وه معلومه چه تیری او تجاوز د بنارس خان له خوا و او تاماس خان د ځان ساتلو دپاره دغه اقدام ته مجبور شوی دی مگر له دغی جذبی سره به د پښتنو او پښتونوالی قانون هم دده مخی ته دریده چه د یوه پناه راوړونکی حمایت نه کول دیره لویه نامردی ده چه پښتون ئی هیڅکله تحمله نش کولی.

ددی دوه دوله متضادو غوښتنو تاثیر د میر اکبرخان ځوی مړی فکراو خیال لکه ماشوم لوباوه چه کله به ئی یو تصمیم ښه وگانه او کله بل مگر وروستنی قطعی فیصله دا وه چه قاتل وبخښی او د ځوی په مرگ صبر وکړی ځکه ئی نورو مومندو ته وویل ښه ده چه تاماس خان پناه راوړونکی د بل چا ځوی نه دی وژلی او زما د ځوی قاتل دی، دده بخښل یواځی زما کار دی که ده بل څوك وژلی وای اوس به ئی ماته ساتنه گرانه وه او دده حمایت به ماته په دیر لوړ قیمت تمام شوی و.

تاسی واورئ چه ما تاماس خان ته عفوه وکړه تاسی اوس ده ته څه زیان نشی رسولی ځکه چه دی زما پوروړی دی او ماته ئی پناه راوړی ده، زه نه غواړم چه یو پښتنی قانون مات کړم او هغه څوك ووژنم چه زما کورته په دیر امید راغلی او خپل ځان ئی ماته سپارلی دی که زه دا کار وکړم یوازی زما نوم نه بدیږی د تولو مومندو نوم بدیږی، تاسو باید پدی راضی نشئ چه مونږ او تاسو په قومونو کښی په بدنامه یاد شو او هغه عادت پریږدو چه له پلرونو او نیکونو را پاته دی.

مومند پدی خبرو قانع شول او تاماس خان له خپل توپك سره صحیح او سالم خپل کور او کلی ته روان شو چه د مومندو بدرگه هم ورسره وه.

## *Pre-reading*

### *Background*

This story was published in *Kabul* magazine in 1958, when Ulfat was head of the Pashto Academy. It is a simple narrative about one Pashtun's conflict between *melma palәna* and *badal*, and how he dealt with it.

A Pashtun in a position to take *badal* has three viable options: he can take revenge immediately; he can postpone revenge; or he can publicly forgive his enemy. A Pashtun who has offered refuge and hospitality to a stranger has no viable options other than to protect his guest.

### *Key vocabulary*

fight *n, F1.* [shkhә́ṛa] شخړه
win *der. int .vb.* [ghālibég-] -غالبیږ
grief *n, M2.* [gham] غم
assassin *n, M1.* [qātә́l] قاتل
be convinced *phr.* [qāne kég-] -قانع کیږ
slit *smp. irreg. tr. vb.* - ښکل [kāg] کاږ
difficult, expensive *adj 1.* [grān] گران
contradictory *adj 1.* [mutazā́d] متضاد
block the way *phr.* [makha niw-́] -مخه نیو
fear *n, F1.* [wéra] ویره

trustworthy *adj 4.* [bāwәrī́] باوری
forgive *smp. tr. vb.* [bakhsh-́] -بخښ
cover, refuge *phr.* [panā́] پناه
debtor *n, M3.* [porawә́ṛay] پوروړی
alone *phr.* [pә-yawә́ sar] په یوه سر
taunt *n, M2.* [peghór] پیغور
bear *phr.* [tahamúl kaw-] -تحمل کو
accept *phr.* [rāzi kég-] راضی کیږ
surrender *smp. tr. vb.* [spār-́] -سپار

## Scanning hints

1. This story is a straightforward narrative, with occasicnal breaks to explain various Pashtun behaviors and values. The main characters are Tamas Khan, an Afridi, and Banaris Khan and Mir Akbar Khan, Momands.

2. Commas are frequently used in place of periods. زوی is consistently spelled as ځوی .

3. Synonyms:

سالم and صحیح     خیال and فکر     قاتل and خونی

4. The course of action in the story frequently hangs on the meaning of a conjunction or conjunctive phrase. Review:

| | |
|---|---|
| ځکه چه since | مګر however |
| ځکه for this reason, therefore, so | نو then |
| که if, even if | هر کله چه since, because |
| | که څه هم although |

*Post-reading*

۱. د تاماس خان اپریدی توپك څنګه توپك ؤ؟

۲. د تاماس خان اپریدی مخه چا ونیوله ؟

۳. پښتون ولې خپله وسله چا ته نه تسلیموی؟

٤. د تاماس خان ګولۍ د بنارس خان په کوم ځای ونښته؟

٥. که حتی یو قاتل او خونی د یوه پښتانه کره پناه ورورې، د کور خاوند څه ورسره کوی؟

٦. تاماس خان د چا د پلار په کاله ورننووت؟

۷. د بنارس خان پلار له تاماس خان سره څه وکړل؟

۸. تاماس خان صحیح او سالم چیرته ولاړ؟

## *Notes for Detailed Rereading*

1. The story is set in the border region between Afghanistan and Pakistan, and travel there has always been dangerous. The implication is that Tamas Khan was unconcerned because he had great faith in his rifle and his ability. Rifles vary greatly in both beauty and function, the lesser of them with a tendency to jam and not eject used cartridges; Tamas Khan's rifle was apparently a good one.

2. د سر په سودا is literally 'with the price of (one's) head'. A close English idiom is something like 'give one's right arm for' or 'give an eyetooth for'.

3. کلی او ودانی is a phrase, literally 'village and farm', which refers to a village and the area around it, i.e. places where you're likely to run into someone.

4. غږ ئې پرې وکړ = something like 'his voice rang out'. توپك همدغلته کیږده او ځه is a direct quote.

5. پناه وروړ- is the formal request for sanctuary that no Pashtun can refuse.

6. له سر او ماله: the people giving refuge must protect their guest with their manpower and their property, i.e. they must go to any length to protect him, even if he is an evil man.

7. سپار- is to put something or someone under someone's surveillance and safekeeping.

8. خلق له توپکو سره هلته را ورسیدل i.e. the men who were chasing Tamas Khān.

9. ... ستا د زوی قاتل is a direct quote.

10. To do something په لوی لاس, or literally "with big hand", is to do it intentionally or resolutely.

11. اجل is 'death. An اجل نیولی is someone whose fate has decreed that it is his moment to die. A parallel English idiom is 'one whose time has come'.

12. The phrase زوی مری is parallel to our 'orphan', 'widow' or 'widower', and can be extended with other relatives. مری also has the feminine form مري.



ERIC

13. The phrase عجیب او غریب translates best as something like 'heart-rending' or 'agonizing'. Literally, both words mean something like 'strange', and غریب also means 'poor'.

14. زړه یخ کو- is literally to make one's heart cold, i.e. to satisfy oneself. In this case, the satisfaction would come with the killing.

15. د ... مخې ته درېږ- : to stop in someone's face is to come to someone's mind.

16. ښه ده چه تاماس خان پناه راوړونکی د بل چا ځوی نه دی وژلی او زما دځوی قاتل دی، دده بخښل یواځې ځما کار دی که ده بل ځوک وژلی وای اوس به ئې ماته ساتنه گرانه وه او دده حمایت به ماته په ډیر لوړ قیمت تمام شوی و.
is a direct quote. The price that Mir Akbar Khān is referring to is the grief that some other son's family would heap on him for having protected Tamas Khan.

17. بدرگه is always singular, but the بدرگه can consist of more than one. A بدرگه guarantees safe passage. The term also means 'chaperone'.

لنډۍ:

په گودر ځه ټکل لوېدلي
چې کشره خور يې بدرگه ور سره ځي

watering-place, trysting place *n, M irreg.*. [gudár] گودر

thunder, catastrophe *n, M2.* [ṭakə́l] ټکل

little sister *phr.* کشره خور

## Selection B

# قادر خان ختهگر

- محمد روحاني وردگ

زموږ د تاریخ ښوونکی له کلي څخه راغلی و، سهار تر څاښته به په ښوونځي کښې و او بیا به یې په بایسکل پښه واړوله او مخ په کور به روان شو کور یې د «کابل د علي آباد» روغتون تر شا دغره په ډډې و او په میاشت کښې یې پنځه سوه افغانۍ کرایه ورکوله، د کور خاوند ژمنه ورسره کړې وه، چې که یې د دوو کوټو تر څنګ یوه بله کوټه چې تاداو یې پخوا ایښودل شوی و، ودانه کړي، نو له کرایې څخه به ورته سل روپۍ کمې کړي. نو له دې کبله به یې بایسکل په چټکۍ سره څغلاوه، چې کوټه ژر ودانه کړي. چې هم یې کور پراخ شي او هم یې کرایه کمه شي، سهار وختي له لمانځه وروسته به هم د کوټې په ودانولو بوخت و او د اووبجو په شا او خوا کښې د «فوتی اعلانونو» له اوریدو څخه وروسته به مخ په ښوونځي را روان شو.

ټولګي ته به چې را ننووت، تر هر څه د مخه به یې له خپلې «قره قلی» خولۍ څخه دوړې وڅنډلې او د لاسونو له ویښتو څخه به یې وچې ختې وتوږلې، د لومړي کتار په یوه میز به کښیناست، په ستړي غږ به یې پوښتنه وکړه «ښه زموږ لوست چیری ؤ؟» دوو- درو زده کوونکو به په ګډو وډو غږونو د پخواني ساعت د لوست وروستنۍ خبرې ور په زړه کړې ....... او ده به خبرو ته ادامه ورکړه. یو- دوو زده کوونکو به یې په خبرو کښې ور ودنګل او و به یې ویل: ....... بیا هم دا زموږ د کتاب موضوع نه ده....... صیب ! خو ده به خپلو خبرو ته دوام ورکړ، لکه هیڅ یې چې نه وي اوریدلي.

وروسته - وروسته زده کوونکي وپوهیدل، چې زموږ ښوونکی نه یوازې ښوونه کوي، ختې هم کوي، نو ورو ورو یې نوم د زده کوونکو تر منځ قادرخان ختهگر شو، له دې چې قادرخان ختهگر ډیر وخت د کوټې په ودانولو بوخت و؛ نو ښوونځي ته به بې «مطالعې» او بې



BEST COPY AVAILABLE

«تياري» راغی، زياتره وخت به د زده کوونکو پوښتنو ته عاجز پاتې شو او په مسکا- مسکا به يې ويل: «په کتاب کښې يې ولولئ.» د قادر خان ختمگر او زده کوونکيو تر منځ يو خاص کړکيچ منځ ته راغی او په دوو درو اوونيو کښې قادرخان ختمگر ته چا په ټولگی کښې پام نه ساته او ان دا چې له قادرخان ختمگر سره ملندې هم پيل شوې، ځينو به يې خولی د ميز له سره واخسته، چې په خندا خندا يې ورته پاکه کړې او ځينو به يې د کرتۍ له جيب څخه چې دوره په ميخ به ځوړنده وه وچه ډوډۍ را وايسته او يو له بله به يې وويشله، نوم يې له قادر خان ختمگر څخه په «قادرختمگر، ختمگر» واړول شو او څه موده وروسته بيخی ختمی» شو.

«ختمی» ډير ښه پوهيده چې دا کړکيچ ولې منځته راغلی، اوس دی هغه پخوانی «قادرخان» نه و؛ خو دی په دې قانع و، چې کمښت دده له خوا دی، ځانته به يې داډ گيرنه ورکوله، چې د کوټې ودانول به پای ته ورسيږی او دده ځوان زوی «قسيم» به چې لا تراوسه په کلې کښې و راشي او ځانگړې خونه به ولری......

کلني امتحان ته لا څلور مياشتی پاتې وې، چې د ښوونځي سرښوونکی «ختمی» خپل د فتر ته چې راز راز شعارونه په کښې ځوړند وو، وغوښت او د نالايقۍ او بې کفايتۍ په نامه يې ځواب ورکړ!
او دا هغه وخت و چې د خونې ودانول هم نژدې پای ته رسيدلي وو.

ختمي هيله نه درلوده، چې په خپله دنده پاتې شي، ان په دې سوچ نه و، چې د کور لگښت او کرايه به له کومه کيږي ... پر بايسکل سپور شو او ځوان زوی ته يې کړې ژمنه ور په ياد شوه.

«ختمي» د علی آباد روغتون تر شا د غره لمنې ته را ورسيد او له بايسکل څخه کوز شو، په سترپا سره يې گامونه مخ په کور ايښودل، ختمي لا کورته نهٔ و رسيدلی، چې کوچنۍ لور يې «ميمونه» په منډو منډو مخی ته ورغله او ويې ويل: «پلاره ! پلاره، مور مې خبره شوه، چې زموږ پر کلي بمباري شوې.... هغه ژاړي ختمي په وارخطايۍ سره کورته را ورسيد، مخ يې شين و او د تندي گونځې يې لا ژورې ښکاريدې، ښځې په چيغو چيغو او ژړا ژړا دده د ځوان زوی د شهادت خبر ورکړ.

دی په داسی حال کښې چې ربړدیده او لا بې وسه ښکاریده «ودانۍ» خونې ته ننووت او د زړه له کومې یې ژړل.

اوس «ختمې» او کورنۍ یې سرحدي سیمو ته نژدې په یوه کمپ کښې اوسیږي، د شهید زوی د عکس قاب یې په یوه وسپنیز صندوق کښې ایښې او د مهاجرو په یوه خاورین ښوونځي کښې ښوونکی دی. دی بیا تاریخ لولي او زده کوونکو ته په مینه مینه ښوونه کوي... او په دې خوښ دی چې په کابل کښې یې د «تاریخ ماتریالیزم» د زده کړې اوښووني په ځای ختمې کولې او په ټولګی کښې یې د زده کوونکو پام دخپلې کرتې او «قره قلۍ» خولۍ دورو او ختمو ته اړولی و.

## *Pre-reading*

*Background*

This story appeared in the July-August, 1991 issue of *Spedey* ("Dawn") a bi-monthly literary journal in Pashto and Dari published in Peshawar by Pesarlay, a famous Pashtun poet and writer from Kunduz. *Spedey* is a literary journal - it's a good source for modern short stories - and as such is not particularly political in nature. Its writings reflect, however, generally anti-communist, pro-independence point of view of the intellectual Afghan community.

This story takes place during the communist regime in Afghanistan, and assumes
1) that the reader is familiar with Kabul,
2) that the hill behind Ali Abād Hospital is a poor area, and
3) that history teachers in the city (which was, of course, under the control of the communist government) were obliged to teach "historical materialism", i.e. the communist brand of history.



ERIC

Key vocabulary

promise *n, F1.* [zhmә́na] ژمنه
fatigue *n, F3.* [stәṛyā́] ستړيا
thought *n, M2.* [such] سوچ
slogan *n, M2.* [sheʔár] شعار
instruction *n, F1.* [xowә́na] ښوونه
helpless *adj 1.* [ʔājә́z] عاجز
Karakol *phr.* [qara qolә́y] قره قلی
tension, *n, M2.* [kaṛ kéch] کړکيچ
refugee camp *n, M2.* [kamp] کمپ
shortcoming *n, M2.* [kamә́xt] کمښت
expense *n, M2,* [lagә́xt] لګښت
reading, study *n, M2.* [lwәst] لوست
because *phr.* [lә dé che] له دې چې
smile *n, F3.* [mәskā́] مسکا
making fun *n, F1.* [malánḍe] ملنډې
peg, nail *n, M2.* [meykh] ميخ
incompetence*n, F2.* [nālāyaqә́y] نالايقی
build *der. tr. vb.* [wadānaw-́] ودانو
even *phr.* [an dā́ che] ان دا چې
be bombed *phr.* [bambārí keg-] بمباري کېږ-
unprepared *phr.* [be tayārí] بې تياري
inefficiency *n, F2.* [be kefāyatә́y] بې کفايتی
helpless *adj 4.* [be wasa] بې وسه
give attention *phr.* [pā́m sāt-́] پام ساتـ-
remind *phr.* [pә zṛә́ kaw-́] په زړه کو-
wide *adj 1.* [parākh] پراخ
base *n, M2.* [tādā́w] تاداو
hurry *n, F2.* [chatakí] چټکی
of mud *adj 4.* [khāwrín] خاورين
mason *n, M1.* [khaṭgár] خټګر
mud *n, F1. Usu. pl.* [kháṭa] خټه
operate *smp. tr. vb.* [dzghәlaw-́] ځغلو-
fire *phr.* [dzawāb warkaw-] ځواب ورکو-
job, duty *n, F1.* [dánda] دنده
dust *n, F1.* [dúṛa] دوړه
study *n, F1.* [zdá kṛa] زده کړه

Scanning hints

1. The story is a straightforward narrative, from the point of view of one of the students of the main character, Qadәr Khān. The action takes place in Kabul, but shifts in locale in the last paragraph.

2. The author uses quotation marks to set off names and nicknames.

### *Post-reading*

۱. د قادرخان کور چېرته ؤ؟

۲. قادر خان به چه ټولګی ته ننووت تر هر څه دمخه به يې څه کول؟

۳. د قادرخان نوم ولې قادرخان ختمګر شو؟

٤. کلنی امتحان ته څومره وخت پاتې ؤ چه د ښوونځی سر ښوونکی «ختمې» خپل دفتر ته وغوښته؟

۵. د «ختمې» لور څه نومېده؟

٦. ختمې چه ريږدېده او خونې ته ننووت څه يې وکړل؟

۷. «ختمې» د خپل شهيد زوی د عکس قاب چېرته ايښی دی؟

### *Notes for Detailed Rereading*

1. پښه اړول is literally 'throw one's leg over (a horse or bicycle)', i.e. to mount or get on.

2. The Afghan unit of currency's offical name is *afghanəy*, but it was earlier also called a rupee. The two terms have been used side by side, but the latter is dying out.

3. فوتی اعلان ,'death notices' was a program on Kabul Radio which came on at 7 every morning.

4. په ګډوډ غږونو is literally 'with mixed voices'. All the students spoke up at once.

5. په خبرو کښې ور ودنګل is literally 'ran into his speech'. They interrupted him.

6. ختمې کو- , literally 'do mud', has been extended in modern times to include masonry (with fired bricks) and plastering. Originally, the term referred to the forming of walls with mud. The soil around Kabul is clayey, and it is possible to form rough bricks from mud. To construct a wall, a layer of mud or a row of mud bricks is laid, then left to dry for a day. Another layer or row is laid on top of the first, and so on until the wall is the desired height. ختمې کول is very dirty work.



ERIC

7. The teacher's name is Qadər Khan. Students would ordinarily address him and refer to him by that name.

8. «قسیم» زوی خوان دده: is the real reason for Qadər Khān's anxiety to finish the room. From subsequent mention of the son it becomes clear that Qadər Khān had promised that the son could come to the city when the room was finished.

9. د شهید زوی د عکس قاب یې په یوه وسپنیز صندوق کښې ایښی : The picture of the dead son in its frame has been put into a metal trunk for safekeeping.

10. The phrase خاورین ښوونځی indicates that the school is very poor, with undoubtedly limited curricula and resources.

11. The last sentence of the story refocuses the attention of the reader, and must be completely understood if the force of the story is to come through. Here it is, with "standard" punctuation:

او په دې خوښ دی چې په کابل کښې یې د «تاریخی ماټریالیزم»
د زده کړې او ښونې په ځای، ختې کولې او په ټولګی کښې یې د
زده کوونکو پام د خپلې کرتۍ او «قره قلۍ» خولۍ دوړو او ختو
ته اړولی و.

## Selection C

# آدم درخاني

- مونشي احمدجان

درخانۍ په صوات کښې د برى بازدري د يو طاوس خان نوم پښتون لور وه چه خداي ډير لوي ښايست ورکړي وه. او د پاياۀ خان نوم يو پښتون هلك چنغله وه. يوه ورځ د درخاني د ترور د لور واده وه. په هغي کښې ي د کوزي بازدري يو آدم خان نوم خانزاده باند سترگى خوږي شوي. ټپ له دواړه لاسه خيژي. هغه هم پر باند زړه بايلود. دي اور داسي لنبه وکړه چه د واده خلاصيدو او د ميلمنو د رخصتيدو نه پس دواړو په لاره کښې هرو مرو يو بل ته په غلا غلا وکتل. ماسخوتن په حجره کښې چه آدم خان يوه گټه رباب ووهلو نو يو سوړ اسويلي ي وکړ. او ميرو بلو خپلو خوږو يارانو ته ي د زړه حال ووې. د هغه دا مراد وه چه په دي شپه د اشنا ديدن ته لاړي. پردو کورونو ته تلل د خالصي دل نه وو. ولي ميرو بلو هم ورته حلال کړي چرگان وو. سمدستي ي ملا وتړله او شپه په شپه بري بازدري ته لاړل. بلو ي چرته د څوکي دپاره ودرولو او دوي دواړه د درخاني کورته ورغلل. ميرو ورته وړنبي رو گودر صحيح کړي وه. آدم خان د اشنا کټ ته ورسيد. درخو تار په تارپه پالنگ اوده پرته وه. څنگزني سپوږمي او يو نيم ستوري ي په غلا غلا ديدن کولو. ده يو ساعت په غټو سترگو ورته وکتل. چه ښه زور زير ئ وويست نو روغوندي ي د ښپي گټه تر نه ونيوه او ويښه ي کړه. چه درخو سترگي وغړولي نو هغه بشره ورته ولاړه وه چه د چا په خيال کښې اوده شوي وه. حيرانه شوه چه دا خوب دي که ويښه. څو ځله ي سترگي ومښلي او بياي وغړولي چه ښه ييقين ي راغي نو پاڅيده. او ورترغاړه وته. غوږ کښې ي ورته ډير ډير هرکلي ورکړ. او بيا ي د خپلي ميني دفتر ورته پرانست. په خلقو لويه شپه تيره شوه او په دوى د سترگي رپ وه. ميرو شپيلي ووه مطلب ي دا وه چه چرگانو بانگونه وو. ملايانو اخ توخ جوړ کړ هسيي نه چه شرمينگي جوړه شي او داوښ

په شا مو سپي ږ نه خوري. آدم درخاني د اوښکو ډکي سترگي يو بل نه جدا شول.

دي نه پس د آدم خان د عمر مزه وړکه شوه. او رو رو داسي له برمه پريوت چه کټ ئ ونيو. په درخاني هم خپلي ميني زور وکړ. چه صبر ئ خلاص شه نو يو څل د استاد په خوله او يو څل د دائي په خوله څه نښي نښاني او سوال جواب ئ وليږه راوليږه. پس له دي پاياؤ هم زر تر زره واده جوړ کړ او د درخاني ډولی ي راوړه.

آدم خان ډيري ايري په سر واچولي او ډيري خاوري ي ونوستي. آخری ئځان بي شرم کړ او خپل پلار حسن خان ته ئ غټ پريکړي وو چه که څما ژوند د پکار وي نو دابي له درخو گران دي. حسن خان ته دا خبره د پښتو په مذهب کښ ناروا ښکاره شوه خو د زوی ميني هر څه ته تيار کړ. «هندو د يار دپاره د غوا غوښی خوړلي دي» په خپلو عزيزانو کښ ي يو ميرمامي نوم پښتون وه چه په پيسه او متو کښ ډير تکړه وه هغه ته ي پټکي په ښپو کښ وغورزوه وي و چه په خداي به شی په تا به شي د درخاني د راوستو څه بند راته وتړه. هغه ورسره په بره باز دره لښکر وکړ او مراد ته ورسيد درخاني ي په زور راوسته.

آدم خان درخاني ميرمامي کره کښينوله د زړه غوندي ي په څای کړ. ولی پاياؤ هم آخر پښتون وه قام ورپسي وه. خو وائي «چه په گوره مري نو په زهرو ي څه له وژني» مير مامي ته ي ډير ي روپي ومنلي او هغه دا بي ننگي وکړه. چه درخو ي پاياؤ ته لاس نيولي ورکړه. يوه ورځ د ميرمائي زوي گوجر خان ته آدم خان څه گله گوڅه وکړه. هغه بوتکي څه چل وکړ چه ټول قام ي د پلار نه په دي بيغيرتي وارولو او بيا ي د آدم خان دپاره په بره بازدره لښکر وکړ خو پاياؤ هم څه د هاتي په غوږ کښ اوده نه وه. ورته رامخکښ شه– او د دواړو قامونو يوه ټوټه جنگ ښه وشه. خو گوجر خان ماتي وکړه څلويښت کس سري ي مړه شول. بلو هم په کښ سر ورکړ. آدم خان باند يو غم نه دوه شول.

څو ورځي پس د هندوستان پاړوگان چرته د آدم خان په حجره
را پیښ شول. چه د آدم خان ي داسي بد حال ولید نو تپوس ي وکړ.
میرو ورته قصه تیره کړه هغو د دیدن ذمه ووهله. «ړوند د خداي
نه څه غواړي دوه سترگي» آدم خان او میرو د جوگي جامي واغوستي،
سرونه ي ببر کړل او کنړاوي ي په ښپو کړي د پاړوگانو بالکیان شول.
تلل تلل په برباز دره ورغلل. د پایاؤ په ډیو ډي کښ ي پیټارونه
کوز کړل. د مارانو تماشه ي جوړه کړه. د بین په اواز ډیر هلکان
جنکي او نر ښځي پر راغونډ شول. پایاؤ هم ورته راووت. درخو
هم تنبي نیمکښو کري اشناسره ئ د سترگو هرکلي وکړ «چا ماران
کتل او چا یاران»

پاړوگانو پایاؤ نه پنداره واخسته او کور سره یو باغ کښ ي ډیره
ونیوه. هر چرته به گرزیدل خو دلته به راتلل. درخو به هم وخت
بیوخت باغ پلو مخ ښکاره کولو. څو ورځي پس پایاؤ پر بد گمان شه
او دوي ئ له باغ نه وشړل. دا اسره هم ښوره شوه.

لږي ورځي پس آدم خان یخني ووهلو او تبه بریښ ئ ملگري
شول. په دارو درملو څه ښیگړه ونه شوه. او آخري له دنیا نه سفر وکړ.

چه د آدم خان د مرگ خبر وگرزید او درخو پر خبره شوه نو
سمدستي په زمکه راپریوته سترگي ئ حق ته ونیولي. خپل پردي
پر راټول شول لاس ښپي ي ورته ومښل. سپیلني ئ ورته لگي کړل
نظرونه مات شول. لنده دا چه دم، دعاء، بند تعویذ هر څه خلاس شول
خو درخاني وه چه ساه په کښ ؤ نه غریده. یخه تخته شوه او تخته
پاتي شوه. چا هوښیار بنده چه وکته نو روح ي پخوا الوتي وه.

دا خبره هم مشهوره ده چه دوی دواړه په مروني قبر کښ یو ځاي
شوي دي. خو دا راته هسي د یارانو گپ ښکاري چه خلق ئ د خپل
زړه خوشحالولو دپاره وائي.

دا هم خلق وائي چه د آدم خان د قبر ډکي نه چه څوک شهباز
جوړ کړي نو رباب ي زر زده کیږي. والله اعلم.

BEST COPY AVAILABLE

## *Pre-reading*

### Background

This story is one of the famous Pashtun romances mentioned in the introduction, retold by Munshi Ahmad Jan as part of his instruction in Pashto for British officers stationed in the last century in the Northwest Frontier Province of Pakistan. Almost nothing is known of Ahmad Jan except that he was one of the teachers of the British troops who wanted to learn Pashto, and that he was a superb story-teller. He collected and rewrote the more famous romances and tales in the area (some are originally Persian, some Pashto, and some Indian), and also apparently wrote some stories, for the purpose of providing his students with something to read. (As we mentioned in the unit introduction, an abridged version of one of his original stories is given in Unit 25, *Intermediate Pashto.*)

It is evident from the texts that Ahmad Jan made an effort to include as many Pashtun proverbs and songs as the text would allow, and that he successfully made an effort to capture natural, spoken Pashto in print.

The stories of Munshi Ahmad Jan constitute some of the finest written examples of Pashto folklore and the Pashtun style of story-telling, and are well worth reading. They are collected in at least two volumes: د قصه خوانی گپ and هغه دغه have been published in Peshawar, and are readily available.

### Key vocabulary

bag of tricks *n, M2.* [peṭār] پېټار

board *n, F1.* [takhtá] تخته

strong *adj 4.* [takṛá] تکړه

performance *n, F1.* [tamāshá] تماشه

trick *n, M2.* [chal] چل

fiancee *n, F1.* [chenghə́la] چنغله

*son of a khan. n, M4.* [khānzādá] خانزاده

midwife *n, F4.* [dāyí] دائی

be stationed*phr.* [derá niw-́] ډېره نیو-

*cart for bride n,F2.* [ḍolə́y] ډولی

guarantee *phr.* [zəmá wah-́] ذمه وه-

blink *n, M2.* [rəp] رپ

sigh *n, M3.* [asweyláy] اسویلی

ash *n, F1.* [irá] ایره

cockcrow *n, M2.* [bāng] بانگ

power *n, M2.* [bram] برم

face *n, F1.* [bashrá] بشره

arrange *phr.* [band ...taṛ-́] بند ... تړ-

devil *n, M31* [butakay] بوتکی

flute *n, M2.* [bin] بین

snake charmer *n, M1.* [pāṛú] پاړو

bed *n, M2.* [pāláng] پالنگ

unfamiliar *adj. 2.* [pradáy] پردی

stealthily *phr.* [pə ghlā́ ghlā] په غلا غلا

be defeated *phr.* [māte kaw-́] - ماتي کو
ethic, religion *n, M2.* [mazháb] مذهب
taste *n, F1.* [mazá] مزه
illegitimate *adj 4.* [nārawā́] ناروا
signal *phr.* [nә́xa nәxāna] نښه نښانه
throw *smp. tr. vb.* [nust-] -نوست
be lost *der. tr. vb.* [wrәkeg-] -ورکېږ
beforehand *phr.* [wṛunbáy] وړنبی
awake *adj. 1.* [wîx] ويښ
welcoming *n, M3.* [harkәláy] هرکلی
catch cold *phr.* [yakhni wah-́] - يخني وهـ
certainty *n, M2.* [yaqín] يقين

be freed *der int vb.* [rukhsatég-] -رخصتيږ
passage *n, M2.* [raw gudár] رو گودر
soon *phr.* [zә́r tәr zә́ra] زر تر زره
soul *n, F3.* [sā] ساه
that night*phr.* [shpá pә shpa] شپه په شپه
whistle *phr.* [shpelay wah-́] -شپيلی وهـ
good, use *n, F1.* [xegә́ṛa] ښيگړه
frankly *phr.* [ghwәt prekә́ray] غټ پريکړی
grief *n, M2.* [gham] غم
intention, desire *n, M3.* [ghunḍáy] غونډي
reproach [gila gutsa kaw-́]-گيله گوښه کو
make smoke *phr.* [lugay kaw-́] -لوگی کو

*Scanning hints*

1. This is a romance, a story of unrequited love reminiscent of *Romeo and Juliet* or *Werther*. The story takes place in Kuza Bazdara and Bara Bazdara, in Swat. The story is a straightforward narration of events, unlike other versions which include songs and other diversions characteristic of stories told orally. As might be expected, the vocabulary is often from Pakistani Pashto, and many of the words and phrases are not used extensively today (remember that Ahmad Jan was writing in the last century).

2. We have modernized only one spelling no longer in use, the spelling of the particle ږ, which Ahmad Jan spelled as ږه. In our copy of the story, [dz] is spelled with ځ or څ i.e.

[wradz] ورځ [khedz] خيژي [dzal] ځل [dzān] ځان [dzāy] ځاي

3. Characters in the story:

| | |
|---|---|
| The heroine | [durkhānә́y/durkhó] درخانی / درخو |
| Her father | [tāwús khān] طاوس خان |
| Her fiance, then husband | [pāyā́w khān] پاياو خان |
| The hero | [adám khān] آدم خان |
| His close friends | [miráy] ميری and [baló] بلو |



ERIC Full Text Provided by ERIC

| | | |
|---|---|---|
| His father | [hasān khān] | حسن خان |
| Tribesman of Hasan Khān | [mirmamáy/mirmáy] | میرمامی/ میرمی |
| Mirmamay's son | [gujár khān] | گوجر خان |

### *Post-reading*

۱. درخانۍ د چا لور وه او چا زړه پرې بايلوده؟

۲. ميرو او بلو څوك وو؟

۳. درخانۍ دخپلې ميني دفتر چا ته پرانست؟

٤. د آدم خان پلار څوك ؤ او له ميرمامی نومی پښتون نه يې څه وغوښتل؟

٥. آدم خان درخانۍ د چا كره كښېنوله؟

٦. د گوجر خان لښكر له چا سره جنگ وكړ او چا ماتې وكړه؟

۷. چا ماران كتل او چا ياران؟

۸. آدم خان ولی مړ شو او درخانۍ ولې مړه شوه؟

### *Notes for Detailed Rereading*

1. باند سترگی خوږې شوي : If someone's eyes become sweet on you, he/she likes you.

2. تك له دواړه لاسه خيژي. : 'It takes two hands to clap', i.e. the feeling was mutual.

3. The حجره is Adam Khān's father's guest house. Everyone clearly lived close enough to one another for the guests to have gotten home by that evening.

4. گته رباب وهل is to play the rabob for a little while.

5. ورته حلال کړي چرګان وو : To be a slaughtered chicken to someone is to be at his beck and call.

6. د خالصي دل کېږي- is a proverb roughly parallel to English's '...be a piece of cake.' Khalasa is a place in Pakistan where it is apparently easy to make *dal,* a kind of cooked mush of split wheat or corn kernels.

7. ملا تړل : to tie up one's waist is to arm oneself, or to get ready or prepare for something.

8. تار په تار means 'stretched out' or 'sprawled' in this context; ordinarily it means 'separated', or 'thread by thread' which is the literal translation. This phrase is a very strong description of Durkhanəy's beauty.

9. اوده = ويده

10. The phrase زور زير refers to two of the symbols indicating vowels in texts used to teach children to read the Koran (*tashkil* in Arabic). Here, it indicates that Adam Khān examined Durkhanəy very thoroughly.

11. د خپلي ميني دفتر ورته پرانست: In other words, Durkhanəy told him all about her love for him.

12. اخ توخ جوړول is to clear one's throat, or to make clearing-throat sorts of noises.

13. د اوښ په شا مو سپي و نه خوری is a phrase, literally 'not get bitten by a dog while riding on a camel'. The whole sentence refers to Miray's warning them that they were about to cause an uproar - to embarrass themselves or to bring everyone's attention to the fact that something strange - like getting bitten by a dog when you're high up on a camel - was going on. Durkhanəy's bed was undoubtedly close enough to the rest of her family that she and Adam Khān had to be very careful.

14. جواب = ځواب

15. خان بي شرم کړ: It is not fitting for a son to talk about his romantic interests to his father. Adām Khān was quite desperate.

16. «هندو د يار دپاره د غوا غوښی خوړلي دي» Ahmad Jan threw in this proverb, which translates straightforwardly.

17. هغه ته پټکي په بڼپو کښې وغورزوه: A parallel English idiom is to go to someone hat in hand.

18. «چه په گوړه مري نو په زهرو ي څه له وژني»: You can catch more flies with honey than with vinegar.

19. د هاتي په غوږ کښې اوده نه وه : to be asleep in the ear of an elephant is to be caught napping.

20. قصه تيرول = tell a story

21. «روند د خداي نه څه غواړي دوې سترگي» is a proverb referring to the fact that Adam Khān was dying to see Durkhanəy.

22. جوگي: Jugis are, in English, Yogas.

23. «چا ماران كتل چا ياران»: Some were watching the snakes, and some were watching the lovers. This is a proverb, but not one in wide use today.

24. ديره نيول is to become stationed, or to set up shop. The magicians and their apprentices set up camp in the orchard, and used it as their headquarters. They would go around the area giving shows, and return at night to the orchard.

25. تبه بريښ ملگري كېدل : i.e. Adam Khān's cold turned into pneumonia.

26. خپل پردی: friends and strangers

27. A شهباز is a pick like those used by guitar players. Adām Khān played the rabob very well.

## Selection D

# قبر

- میر مهدی شا مهدی

نن چه کوم وخت ماته چا وویل چه لېوني پذیر مړ شو، نو د اناللله و انا لیه راجعون نه [وروسته] مې ناڅاپی د خولې نه اوختل چه «قبر کښې ښخ کړې شو؟» دا تپوس مې ځکه اوکړو چه هغه به د قبر نه ډېر زیات ویرېدو، هغه چه به د قبر نامه واورېده نو داسې به پاره شو لکه ګیدړ چه د سپی په بوی پوه شی، هغه به همیشه مزل په منډه کولو او که ... چا به ورته اوویل چه پذیر کاکا! په ادیره ورغلې نو هم داسې به په بل مخ پاره شو...

هغه په لېوني پذیر مشهر وو...

د هغه به دا عادت وو چه کوم وخت به ئې منډه کړه نو په چغه به ئې ویل «هغه دی قبر— را وې نیسئ» او د سترګو په رپ کښې به د خلقو د نظر نه غیب شو، هغه ته به که چا د قبر او ادیرې نامه وانخسته نو که هغه به په ادیره کښې روان وو نو هم به په ځان نه پوهېدو خو چه کوم وخت به ورته چا اوویل چه لېونیه! قبر دې نو بس بیا به ئې اچولی وو— لېوني پذیر که هر څومره د نابلده کسانو په نظر کښې یوه نخره وه ولې بیا هم چه هغه چاته معلوم و نو د هغوی ورسره ډېره زیاته مینه وه...

خداې شته چه ځما په نظر کښې خو ډېر زیات مظلوم وو، ځما ډېر زیات خوښ وو، ځما زړه که به ډېر غوښتل چه زه دې ورسره خبرې اترې اوکړم او یو ځل دې دده د خولې نه هم دغه نه هېرېدونکې قیصه واورم، خو ځما دغه ارمان تر مرګه پوره نه شو، او همیشه چه چرته به د هغه نامه چا مجلس کښې واخسته او یا به ماله مخې له راغلو نو ځما په ذهن کښې به هغه ټوله واقعه تېره شوه او د واقعې د تېرېدو سره سم به ځما زړه نور هم درد اوکړو...

نن هم د هغه د نامې د اورېدو سره سم ځما په ذهن کښې د نن نه

اوویشت کاله اگاهو هغه درد ناکه واقعه رایاده شوه کومه چه به همېشه ژوندۍ وی، همېشه د قبرونو څلي ورانيږی او اوارېږی خو دغه قبر هیچری ورانېدې او اوارېدې نه شی، لېونې پذیر به نن په قبر کښې ښخ شوې وی، هغه ته که قبر هر څومره بو بلا ښکارېدو او هغه تر نه مندې وهلې، خو د عمر اخری منزل قبر دې، او هغه خپل منزل ته اورسېدو، ولې د هغه د ژوند هغه وخت هیڅوك نه شی هېرولې چه هغه د کلی یو سفېد پوش سړې وه، [د] هغه په خپلو عزیزانو، تربورانو کښې ښه کار جوړ وه، او دا ځکه چه د هغه ډېر کم خرځ وه، په کور کښې یو هغه او یوه ئې لور وه۔

د هغه ښځه د واده په نهم کال مړه شوې وه، هغه لا ځوان ؤه خو هغه بله ښځه نه کوله، هغه به همېشه ویل چه بله ښځه زه ځکه نه کوم چه بیا به مې دا لور وهی، او دا لور په ما باندې د هر څه نه زیاته خوږه ده۔

د هغه که هر څومره خپلې لور سره مینه وه خو د هغه متعلق خلقو داسې مشهوره کړې وه چه پذیر ډېر شوم دې او د شومتیا د وجې نه بل واده نه کوی او د ځنې کسانو دا خیال وو چه پذیر له هسې هم څوك لور خور نه ورکوی ... ځکه چه هغه ډېر بدرنګ وو. هر څه چه وو خو حقیقت دا ؤ چه د هغه خپلې لور سره ډېره زیاته مینه وه.

د خدای قدرتونه وو چه څومره پذیر کاکا بدرنګ وو نو هغومره ئې لور ښائسته وه، هغه اوس ښه مکمله پېغله وه، د هغې د حسن خبرې هر ځای مشهورې وې، ولې تقریباً د شلو پنځوویشتو ورځو نه پرې د پلار څه شك پېدا شوې ؤ ځکه چه هغه څو کرت د شپې د بدرو کټ خوشې لیدلې ؤ او هم ددغومره مودې نه به مسلسل د څملاستو په وخت کښې د هغې سرته تك تور څادر پروت ؤ.

په دغه شپه خو ئې مکمل یقین راغلو ځکه چه د څو ورځو نه دا خبره مشهوره شوه چه د شپې شومه دم شی نو د دغه کلی نه د میان رېحان بابا ادیرې ته یوه ښځه په تور څادر کښې ځی، او د میان رېحان بابا منجور خو بیا تر دې حده پورې ددغې واقعې تصدیق اوکړو چه کوم وخت شومه دم شی نو ددغه کلی یوه جینۍ په تك تور څادر کښې راشی او د میان رېحان با با نه اخوا د یو قبر خوا کښې د زقوم بوټو ته لاړه


BEST COPY AVAILABLE

شي او چه لږه شيبه تېره شي نو ددغه ځايه يو ځلمې غونډې سرې بهر ته را اوځی او هغه جينۍ هم هلته پاتی شې.

خداې خبر چه ددغه هلك او جينۍ ملاقاتونه به د څومره ورځو نه هلته کېدل خو اوس پرې خلق خبر شول، او بيا چه د ميان رېحان بابا منجور يو درې شپې مسلسل اول دغه جينۍ او بيا هغه ځلمې اولېدل نو خبره سمه مشهوره شوه.

هغه نن د ماسخوتن نه د بدرو تور څادر په نخښه کړې ؤ، نن د هغه پوره يقين وو چه زه به په خپل مقصد کښې کامیابېږم۔

نن بدرو هم څه شکی شوې غونډې وه، هغې د پلار د رويې او لهجې نه پته لګولې وه، هغې ته هم د خپل ځان انجام معلوم ؤ، هغه په دغه خبره پوه وه چه وړاندې څه کېدونکی دی، ولې هغه اوس هيچرې نه شوه واپس کېدلې د هغې په زړه چه د کومې مينې هور بل ؤ هغه اوس هغې هيچرې نه شو مړ کولې، د هغې هر قدم د خطرې ؤ خو هغه په دې هم ښه پوه وه چه که په دغه وخت کې زه د خطرې نه اوويرېږم نو خداې پاك به رانه پښتنه کوی۔

هغې ته هغه خپل لوظ او اقرار ښه ياد ؤ، هغې ته هغه وخت هم د سترګو د وړاندې ؤه  چه کوم وخت هغې د يو څو کسانو په وړاندې لوظ کولو او اول ورته هغوی ټولې پېښېدونکې خطرې اوښودلې کومې چه به خامخا ....... پېښېدونکې وې... د هغې اقرار نه پس تر نن شپې پورې هغه پاتې نه شوه. هغه به هره شپه په خپله مينه کښې لېونې په خپل مقصد پسې وته.

خداې خبر چه ولې هغې خپله مينه د پلار نه پټه ساتله..... !  د هغې زړه ولې په خپل پلار زړور نه ؤ ...... !

او نن ....... نن هغه بالکل نه شوه پاتې کېدې، هغې به خواه مخواه ځان رسولو، د هغې په وجود د مينې لمبې نورې هم تېزې شوې وې۔ د هغې دغه وخت نور هم شك زيات شو چه د نور کله نه ئې پلار مخکښې اوده شو، او خلاف معمول په خوب کښې خرړېدو، خو بيا هم هغې خپل تور څادر په سر واچولو او د بالخت د لاندې نه ئې څه کسوره غونډې راواخسته لاس ئې پکښې اووهلو، يوکاغذ ئې  ترنه را اوويستو، غلی

غوندي ئ ورته داسي اوكتل لكه چه د خپل زره شك ئ ويستو او بيا ئ پكښي واچولو- او د پنجو په سر د كوره را اووته، او كه پذيرى كاكا ډېر كوشش كولو خو هغه په لاره دومره تېزه روانه وه چه كه هغه ته هغه ځاى نه وي معلوم نو خداي خبر كه به ئ لاندي كړي وه.

پذير غلى اول خان منجور ته را اورسولو او چه كوم وخت په توره شپه كښي منجور يو مندري غوندي سپوري توپك په لاس اوليدو نو ډېر سخت هېبت پري راغلو، او كه چري پذير پري اواز نه وي كړي او هغه پېژندلي نه وي نو خداي خبر چه په هغه به څه تېرېدل-

پذيركاكا غلى غوندي منجور ته اوويل «راځه او هغه ځاى اوښايه، كوم ځاى كښي چه هغه ښځه او سړي يو ځاى كيږى»-

منجور هغه سره روان شو او چه يو څو قدمه د ميان رېحان نه په وتو كښي وراندي شو نو وړاندي د زقوم د ونو گڼ بوټي وو، دوى چه غوږ كېښو نو څه كش كش كېدل شپږ يا لس منټه به تېر شوى نه وو چه د هغه ځاى نه يو خړ غوندي سپوري را اووتو او نېغ په قبرونو كښي د دوى په لاره روان شو، چه يو څو قدمه دوى ته رانزدي شو دوى اوكتل چه هغه په برېتو گتي اووهلي او د يو طرف نه تيټ برېت له ئ تاو وركړو-

د پذير ښه يقين پيدا شو چه دا هغه خلمي دي چه كوم له خما لور راځي، دغه وخت د هغه د توپك د شپيلۍ لاندي هغه خلمى راغلي ؤ چه چا د هغه په خيال د هغه حيا او غيرت د پښو لاندي دل كول- د پذير سر چكر وخوړو او هغه وخت په خان پوه شو چه كوم وخت ترق سره د ده د توپك د شپېلۍ نه لمبه وخته او د خلمي په سينه ورننوته - او د يو «وئ» سره د يو قبر دپاسه پرېوتو-

هغه په منډه د زقوم بوټو ته لاړو، د يو قبر په خوا كښي ئ د خپلي لور تور څادر او نور غوند غوندي پندوكي اوليد، گېر چاپېره ئ اوكتل، يو څو چغي ئ د «بدرو» «بدرو» اووهلي ولي هيڅ په پته پوه نه شو- او چه كوم وخت واپس راغلو او دخلمى د سره نه ئ پتكي راكښلو نو د سر وېښته ئ داسي دانه وانه شو كله چه د مور د مرگ نه پس به ور له پلار په گومنز دانه وانه كول - او څو دانه وانه كاغذونه د باد چپو سره

داسې يو خوا بل خوا والوتل لکه چه دوی د برطانې د حکومت خلاف انقلابی ډلې ته د خپلې سرغنه پېغلې د شهادت اطلاع ورکوله۔

## *Pre-reading*

### *Background*

Mir Mihdi Shah Mihdi is a journalist based in Peshawar, whose collected stories have been published in a book called د بودۍ تل (*Rainbow* ). Many of the stories in the collection have to do with revolutionary themes and occurrences: Mihdi was active in politics, in particular in the revolutionary movement led by Khan Abdul Ghafar Khan, the "Frontier Gandhi" who died in 1989. Abdul Ghafar Khan's party, called خدائی خدمتگر, or "God's Volunteers", was essentially anti-British, but from its members' uniforms, which were reddish-brown, they were thought to be communist. The movement also incurred the antagonism of many because women were allowed and encouraged to attend its rallies.

### *Key vocabulary*

| | |
|---|---|
| confirm *der. tr. vb.* [tasdiqaw-́] تصد يقو- | other side *phr.* [ákhwa] اخوا |
| gust *n, F1.* [chapá] چپه | graveyard *n, F1.* [adirá] اد يره |
| get dizzy *phr.* [chakár khwaṛ-] چکر خوړ- | message *n, F3.* [etlā́] اطلاع |
| contrary *adj 4.* [khelā́f] خلاف | testimony. *n, M2.* [ɪqrā́r] اقرار |
| extent *n, M2.* [ĥád] حد | ago *adv.* [agāhú] اگاهو |
| beauty *n, M2.* [ĥúsʊn] حسن | destiny *n, M2.* [anjā́m] انجام |
| dignity, face *n, F3.* [ĥayā́] حيا | revolutionary *adj 1.* [inqilābí] انقلابی |
| snore *smp. int. vb.* [khərəṛég-] خرړېږ- | pillow *n, M2.* [bāləkht] بالخت |
| gravestone *n, M3.* [tsə́lay] څلی | mustache *n, M2.* [bret] بربت |
| concerning *phr.* [mutaʕləq] متعلق | monster *n, F3.* [búbalā] بوبلا |
| spread out *phr.* [dāná wāna] دانه وانه | run *phr.* [pāra kég-] پاره کېږ- |
| mind, consciousness *n, M2.* [zéhən] ذهن | bundle *n, M3.* [panḍukáy] پنډوکي |
| take off *smp. tr. vb.* [rāksh-́] راکښ- | away from *phr.* [pə wáto ke] په وتو کې |

flame *n, F1.* [lambá] لمبه

way of talking, dialect *n, F1.* [lahajá] لهجه

travel *phr.* [mazál kaw-́] مزل کو-

continuing *adv.* [musalsál] مسلسل

travel *phr.* [mazál kaw-́] مزل کو-

unfortunate *n, M1.* [mazlúm] مظلوم

meeting *n, M2.* [malāqāt] ملاقات

shrinekeeper *n, M irreg.* [manjawár] منجور

journey *n, M2.* [manzál] منزل

focus on *phr.* [nəkhə kaw-́] نخښه کو-

joke *n, F1.* [nakhra] نخره

incident *n, F1.* [wāqe?ā] واقعه

fright *n, M2.* [haybát] هیبت

behavior, approach *n, F1.* [rawiyá] رویه

leading *adj 4.* [sarghaná] سرغنه

chest *n, F1.* [siná] سینه

suspicion, doubt *n, M2.* [shak] شك

stingy *adj 1.* [shum] شوم

bury *der. tr. vb.* [xakhaw-́] ښخو-

point out *smp. tr. vb.* [xud-́] ښود

listen *phr.* [ghwag gd-] غوږ ږد-

step *n, M2.* [qadám] قدم

bag *n, F1.* [katsoṛa] کسوړه

comb *n, M2.* [gumánz] گومنز

search *phr.* [lās wah-́] لاس وه-

## Scanning hints

1. The story is told by a narrator, and starts with his hearing of the death of "crazy Pazir". He describes Pazir's odd behavior and his terror of graves and graveyards. He then describes Pazir's home life and his daughter. He then recounts the incident which led to Pazir's fear of graves. Proper names in the story are

| | |
|---|---|
| The heroine | [budró] بدرو |
| Her father | [lewanáy pazír] لېوني پذیر |
| The object of the shrine | [myān rayhān bābā] میان ریحان بابا |

2. The story has been abridged: we have deleted descriptive and repetitive passages, and some phrases that are grammatically awkward. Our deletions are indicated as usual with three dots. Mihdi uses a series of dots as well for effect; they are represented with five dots.

3. Our copy of the original story is hand-written, and contains a number of idiosyncratic spellings and punctuation. Watch for commas which frequently occur at the ends of sentences. The spellings of the various ی sounds are more arbitrary than usual. We have changed only one spelling - the particle spelled ږه has been modernized to ږ.

4. The writer often shifts into direct address when describing his characters' thoughts and feelings.

### *Post-reading*

۱. لیونی پذیر بله ښځه ولی نه کوله؟

۲. د پذیر لور به د شپې چېرته تله؟

۳. پذیر منجور ته څه وویل؟

٤. د پذیر د توپك شپیلۍ لاندې څوك راغلی ؤ؟

٥. پذیر وروسته له دې چه د توپك له شپېلۍ نه یې لمبه وخته چېرته ولاړ؟

٦. پذیر د یوه قبر خوا ته څه ولیدل؟

۷. بدرو څوك وه او څه پرې وشول؟

### *Notes for Detailed Rereading*

1. Mihdi's style is quite loose - which unfortunately makes it difficult for non-native speakers of Pashto to follow. Watch for unusual word order, for repeated connective words like هم and خو ; and for the same idea expressed twice. We have rewritten some of the more obscure sentences and passages below.

2. There are several direct quotes in the description of Pazir's fear of graveyards. They are:

پذیر کاکا! په ادیره ورغلې
«هغه دې قبر ـ را وې نیسئ»
لېونیه! قبر دې

3. لېونی پذیر که هر څومره د نابلده کسانو په نظر کښې یوه نخره وه ولې بیا هم چه هغه چاته معلوم و نو د هغوی ورسره ډېره زیاته مینه وه.

is, in more foreigner-friendly Pashto:

لېونی پذیر د نابلده کسانو په نظر مسخره و خو چا چه پېژانده په هغو ډېر گران و.

4. The phrase تر مرگه پورې translates, of course, as 'until death'; its idiomatic meaning is 'never'.

5. کومه چه = the relative pronoun چه.

6. The phrase سفید پوش سړی is literally 'white-wearing man'. Here it means a dignified man.

7. د هغه ډېر کم خرڅ و: his expenses were low.

8. دهغه که هر څومره خپلې لور سره مینه وه خو د هغه متعلق خلقو داسې مشهوره کړې وه چه پذیر ډېر شوم دې او د شومتیا د وجهې نه بل واده نه کوی او د ځنې کسانو دا خیال وو چه پذیر له هسې هم څوك لور خور نه ورکوی ... ځکه چه هغه ډېر بدرنګ وو.

in more foreigner-friendly Pashto is:

په هغه خپله لور ډېره زیاته ګرانه وه. خلقو دا خبره پسې جوړه کړې وه چې دی د شومتیا له امله واده نه کوی. ځینې کسانو به لا ویل چې پذیر له هسې هم څوك خپله لور خور نه ورکوی. ځکه چه هغه ډېر بدرنګ وو.

9. د هغې سرته تك تور څادر پروت و: The girl of course wore her *tsādar* only when she was up and about, so it was odd of her to keep it close to her while she slept. The name Budro, by the way, is a diminutive; her real name was Budrəy. [-o] is a common diminutive ending for girls' names, e.g. دورخو in the previous story.

10. زه به په خپل مقصد کښې کامیابېږم is a direct quote.

11. پته لګولې وه : پته is literally 'address'. To discover the address of something is to see behind it, i.e. to perceive the underlying cause.

12. The sentence هغې ته هم د خپل ځان انجام معلوم و starts a digression on the state of Budro's mind, which continues for a couple of paragraphs.

13. ښه پوه وه چه که په دغه وخت کې زه د خطرې نه اووېرېږم نو خداې پاك به رانه پښتنه کوی ـ Budro is talking to herself, about what God would think of her on Judgment Day.

14. د خپل زړه شك ویستو: as if to remove her own doubts.

15. د پنجو په سر: on tiptoe

16. که پذیری کاکا ډېر کوشش کولو خو هغه په لاره دومره تېزه روانه وه
چه که هغه ته هغه ځاۍ نه وې معلوم نو خداې خبر که به لاندې کړې وه.

is, in more foreigner-friendly Pashto:

پذیر کاکا په ډېر چټکۍ پسې روان وخو هغه دومره تېزه روانه وه
چه که پذیری کاکا ته هغه ځاې نه وې معلوم چه دا ور روانه وه نو گومان
نه کوم چه لاندې کړې به یې وی.

17. د یو طرف نه تیټ بریټ له ې تاو ورکړو: The figure had a handlebar moustache, and while they were looking he gave the left side of it a twist downward..

18. دا هغه خلمې دې چه کوم له خما لور راخی: is a direct quote: Pazir is thinking to himself. In this phrase له = ته

19. د ټوپك د شپیلۍ لاندې: literally 'under the barrel of (one's) gun', i.e. in one's sights.

20. د پښو لاندې دل کو-: literally, 'crush *dal* under one's feet'; idiomatically, to crush or step on; here, Pazir's honor is being breached.

21. د .... په سینه : the chest of the shadowy figure with the moustache. The omission is Mihdi's, for reasons which will become clear in the next paragraph.

22. [wəy] وی is the sound one makes when he/she is badly wounded or hurt.

23. هیڅ په پته پوه نه شو: Here is the 'address' again. Pazir couldn't figure out what was going on - Budro was nowhere to be seen.

24. Lest you miss out on the climax of the story, here is the whole last paragraph rewritten in more friendly Pashto:

هغه په منډه د زقوم بوټو ته لاړو. د یو قبر په خوا کښې یې د خپلې
لور تور څادر او یو غونډ غونډې پنډوکې اولید؛ گېر چاپېره ئ اوکتل.
یو څو «بدرو» «بدرو» چغې یې ووهلې، ولې هیڅ په پته پوه نه شو.
چه کوم وخت واپس راغلو او دخلمی د سره نه یې پټکې راوکښلو نو د
سر وېښته یې داسې دانه وانه شو لکه چه د مور د مرگ نه پس به ور له
پلار په گومنز دانه وانه کول. څو دانه وانه کاغذونه د باد چپو سره
داسې یو خوا بل خوا والوتل، لکه چه د برطانې د حکومت خلاف
انقلابی ډلې ته یې د خپلې سرغنه پېغلې د شهادت اطلاع ورکوله.

## Answers to Unit 3 Exercises

Selection A.

۱. د تاماس توپك ډېر ښكلی او باوري ؤ.
۲. د تاماس خان اپريدی مخه بنارس خان ونيوله.
۳. ځكه دا كار په پښتنو كې يوه بې غيرتي ده.
٤. د تاماس خان گولۍ د بنارس خان په تندي ونښته.
٥. حتی كه يو قاتل او خوني هم د يوه پښتانه كره پناه يوسي، د كور خاوند پرې له سر اوماله تېرېږي.
٦. تاماس خان د بنارس خان د پلار په كاله ورننووت.
٧. د بنارس خان پلار تاماس خان ته عفوه وكړه.
٨. تاماس خان صحيح او سالم خپل كور اوكلي ته ولاړ.

Selection B.

۱. د قادر خان كور د كابل د علی آباد روغتون تر شا د غره په ډډې و.
۲. قادر خان به چه ټولگی ته ننووت تر هر څه دمخه به يې له خپلې قره قلی خولۍ څخه دوړې وڅندلې او د لاسونو له ويښتو څخه به يې وچې ختې وتوږلې.
۳. د قادر خان نوم ځكه ختمگر شو چه شاگردان وپوهېدل چه هغه ختې هم كوي.
٤. كلني امتحان ته څلور مياشتې پاتې وې چه د ښوونځي سر ښوونكی « ختمې » خپل دفتر ته وغوښته؟
٥. د « ختمې » لور ميمونه نومېده.
٦. ختمې چه رېږديده او خونې ته ننووت د زړه له كومي يې وژړل.
٧. « ختمې » د خپل شهيد زوی د عكس قاب په يوه اوسپنيز صندوق كې ايښی دی.

Selection C.

۱. درخانۍ په صوات کې د برې باز درې د یوه طاوس خان نومې پښتانه لور وه او آدم خان زړه پرې بایلوده.

۲. میرو او بلو د آدم خان یاران وو.

۳. درخانۍ د خپلې مینې دفتر آدم خان ته پرانست.

٤. د آدم خان پلار حسن خان ؤ او له میرمامی نه یې وغوښتل چه درخانۍ راولی.

۵. آدم خان درخانۍ د گوجر کره کښېنوله.

٦. د گوجر خان لښکر د پایاو خان له لښکر سره جنگ وکړ او گوجر خان ماتې وکړه.

۷. خلکو ماران کتل او آدم خان او درخانۍ یاران کتل.

۸. آدم خان یخنی ووهلو مړ شو او درخانۍ په آدم خان پسې مړه شوه.

Selection D.

۱. لیونی پذیر بله ښځه نه کوله چه لور به یې ووهی.

۲. د پذیر لور به د شپې د میان ریحان بابا هدیرې ته تله.

۳. پذیر منجور ته وویل: «راځه هغه ځای وښیه کوم ځای کې چه هغه ښځه او سړی یو ځای کیږي.»

٤. د پذیر د توپك د شپیلۍ لاندې هغه ځلمی راغلی و چه چا د هغه په خیال د هغه حیا او غیرت د پښو لاندې کول.

۵. پذیر په منده د زقوم بوټو ته ولاړ.

٦. پذیر د یوه قبر خوا ته د خپلې لور تور څادر او څه نور غونډ غونډی پندوکې ولیدل.

۷. بدرو د پذیر لور وه او خپل پلار ووژله.

# Unit 4: Poetry

## Introduction

The Pashtun tradition of written poetry dates back before Khoshal Khan Khattak - historical accounts of the Pashtuns mention poetry in the language as long ago as the 9th or 10th century A.D. The written tradition has coexisted with a (probably) longer tradition of Pashto oral folk poetry, which has its own rules of rhyme and meter. Both oral and written traditions are evident in modern Pashto poetry, as are very recent influences from western poetry.

Until very, very recently, to be an intellectual - or even to be literate - was to be a poet. The folklorist James Darmesteter, writing in the nineteenth century, summed the poet/intellectual up as follows (his bias can be attributed to his enthusiasm for folk poetry):

'...the *Sha-ir* is the literary poet, who can read, who knows Hafiz and Saadi, who writes Afghan Ghazals on the Persian model, who has composed a Divan. Every educated man is a *Sha-ir*, though, if he be a man of good taste, he will not assume the title; writing Ghazal was one of the accomplishments of the old Afghan chiefs. Hafiz Rahmat, the great Rohilla captain, Ahmed Shah, the founder of the Durani empire, had written Divans, were "Divan people," - *Ahli Divan,* as the expression runs. The *Sha-ir* may be a clever writer, he may be a fine writer ...'

Poets, as intellectuals, have been involved in the emergence of modern public life in Afghanistan, and for a long time were considered authorities on all subjects, including politics and government, by virtue of their erudition. The educated man not only had a store of poetry memorized, but also wrote poetry of his own. Before the forties, an appropriate poetic quotation constituted a logical argument for or against a point; even now, many Pashtun intellectuals have a store of memorized poetry - their own or others' - that they draw on for pleasure or to enhance their speech and writing.

In the sixties and seventies, as more and more Afghans were sent abroad for education, and as higher education developed in Afghanistan, the position of poetry and the poet in the society has become less central. Even so, poetry is still frequently the medium for expression of views on political and social subjects.

The most common form of Pashto poetry is the *ghazal*, of which there are examples in this unit. Poetic forms also include the *rubai,* the *qasida*, and the*kata*. The *rubai* is described in Selection A. A *kata* is exactly like a *ghazal* except that the first line does not rhyme; and a *qasida* is a longer poem (it might have as many as fifty or more lines) structured like the *ghazal*.

The selections in the unit are grouped by author, rather than by piece. Each poem is rephrased in prose, first to help you understand the poem, and second to show you the difference between ordinary and poetic language.

## Selection A

# الفت

## مات کودړی

١

١. د گودر په غاړه پروت ؤ مات کودړی
ویلی زه وم روغ منگی کلال جوړ کړی
٢. دلته لوبو کښې زه مات یوه زلمی کړم
یوې پېغلی په اوږه ومه راوړی

٢

٣. د جهان هره ذره کښې عشق عیان دی
مات کودړی سره هم د عشق داستان دی
٤. ډېر مېږ په دې گودر دی یو ځای شوی
ډېر منگی دلته مات شوی لنډ بیان دی

*Pre-reading*

Background

This poem appears on page 167 of غوره اشعار, a collection of Ulfat's poetry published by the Pashto Academy in 1955.

The verses in this poem are of a form close to the [rubāʔí] رباعی. The term's plural, رباعیات is familiar to western readers in the title *The Rubaiyat of Omar Khayyam*. A *rubai* consists of four half-lines, each of which is the same number of syllables; the first, second and fourth half-lines rhyme. Here is the most famous (to westerners) of Omar Khayyam's *rubai*, from the fourth edition of Edward FitzGerald's translation (1879). Note that the translation preserves the structure of the original and at the same manages English iambic pentameter:

A Book of Verses underneath the Bough
A Jug of Wine, a Loaf of Bread - and Thou
Beside me singing in the Wilderness -
Oh, Wilderness were Paradise enow!

In this poem of Ulfat's, the form deviates from that of the standard Pashto *rubai* in that each half-line has twelve syllables (standard Pashto *rubai* 's have ten or eleven), and in that the two verses are related (in standard *rubai* 's, the verses stand alone). The poem is on one of Omar Khayyam's themes, that the attributes of life and love are to be found in inanimate objects.

*Key vocabulary*

shard, piece of clay *n, M3.* [kawdə́ṛay] کودړی
shallows *n, M2.* [gudár] گودر
in short *phr.* [lánḍ bayān] لنډ بیان
broken *adj 1.* [māt] مات
story *n, M2.* [dāstā́n] داستان
atom *n, F1.* [zara] ذره
obvious, clear *adj 1.* [ʔayā́n] عیان
potter *n, M1.* [kulā́l] کلال

*Scanning hints*

1. Identify the rhyme scheme and the syllable structure of the verses.
2. Here is a prose version, with normal word order and deleted words restored:

۱. مات کودړی د گودر په غاړه پروت ؤ
ویلی زه روغ منگی وم، کلال جوړ کړی(وم)
۲. دلته یوه زلمی (په) لوبو کښې زه مات کړم
یوې پېغلې په اوږه (زه) راوړی وم
۳. عشق د جهان (په) هره ذره کښې عیان دی
د عشق داستان مات کودړی سره هم شته
۴. ډېر مین په دې گودر یو ځای شوی دی
لنډ بیان دی ډېر منگی دلته مات شوی دی

### *Notes for Detailed Rereading*

1. A گودر is basically a shallow place in a river or creek where people can wade across. As such, it is a place where water jars can be filled, and as water carrying is a woman's job, the village گودر is also the place where women gather. And where a lover goes to catch a glimpse of or maybe a few words with his beloved.

2. A منگی is a tall (two or three feet) clay jar with shoulders and a narrow neck with a handle. It can be slung over the back by its handle so that its weight is carried on the girl's shoulder.

3. The phrase لنډ بیان translates literally as 'short statement'.

# خوشحالی

۱. کوروکلی کښې سکوت او قراری وه
نه خندا وه نه د ووړکو څه مستی وه
۲. یو ناڅاپه را پیدا کوم لیونی شو
چه کتل مې په کوڅو کښې خوشحالی وه

## Pre-reading

**Background**

This short poem, also close in form to a traditional *rubai*, describes a simple village incident. Something unusual that happens in a village is a source of excitement for the children. The poem appears on page 184 of غوره اشعار .

**Key vocabulary**

liveliness, din *n, F2.* [mastí] مستی

child *n, M3.* [wóṛkay] ووړکی

suddenly *phr.* [yaw nātsā́pa] یو ناڅاپه

laughter *n, F3.* [khandā́] خندا

silence *n, M2.* [sukút] سکوت

quiet *n, F2.* [qarārí] قراری

**Scanning hints**

1. Identify the rhymes and syllable structure, and the way in which the poem deviates from the standard *rubai* structure.

2. Here is a prose version of the last two half-lines, with normal word order:

۲. یو ناڅاپه کوم لیونی را پیدا شو
کتل مې چه په کوڅو کښې خوشحالی وه

## Notes for Detailed Rereading

1. The word ووړکی is the diminutive of the usual word for 'child', ووړ , which is the adjective meaning 'small' used as a noun. Forms from other dialects are [waṛakáy] وړکی and [waṛúkay] وړوکی.

2. The term لیونی carries a connotation of divine madness: a لیونی is not bound by ordinary considerations, but is free to act as his inner spirit dictates.

# انسان

١. زه جسم نه یمه ما روح ددې جهان وگنه
ټیټ می مه بوله بام د خونې مې اسمان وگنه

٢. د خاورو گټو په تخت ناست یم په هوا کښې گرزم
ټول حیوانات می دی تابع ما سلیمان وگنه

٢. تیاره کښې نه یم په اسمان کښې مې ډیوه بلېږی
د اسمان واړه ملائك مې شاگردان وگنه

٤. دا ټول نقشونه د جهان او مختلف رنگونه
زما په ذوق او ارادې پسې روان وگنه

٥. په کایناتو باندی زه هر قسم لوبی کوم
بحرو فضا می د یوې مندی میدان وگنه

٦. شکایت نکړم له اسمانه څه گیله نلرم
زما له لاسه د فلك څیرې گرېوان وگنه

٧. سره له دومره اقتداره چه قدرت راکړی
په نری تار کښې می د زلفو اویزان وگنه

٨. د ښکلو مینه می په عقلو فکر لوبی کوی
چه ستا وربل شی پرېشان ما پرېشان وگنه

٩. د عشق پنجو نه نه خلاصېږم د لښکرو په زور
د ایاز مینه کښې اسیر شهنشاهان وگنه

١٠. د لیلی یو اشارت بس دی د عاقل دپاره
دعشق سودا کښې لېونی ډېر هوښیاران وگنه

١١. د عشق او مینی په حرم کښې زه لوی شوی یمه
څوك چه بې مینې ژوند کوی هغه حیوان وگنه

١٢. چه د جمال ډیوه شوه بله پتنگان شوه پیدا
لړی پتنگ و دغې شمع ته انسان وگنه

## *Pre-reading*

### Background

This poem (page 50 of غوره اشعار) is a [ghazál] غزل, which has the following characteristics:

- there are usually from seven to fourteen lines (*n, M2.* [bayt] بيت)
- each line consists of two half-lines (*n, F1.* [misrá] مصراع)
- each line must have the same syllable number as the first (*n, F3.* [matlā] مطلع).
- the half-lines of the first line must rhyme; the second half-line of each line thereafter must rhyme with the first line.

This poem is a celebration of the human spirit, expressed in a series of metaphors. Ulfat wrote this poem under the same constraints that hindered free expression in the *adabi parche* (see Unit 1). The various mentions of sky are deliberately ambiguous - they can refer either literally to sky and space, or they can be interpreted as referring to God. The writer could get away with talking about the sky - he could always argue that the censor misunderstood, and that he really was talking about the sky and space - whereas any mention of God in other than worshipful terms would get him in trouble.

### Key vocabulary

melancholy thought *n, F3.* [sawdā] سودا
complaint *n, M2.* [shekāyát] شكايت
candle *n, F1.* [sháma] شمع
shah of shahs *n, M1.* [shahenshā] شهنشاه
sky *n, M2.* [falák] فلك
power, God, nature *n, M2.* [qudrát] قدرت
stone *n, F1.* [gáṭa] گټه
grow up *der. int. vb.* [loyég-] لويږ-
differing, various *adj 1.* [mukhtalíf] مختلف
angels *n, M irreg. Pl.* [məlāyə́k] ملائك
painting *n, M2.* [naqsh] نقش

imprisoned *adj 1.* [asír] اسير
hint *n, M2.* [ɪshārát] اشارت
power *n, M2.* [ɪqtɪdār] اقتدار
hanging *adj 4.* [awezā́n] اويزان
ocean *n, M2.* [baḥə́r] بحر
moth *n, M1.* [patáng] پتنگ
sad *adj 1.* [pereshā́n] پريشان
subject *n, F irreg.* [tābáʔ] تابع
throne *n, M2.* [takht] تخت
body, matter *n, M2.* [jə́səm] جسم
curls *n, F1. Alw. pl.* [zúlfe] زلفې



ERIC

Scanning hints

1. Identify the rhyme scheme and syllable structure.

2. The poem is grammatically a series of commands, structurally parallel to English sentences like 'Consider me (to be) a lover of poetry'.

3. The poem is in first person; 'زه' is humanity, or man.

4. Here is a prose version, with ordinary word order, punctuation, and elided words restored:

١. زه جسم نه یمه، ما ددې جهان روح وګڼه.
ټیټ مې مه بوله؛ د خونې بام مې اسمان وګڼه.

٢. د خاورو (او) ګټو په تخت ناست یم، په هوا کښې ګرزم.
ټول حیوانات مې تابع (دي)، ما سلیمان وګڼه.

٢. (په) تیاره کښې نه یم، په اسمان کښې مې ډیوه باټړی.
د اسمان واړه ملائك مې شاګردان وګڼه.

٤. دا د جهان ټول نقشونه او مختلف رنګونه
زما په ذوق او ارادې پسې روان وګڼه.

٥. په کایناتو باندې زه هر قسم لوبې کوم.
بحرو فضا مې د یوې منډې میدان وګڼه.

٦. شکایت نکړم، له اسمانه څه ګیله نلرم.
زما له لاسه د فلك ګرېوان ځیرې وګڼه.

٧. له دا دومره اقتداره سره چه قدرت راکړی
په نرۍ تار کښې مې د زلفو اویزان وګڼه.

٨. د ښکلو مینه مې په عقل او فکر لوبې کوي
(کله) چه ستا وربل پرېشان شي، ما پرېشان وګڼه.

٩. د لښکرو په زور د عشق پنجو نه نه خلاصیږم،
د ایاز مینه کښې اسیر شهنشاهان وګڼه.

١٠. د لیلی یو اشارت د عاقل دپاره بس دی
ډېر هوښیاران د عشق سودا کښې لېوني وګڼه.



BEST COPY AVAILABLE

۱۱. د عشق او مینی په حرم کښې زه لوی شوی یمه
څوك چه بې مینې ژوند کوی هغه حیوان وګڼه.
۱۲. د جمال ډیوه (چه) بله شوه پتنګان پیدا شوه
د دغې شمع لړی پتنګ انسان وګڼه.

### *Notes for Detailed Rereading*

1. مې دی in line 4 is زما.

2. یوی منډی in line 10 is a phrase meaning the length one can run in one burst of energy.

3. In line 12, the phrase څیرې ګرېوان translates roughly as 'torn placket'. If you punish or threaten someone, you grab him by the placket of his shirt. (Remember that traditional Pashtun shirts/tunics are collarless, with a hole for the head and a hemmed slit down the front.) Someone with a torn placket is someone who has been insulted.

4. In line 18, the Ayaz referred to is a (male) slave Ayaz, whom the Shahenshah - a king - allowed to give him orders.

5. The Layla mentioned in line 19 can be any girl.

# زما خوب

۱. وربل يې ما په خوب کښې پريشان ليدلی دی
ستا بخت خو مې رقيبه دغه شان ليدلی دی
۲. د گلو هار په غاړه محبوبا شوه را حضوره
بلبله دا وطن مې گلستان ليدلی دی
۳. کارغان به پکښې نه وی بلبلان به پکښې وی
باغونه به سمسور وی ما باغبان ليدلی دی
٤. دا توره شپه به خدای کاندی په مونږ باندی سبا
سپين مخ مې چه سبا غوندی روښان ليدلی دی
۵. تعبير يې کړی ما په ظالمانو به چپه شي
چپه کاکل مې خوب کښې د جانان ليدلی دی
٦. مهار به دې په پوزه شی د سرو زرو خاونده
په سرو شوندو دپاسه مې پيزوان ليدلی دی
۷. زه پتې سترگې نه يمه په هر څه اوس پوهېږم
په خلاصو سترگو باندی ما جهان ليدلی دی
۸. له دامه که دې خلاص کړم په قفس کښې دې ايسار کړم
صياده! ما خو څورنگه زندان ليدلی دی
۹. عمل چه وی آزاد او انتقاد پکښې بندی وی
ما هلته د ظلمونو سخت طوفان ليدلی دی
۱۰. که هر يو رانه وژنی خيال او فکر مې مه وژنه
په دې کښې مې وطن ته لوی تاوان ليدلی دی

*Pre-reading*

Background

In this *ghazal*, Ulfat dreams, then interprets his dream: thoughts of love - the dream - are interwoven with social and political commentary - the interpretation. Our copy of the poem is on p. 203 of غوره اشعار.

Key vocabulary

- hunter *n, M1.* [sayā́d] صیاد
- flood *n, M2.* [tofā́n] طوفان
- oppressor *n, M1.* [zālə́m] ظالم
- cage *n, M irreg.* [qafás] قفس
- crow *n, M1.* [kārghə́] کارغه
- bangs *n, M2.* [kākwə́l] کاکل
- garden *n, M2.* [gwəlistán] ګلستان
- beloved *n, F3.* [maĥbubā́] محبوبا
- lead rope *n, M2.* [mahā́r] مهار
- *hair growing around face* [worbál] اوربل
- wreath, garland *n, M2.* [hār] هار
- put into *der. tr. vb.* [isāraw-́] ایسارو-
- gardener *n, M1.* [bāghbā́n] باغبان
- blocked, censored *adj 4.* [bandí] بندی
- nose *n, F1.* [póza] پوزه
- nose ring *n, M1.* [pezwā́n] پېزوان
- appear *der. int. vb.* [ĥuzurég-] حضورېږ-
- various *adj 4.* [tsóranga] څورنګه
- snare, trap *n, M2.* [dā́m] دام
- rival *n, M1.* [raqíb] رقیب
- bright *adj 1.* [roxā́n] روښان
- flourishing *adj 1.* [samsúr] سمسور

Scanning hints

1. Identify the syllable structure and rhyme structure of the poem.

2. In the first six lines, Ulfat alternates statements about his dream with statements about his interpretation of it. Then, in the last four lines, he shifts gears, and his comments (and vocabulary) are similar to those in his essay بېګنا بندی in Unit 1.

2. Prose version, with punctuation and elided words restored:

۱. ما يې وربل په خوب کښې پرېشان ليدلی دی.
اې رقيبه! ستا بخت خو مې دغه شان ليدلی دی!
۲. محبوبا د ګلو هار په غاړه را حضوره شوه.
بلبله دا وطن مې ګلستان ليدلی دی.
۳. کارغان به پکښې نه وي، بلبلان پکښې وي.
باغونه به سمسور وي: ما باغبان ليدلی دی.
۴. خدای به دا توره شپه په مونږ باندې سبا کاندی،
(ځکه) ما سبا غوندې سپين مخ روښان ليدلی دی.
۵. ما يې تعبير(داسې) کړی چه په ظالمانو به چپه شي.
(ما) د جانان چپه کاکل په خوب کښې پرېشان ليدلی دی.
۶. د سرو زرو خاونده! مهار به دې په پوزه شي.

ما په سرو شوندو دپاسه پیزوان لیدلی دی

۷. زه پتمی سترگي نه یمه په هر څه اوس پوهېږم

ما په خلاصو سترگو باندی جهان لیدلی دی

۸. صیاده! که دی له دامه خلاص کړم، په قفس کښې دی ایسار کړم.

ما خو څورنگه زندان لیدلی دی.

۹. (چېرته) چه عمل آزاد او انتقاد بندی وی.

ما هلته د ظلمونو سخت طوفان لیدلی دی.

۱۰. هر یو (چه) را نه وژنی، خیال او فکر می مه وژنه!

په دې کښې می وطن ته لوی تاوان لیدلی دی.

### *Notes for Detailed Rereading*

1. In line 4, کاندی = کوی

2. In line 5, the phrase چپه کاکل refers to the hair around one's face, tucked away from the eyes.

3. A مهار (line 6) is the line plus the nose ring of an ox or camel. A پیزوان is the decorative sort of nose ring worn by a girl or woman.

4. سرو زر (line 6) (literally 'red gold') is gold. سپین زر (literally 'white gold') is silver.

### *Post-reading*

۱. منگی د گودر غاړې ته چا راوړی ؤ؟

۲. په کوڅو کی ولی خوشحالی شوه؟

۳. الفت د «انسان» په شعر کې تول حیوانات د چا تابع بولی؟

٤. الفت دا خبره ولې کوې؟

٥. ایاز څوك ؤ؟

٦. «زما خوب» اساساً عشقی شعر دی او که سیاسی؟

۷. الفت پدې شعر کې د څه شی هیله کوی؟

## Selection B

## غنی

# ای زما وطنه !

اې زما وطن د لالونو خزانې زما!
ستا هره دره کښې دی د تورو نښانې زما

---

زه یم ستا د خاورې ته زما د مینې جوړه یې
ته مې د غیرت او د پښتو رنګینې جوړ یې
ته مې د نیکه او د بابا د وینې جوړ یې
ستا زړه کښې ویدې دی ټولې تللې زمانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما!
سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونو نه
عقل مې ایرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
ځار شمه قربان شم ستا دغرونو نه سیندونو نه
ستا هره دره کښې دی د تورو نښانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما!
ستا عزت چه نه وی زه به نوم او عزت څه کړمه
ته چه خوار او زار یې زه به خوب او راحت څه کړمه
ستا سر چه وی ټیټ نو به زه شان او شوکت څه کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وینې مستانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما
یا خو به دې سیال کړمه وطنه د جهان
یا به ستا په پښو کښې تورې خاورې کړم دا ځان
زه به درې ورې شم خو تا به کړم ودان
نر یمه پښتون یم تاته یادی افسانې زما
اې زما وطنه د لالونو خزانې زما

## *Pre-reading*

### Background

This poem has been popularized in song form by the singer Awal Mir, and has often been played on Kabul Radio.

Ghani (his full name is Abdul Ghani Khan Ghani Ashar) is the son of Khan Abdul Ghafar Khan, the "Frontier Ghandi" mentioned in Unit 3, Selection D. Ghani, now in his late seventies/early eighties, is considered one of the best Northwest Frontier poets. His writings are on social criticism - his entire family was involved in politics and Pashtun nationalism.

Our copy is taken from د غنی پلوشې, a collection of Ghani's poems published by the Pashto Academy in 1960/61.

### Key vocabulary

glory *n, M2.* [shān] شان

dignity *n, M2.* [shawkát] شوکت

honor *n, M2.* [ʔɪzát] عزت

sacrifice *n, M2.* [qurbā́n] قربان

ruby *n, M2.* [lāl] لال

lively *adj irreg.* [mastāná] مستانه

mark *n, F1.* [nexāná] نښانه

prosperous *adj 1.* [wadā́n] ودان

story *n, F1.* [afsāná] افسانه

sacrifice *n, M2.* [dzār] ځار

valley, gorge *n, F1.* [dará] دره

shattered *phr.* [dáṛe wáṛe] دړې وړې

rest, comfort *n, M2.* [rāhát] راحت

beautiful *adj 1.* [rangín] رنګین

miserable *adj 1.* [zār] زار

equal, rival *adj 1.* [syāl] سیال

### Scanning hints

1. The syllable structure of the poem does not match the punctuation in our copy. The first two lines are sort of a refrain, and rhyme. After the 'verses' - in this case three rhyming lines - a two-line refrain occurs which consists of one or both of the first two lines. If only one of the lines occurs, the second line in the refrain has the same rhyme as the other refrain lines. Go through the poem, marking the rhymes, and the pattern will become clear.



ERIC

2. Here are the lines, rewritten with normal word order and punctuated:

١. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
٢. زما د تورو نښانې ستا (په) هره دره کښې دی.
٣. زه ستا د خاورې(جوړ) يم، ته زما د مينې جوړ يې.
٤. ته مې د غيرت او د رنگينې پښتو جوړ يې.
٥. ته مې د نيکه او د بابا د وينې جوړ يې.
٦. زما ټولې تللې زمانې ستا زړه کښې ويدې دی.
٧. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
٨. سترگې مې (د) ستا د خاورو د کورونو نه لوگی شی.
٩. عقل مې (د) ستا د پاره د فکرونو نه ايرې شی.
١٠. ستا دغرونو نه سيندونو نه ځار شمه، قربان شم.
١١. زما د تورو نښانې ستا (په) هره دره کښې دی.
١٢. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
١٣. ستا عزت چه نه وی زه به نوم او عزت څه کړمه
١٤. ته چه خوار او زار يې، زه به خوب او راحت څه کړمه؟
١٥. ستا سر چه ټيټ وی، نو به زه شان او شوکت څه کړمه؟
١٦. (زه) به دې خاوره زما په مستانې وينې مسته کړم.
١٧. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!
١٨. وطنه يا خو به دې د جهان سيال کړمه.
١٩. يا به ځان ستا په پښو کښې تورې خاورې کړم.
٢٠. زه به دړې وړې شم، خو تا به ودان کړم.
٢١. نر يمه پښتون يم تا ته زما افسانې يادې دی.
٢٢. اې زما وطنه! د لالونو خزانې زما!

### *Notes for Detailed Rereading*

1. تللي in line 6 translates best as 'past' or 'bygone'.

2. The phrase سترګي مې لوګی شه in line 8 is an idiom; to make smoke of some part of one is to sacrifice it. The poet offers to sacrifice his eyes, which as the most important part of his body, amounts to an offer to sacrifice his whole self.

3. Line 14 - ستا عزت چه نه وی زه به نوم او عزت څه کړمه: 'If you have no honor, what use are name and honor to me?' The next two lines are roughly parallel.

### *Post-reading*

۱. غني خان پدې شعر کې د خپل وطن دپاره څه غواړي؟

۲. غني خان خپل عزت او نوم په څه شي کې غواړي؟

۳. غني خان ولې غواړي چه خان درې ورې کړي؟

From the joke book:

استاذ: عابده! ستا په ځناورو کښې کوم يو خوښ دی؟
عابد: استاذجی، پیشو.
استاذ: ولی دې پیشو خوښه ده؟
عابد: ځکه چه کله زه د غوښې کټوې نه په غلا غوښه خورم الزام په پیشو لګی.

| | |
|---|---|
| animal *n, M irreg.* [dzənāwár] ځناور | teacher *n, M1.* [ustā́z] استاذ |
| *masculine name . n, M2.* [ʔābíd] عابد | be blamed *phr.* [ɪlzām lag(ed)-] الزام لګ- |
| clay pot *n, F1.* - [a] [kaṭáw] کټو | kitty *n, diminutive* [pishó] پیشو |



ERIC Full Text Provided by ERIC

## Selection C

# بینوا

### د کوهستان شفق

۱. هندکش په سر لمبې دی — که آسمان سره کناره ده
۲. د کوم سوی زړگی آه دی — یا د وینو فواره ده
٢. که چنگیز د عصر توره — چه له تېکی را ښکاره ده
٤. یا خو بل د مینې اور دی
د فلك پرې سوی کور دی

٥. د سکندر د وخت شهید دی — په حسرت گوری بگرام ته
٦. یا لیوال روح د عاشق دی — چه ورځي د یار سلام ته
٧. یا واله د سرو شرابو — چه توئیږي یوه جام ته
٨. دا میدان د کربلا دی
که سالو سور د لیلا دی

٩. دا زړگی د آسمان وچاود — که سینه د دیوانه ده
١٠. یا ساقی له لاسه ښکته — چپه شوې پیمانه ده
١١. او که درس د عبرت لیك دی — ښه رنگینه افسانه ده
١٢. مونږ ته یاده جانبازی کړی
د نیکونو سربازی کړی

*Pre-reading*

## Background

Benawa, one of whose *adabi parche* is given in Unit 1, Selection C, is better known for his poetry. This poem is a capturing of his musing as he watches the sun set behind the horizon in Kohistan, an area north of Kabul at the foot of the Hindu Kush. The structure of the poem is reminiscent of Pashto folk poetry.

The poem was probably written at the end of the fifties. Our copy was published (page 33) in [preshān afkār] پرېشان افکار ('troubled mind') which is a collection of some of Benawa's poetry published by the Pashto Academy in the late fifties.

## Key vocabulary

cupbearer *n, M1.* [sāqí] ساقي
bravery *n, F2.* [sarbāzí] سربازي
Alexander the Great *n, M2.* [skandár] سکندر
burning, aflame *adj 2.* [sə́way] سوی
chest *n, F1.* [siná] سینه
wine *n, M irreg. Alw. pl.* [sharāb] شراب
horizon *n, M2.* [shafáq] شفق
lesson *n, M2.* [ebrát] عبرت
time *n, M2.* [ásər] عصر
sky *n, M2.* [falák] فلك
fountain *n, F1.* [fawārá] فواره
edge, shore *n, F1.* [kenārá] کناره
writing *n, M2.* [lik] لیك
anxious *adj 1.* [lewāl] لېوال

story *n, F1.* [afsāná] افسانه
*sound of a sigh.* [ah] آه
flame *n, M2.* [bal] بل
cup of wine *n, F1.* [paymāná] پیمانه
pour *der. int. vb.* [toʔég-] توئېږ
scabbard *n, M3.* [tékay] تېکی
bowl *n, M2.* [jām] جام
sacrifice *n, F2.* [jānbāzí] جانبازي
Genghis (Khan). *n, M1.* [changéz] چنگېز
burst*smp. irreg. vb. Pst.* [chāwd-] چاود-
dismay, frustration *n, M2.* [hasrát] حسرت
crazy man *n, M1.* [dewāna] دېوانه
colorful *adj 1.* [rangín] رنگین
heart *n, M2.* [zərgáy] زړگی

## Scanning hints

1. Identify the rhyme scheme and the syllable structure of the poem.

2. The poem is grammatically a series of simple questions, e.g. "Is it x, or is it y?". (The که 's translate as 'or'.) Here is a prose version, with punctuation and elided words restored:

۱. (دا د) هندکش په سر لمبی دی، که د آسمان سره کناره ده،
۲. د کوم سوی زړگی آه دی، یا د وینو فواره ده،
۳. که د چنگیز د عصر توره چه له تېکی را ښکاره ده؟
۴. یا خو د مینی اور بل دی او د فلك کور پرې سوی دی.

۵. (دا) د سکندر د وخت شهید دی(چه) په حسرتبگرام ته گوری،
۶. یا لیوال روح د عاشق دی چه د یار سلام ته ورځی،
۷. یا واله د سرو شرابو چه یوه جام ته توئیږی؟
۸. دا د کربلا میدان دی که د لیلا سور سالو دی؟

We have included in this section two news briefs, two articles, and two translations from English. Each piece has been rewritten in normal, grammatical Pashto, so that you can by comparing the fractured and normal versions get a sense of what fractured Pashto 'feels' like. We have, in the case of the two translations from English, included the English originals as well; if you compare the English and the fractured Pashto, you will see clearly how the translator approached his task. And in the case of the second English piece, we hope you will sympathize as strongly with the translator as we do.

## Selection A

1.

د صوبدار شیرنواب او محررو اصف شاه
کارکردگی د ستائنیی وړ ده

---

تانه (نمایندہ وحدت) د تانی مالاکند ایجنسی خلقو د تانی څوکئ په انتظامیه خصوصاً د صوبدار شیرنواب او محررواصف شاه په کارکردگی او ایمانداریٔ باندی د زره له تله مبارکی ورکوی او دوی د پرخلوصه ډیوتی تعریفونه کوی وړمه ورځ په کالج چوك تانه کښی د سیاسی کسانو سره د تیزو خبرنه ورستو دوی اوئیل چه مونږ د چا په سیاسی دباو کښی نه راځو او به د چا سفارشی رشته داراو دوست په ناجایزه کار کښی مرسته کولی شو د تانی خلقو دموجوده نوی انتظامیی سره د هر قسمه تعاون کولو یقین د هانی اوکره د موجوده انتظامیې د ایمانداریٔ ژوندی ثبوت د وړمی ورځ د غلا ملزمان په یوه گنته کښی دننه دننه نیول او د غلا بعضی سامان برآمد کول دی.

### *Pre-reading*

*Background*

These two pieces are news briefs from the 6/20/92 issue of the newspaper *Wahdat*, published in Peshawar. In this first brief, the correspondent praises Sobadar Sher Nawab and Maharer Wasif Shah, two members of the police force in the village of Tana, for their behavior during an incident at College intersection (د کالج چارسو).

Here is the piece in normal Pakistani Pashto:

د صوبه دار شیر نواب اومحرر واصف شاه د ښه کار ستاینه

د ملاکند ایجنسئ کښې د تانی کلی خلك پدغه کلی کښې د پولیسو د عملی او په خاصه توگه د صوبه دار شیرنواب او محرر واصف شاه د ښه کار ستاینه کوی او هغوی ته مبارکی وایی چه خپله وظیفه په ډیره

ایمانداریٔ سر ته رسوی. د تانې د پولیسو دغو مامورینو ورمه ورځ
د کالج چارسو کښ ځینی سیاسی کسانو سره تندی ترخی خبری اوکړی.
د هغی نه ورسته ئی اوویل چه د چا د سیاسی فشار لاندی به نه
راځی او نه به د چا خپلوان یا دوست سره ناجایزه ملاتړ کوی. د سیمی
خلکو مامورینو سره د هر ډول همکاری لوظ اوکړ او وی ویل مامورین
په ډېرې ایمانداری خپله وظیفه اجرا کوی او ثبوت ئی دادی چه د ورمی
ورځی دغلا مسئول کسان یی په یوه ساعت کښ رااونیول او غلا شوی
سامانونه یی هم را پیدا کړل.

Key vocabulary

| | |
|---|---|
| accomplish *phr.* [ sár ta rasaw´] - سر ته رسو | carry out *phr.* [ɪjrā kaw´] اجرا کو |
| (police) force, *n, F1.* [ʔamalá] عمله | good deed *n, F1.* [intizāmiyá] انتظامیه |
| pressure *n, M2.* [fəshā́r] فشار | sincerity *n, F2.* [imāndārí] ایمانداری |
| hour *n, F1.* [ganṭá] گنټه | support *n, M2.* [ta ʔāwə́n] تعاون |
| responsible, guilty *adj 1* [masʔúl] مسئول | praise *n, M2.* [taʔríf] تعریف |
| accused (person) *n, M1.* [mulzə́m] ملزم | pressure *n, M2.* [dabā́w] دباو |
| illegitimate *adj 41* [nājāyíz] ناجایز | contact *n, M1.* [rishtadár] رشته دار |

Scanning hints

1. Read the normal Pashto version before tackling the fractured version.

2. Guess: ډیوټی پولیس ایجنسیٔ

### *Notes for Detailed Rereading*

1. The term سفارشي denotes a person who uses his influence for improper purposes, such as hiring a relative for an important position.

2. The phrase [túnde tárkhe khabáre kaw-] تندی ترخی خبری کو- translates literally as 'exchange bitter words', i.e. to argue.

3. The phrase په خاصه توګه translates best as 'especially'.

3. The following are Urdu words imported into the Pashto:

good deed *phr. w/ n, F2.* [kar kardagí] کارکردګی

sincere *adj 4.* [porkholúsa] پرخلوصه

promise *n, F2.* [yaqindahānī] یقین د هانی

recover (stolen goods) *phr.* [barāmad kaw-́] برآمد کو-

2.

د مشهور صحافی سرور سهیل د خوی علاج دسرکاری
اوشی وزیر اعلی سرحد نه دایم یوجی غوښتنه

---

تانه (نمائنده وحدت) د مالاکند یونین آف جرنلستس (ایم یوجی) یو اجلاس د سینتر پریس سکیرټری بادشاه شیرین وصال په صدرات کښې د سکرټری تعلقات عامه روئیداد علی ګوهر په خائی کښې ورمه ورځ اوشو چه پکښې افس سکرټری جنید اقبال او پریس سکرټری فضل معبود صائم نه علاوه ګنو صحافیانو ګډون وکړو. په اجلاس کښې متفقه طور دا قرارداد منظور کړی شو چه دایم یوجی جنرل سیکرټری سرور سهیل د خوی څوك چه له تیرو یولسو میاشتو په سخته بیماری کښې مبتلا پروت دی دعلاج بندوبست د سرکاری اوکړی شی.

اجلاس کښې د وزیر اعلی سرحد نه غوښتنه اوکړی شوه چه د ... صحافی د خوی علاج د سرکاری اوکړی شی چه هغه خپلی توجه د قوم ملك د خیر ښیګړی پلو یو څل بیا ور اوګرځوی.

## *Pre-reading*

### *Background*

This news brief tells what happened at a meeting of the Malakand Union of Journalists. It lists the important persons who attended the meeting, as well.

The Press as an institution is fairly powerful in Pakistan; it is not considered out of line for the press to make recommendations of the nature of the one mentioned in this brief.

Here is the brief in normal Pakistani Pashto:

د ملاکنډ د جرنلستانو ټولنه د صوبه سرحد د وزیر اعلی نه غوښتنه کوی چه د نامتو جرنلست سرورسهیل د زوی علاج دی حکومت پخپله اوکړی.

د ملاکنډ د جرنلستانو ټولنی، د مطبوعاتی چارو د سرمنشی بادشاه شیرین وصال د ریاست لاندی د عامه تعلقاتو د منشی، روئیداد علی گوهر، په کور کښ یوه غونډه اوکړه چه د دفتری چارو منشی جنید اقبال او د مطبوعاتو منشی فضل معبود صائم نه علاوه گڼ جرنلستان پکښ موجود وو. په غونډه کښ په گډه دا پیشنهاد منظور شو چه حکومت دی ددی ټولنی د عمومی منشی سرور سهیل د ناروغه زوی د علاج مسئولیت پخپله غاړه واخلی چه هغه د قام او ملك خدمت ته وزگار شی. د سرور سهیل زوی د تیرو یولسو میاشتو راهیسی رنځور پروت دی.

### *Key vocabulary*

meeting, *n, M2.* [ijlā́s] اجلاس

illness *n, F2.* [bemārí] بیماری

toward *adv. w/* ... د [paláw] پلو

attention *n, F3.* [tawajóh] توجه

since *adv.* [rāhíse] راهیسی

governmental *adj 4.* [sarkārí] سرکاری

welfare *n, F1.* [xegə́ṇa] ښیگڼه

province *n, F1.* [sobá] صوبه

journalist *n, M1.* [sahāfí] صحافی

presidency *n, M2.* [sadarā́t] صدرات

treatment *n, M2.* [ʔelā́j] علاج

besides *adv. w/* له...نه [alāwá] علاوه

contract *n, M2.* [qarārdā́d] قرارداد

one who suffers *n, M1.* [mubtalā́] مبتلا

collectively *phr.* [motafeqá tawə́r] متفقه طور

approve *der. tr. vb.* [manzuraw-́] منظورو-

be agreed *der int. vb.* [manzurég-] منظورېږ-

outstanding, famous *adj 4.* [nāmtú] نامتو

be free *der. int. vb.* [wuzgārég-] وزگارېږ-

provincial minister [wazire aʔlá] وزیر اعلی



ERIC

Scanning hints

1. Read the normal Pashto version of the brief before you tackle the fractured Pashto version.

2. The dots in the third to last line of the fractured Pashto indicate a word that is unreadable (it is printed to faintly in the original, and there isn't enough context to make a good guess).

3. The brief mentions the following, listed below with their titles in Pashto and English:

Person: باد شاه شیرین وصال
English Title: general/center press secretary
Pashto Title: د مطبوعاتی چارو سرمنشی

Person: جنید اقبال
English Title: office affairs secretary
Pashto Title: د دفتری چارو منشی

Person: باد شاه شرین وصال
English Title: general press secretary
Pashto Title: د مطبوعاتی چارو سرمنشی

Person: فضل معبود صائم
English Title: press secretary
Pashto Title: د مطبوعاتو منشی

Person: روئیداد علی گوهر
English Title: secretary of public relations
Pashto Title: د عامه تعلقاتو منشی

Person: سرور سہیل
English Title: general secretary
Pashto Title: عمومی منشی

## *Notes for Detailed Rereading*

1. The term صحافی translates from Pakistani Pashto as 'journalist'; the same term in Afghan Pashto translates as 'bookbinder'.

2. In the phrase دی حکومت پخپله اوکری in the normal Pashto headline, the پخپله indicates that the government itself is being asked to pick up the expenses.

3. The word قرارداد usually means 'contract'. In this context, however, it clearly refers to a decision.



ERIC

4. The word سرحد, which usually translates as 'border', is also used to refer to the Northwest Frontier Province (which is of course the border between Afghanistan and Pakistan, and India before Pakistan was established) in Pakistan.

### *Post-reading*

۱. د مالا کند د ایجنسي د تانې خلك صوبدار شیرنواب او محرر واصف شاه ته د څه شي مبارکی ورکوی؟

۲. په کالج کي چا له سیاسی کسانو سره تېزي خبري وکړي؟

۳. د تانې څوکی د انتظامیي د ایمانداری ژوندی ثبوت څه شی دی؟

٤. د مالاکند د ایجنسی د ژورنالستانو اتحادیي د چا تر ریاست لاندي غونډه وکړه؟

٥. پدي غونډه کي چا ګډون کړی ؤ؟

٦. غونډی څه فیصله وکړه؟



ERIC

## Selection B

ډوډۍ سلګون ته وختته

که لوستونکو ته په یاد وی چی موږ په همدی ستون کی تر همدی کلیشی لاندی پیشبینی کړی وه د ښار نانوایانو چی په خودمختاره ډول یی د پنځوسی په مقابل کی د ډوډی د عرضه کولو رسالت په غاړه اخستی وو نو د مربوطو نواحیو موافقه یی هم د ځانه سره درلوده او د یوی ورځی نه یی بلی ورځی ته وزن بایلود سلګون ته د لوړولو بهانی لټولی. چی دا دی زمونږ همدغه پیش بینی مصداق ته ورسیدله او یو شمیر نانوایانو پخوانی ډوډی چی د پنځوسی په مقابل کی به یی عرضه کوله سلو افغانیو ته لوړه کړی ده او په دی ارتباط د غلی په مندوی او د بیو په لوړوالی حواله ورکوی.

که څه هم کابل ښاروالی هڅه کوی. نانوایان دی ته اړ کړی چه د ټاکلی وزن په مقابل کی په ټاکلی او عادلانه بیه پخه ډوډی عرضه کړی خو حقیقت دا دی چی د هر کسب خاوند د بیو لوړوالی پلمه نیولی او د میم زرما ټوله زما کیسه یی مخکی کړی ده.

عام ښاریان چه د همدی نانوایانو څخه یی روزی تامینیږی بر سیره پر دی چی د پخی ډوډی د وزن او سپکوالی نه شاکی دی د ډوډی د کیفیت نه هم سرونه ټکوی او په تیره بیا هغه نانوایان چه د کورنیو دپاره ډوډۍ پخوی د چونګی د پټولو او بی کیفیته ډوډی پخولو په سر لانجی دی سرحد ته رسیدلی دی چی کورنی د اوړو د اخستلو دپاره زړه نه ښه کوی.

تر کومه ځایه چه د ښاریانو په شکایاتو پوری اړه لری د یو مخی همدا خبره کوی چی د لسګون اقتصا دی ډوډی پخولو ساحه د پراخه کړی شی او ددی دپاره چی هر مستحق ته په خپل وخت بی له ټیلی تمبی ډوډی په لاس ورشی یونوی او اغیزمن میکانیزم دی ورته جوړ شی.

کوټوال ئیس



ERIC

## *Pre-reading*

### Background

This piece is a column in *Anis,* a newspaper published in Kabul. It appeared on April 2, 1992 when different groups of *mujaheddin* were fighting one another for control of the city. Basic necessities were in very short supply at the time, and as a result the prices of everyday goods were sky-high. The price of bread - the flat, thick, oval Afghan bread - was a sore subject for the residents of Kabul, and this column blames the city's bakers for raising the price of a loaf to 100 afghanis. It makes the point that the bakers had volunteered to keep the price to 50, but at the same time had reduced the weight of the loaves, then offered a regular-sized loaf at the raised price.

Families in Kabul provide bread for themselves in two ways: they either buy the baked loaves from the baker, or they prepare the dough at home, then take the shaped, unbaked loaves to the baker who, for a price or a share of the total bread, bakes the bread in his oven.

Here is the selection in normal Pashto:

د ډوډۍ نرخ سلو افغانيو ته لوړ شوی دی.

نان بايانو په خپله خوښه دا منلې وه چه يوه ډوډۍپه پنځوس افغانۍ
خرڅه کړی او پدی برخه کې يې د مربوطو ناحيو موافقه تر لاسه کړی
وه. خو لکه څنگه چه مونږ پيش گويی کړې وه، اوس دوی يوه ډوډۍ
چه وزن يې ورځ په ورځ کمېږی، په سل افغانۍ خرڅوی او ددې
کار دليل د اوړو د نرخ لوړيدل گڼی.

البته د کابل ښاروالی هڅه کوی نانبايان دې ته ار کړی چه ډوډۍ په
عادلانه نرخ خرڅه کړی. خو نانبايان، لکه نورو کسبگرو غوندې، د خامو
موادو د لوړيدلو په بهانه پنځه واړه گوتې په خوله مندی.

عام ښاريان هم د ډوډۍ د وزن له کمېدلو نه شکايت کوی او هم يې
د کيفيت له خرابېدلو نه سر ټکوی. د نانبايانو په اصطلاح چونگی کولو
او د بی کيفيته ډوډۍ پخول، ډيرې کورنۍ دومره په تکليف کړی چه
نور د اوړو اخستو ته زړه نه ښه کوی.
د کابل ښاريان ټول په يوه غږ وايی کومه ډوډۍ چه لس افغانۍ
خرڅيږی هغه دې د ښار په ټولو برخو کې دومره زياته پخه او خرڅه



ERIC Full Text Provided by ERIC

شی چه هرڅوك یې په ډیره اسانی واخستی شی.

## Key vocabulary

light weight *n, M3.* [spəkwā̃lay] سپکوالی

column *n, M2.* [sutún] ستون

complain [sarúna ṭakaw-́] سرونه ټکو-

one who complains *adj 4.* [shākí] شاکی

municipality *n, M3.* [xārwālí] ښاروالی

city-dwellers *n, M1.* [xāryā́n] ښاریان

fair, just *adj 1.* [ʔādíl] عادل

supply *phr.* [arza kawə́l] عرضه کو-

trade, profession *n, M2.* [kə́səb] کسب

artisan *n, M1.* [kəsəbgə́r] کسبگر

problem *n, F1.* [lānjá] لانجه

raise *inf. phr.* [lwaṛaw-́] لوړو-

height *n, M3.* [lwaṛwā̃lay] لوړوالی

reader *n, M3.* [lwəstúnkay] لوستونکی

deserving one *n, M2.* [mustaħéq] مستحق

proof *n, M2.* [misdā́q] مصداق

materials *n, M irreg. Pl.* [mawā̃d] مواد

baker *n, M1.* [nānwā̃y], [nānbā̃y] نانبای

weight *n, M2.* [wázan] وزن

try *phr.* [hátsa kaw-́] هڅه کو-

effective *adj 1.* [aghizmán] اغیزمن

force *der. tr. vb.* [aṛaw-́] اړو-

flour *n, M irreg.* [wṛə] اوړه

excuse, rationale *n, F1.* [bahāná] بهانه

expand *der tr. vb.* [pərākhaw-́] پراخو-

fifty-worth *adj 4.* [pəndzosí] پنځوسی

in trouble *phr.* [pə taklíf] په تکلیف

over *phr.* [pə sár] په سر

speculation *n, F3.* [peshbiní] پېشبینی

prediction *n, F2.* [pish guwí] پېش گویی

be provided *der. int. vb.* [tāminég-] تامینېږ-

shoving *phr.* [ṭelá tambá] ټیله تمبه

refer to *phr.* [ħawālá warkaw-́] حواله ورکو-

raw *adj 1.* [khām] خام

rise *smp. int. vb.* [khat-́] خت-

worsen *der. int. vb.* [kharabég-] خرابېږ-

voluntary *adj 4.* [khwədmukhtára] خودمختاره

all of them *phr.* [de yáw məkhe] د یو مخی

mission *n, M2.* [resālát] رسالت

area *n, F1.* [sāħá] ساحه

## Scanning hints

1. Read the normal Pashto version of the selection before you try the fractured Pashto version.

2. Guess: کلیشه میکانیزم

*Post-reading*

١. نانبایانو د پنځوسو افغانیو دوډۍ څو افغانیو ته لوړه کړې ده؟

٢. ښاریان له څه شي سر ټکوي؟

٣. د کابل ښاروالی هڅه کوي چه نانبایان څه شي ته ار کړي؟

٤. ښاریان له څه شي نه شاکي دي؟

٥. ښاریان له یوې مخې څه خبره کوي؟

*Notes for Detailed Rereading*

1. A سلګون is a bill - in any currency - of 100 units, in this case, a 100-*afghani* note; in parallel, the term لسګون refers to a 10-*afghani* note. The suffix [-gun] ګون- can be applied to any number, e.g. if a Pashtun were discussing American currency, the phrases یوګون ، پنځګون ، لسګون, etc., could be used.

2. The word [nawāhí] نواحۍ is an Arabic plural, incorrectly "Pashto-ized" by being spelled with the ۍ. The singular is [nahiyá] ناحیه ; it translates as 'district'.

3. It is clear from context that the author means something like 'make excuses' with the phrase پلمه نیولی Pashtuns say پلمه کول-, however.

4. A چونګی is a stolen piece. Sometimes, when a family brings its dough to the oven to be baked, the baker snitches a piece of the dough. The snitched piece is the chungi, and several chungis are reshaped and baked into a loaf.

5. The phrase پنځه واړه ګوتې په خوله مندي translates literally as 'put all five fingers into [one's] mouth. It is a phrase expressing someone's greed.

6. The phrase په اصطلاح would be rendered in English by quotation marks around whatever follows it. The author is indicating that the term چونګی is not in normal written Pashto usage.

7. The phrase [mimzarmā̃ ṭola zmā̃] میم زرما تول زما translates roughly as 'all for me', and is an indication of selfishness or mean-spiritedness.

8. بر سیره پر دی translates best as 'besides', or 'in spite of'.

9. The phrase ... ته زړه نه ښه کو- is an idiom translating as 'not have the heart for ...'

From the joke book:

یوه کلال په خره ډیر بی اندازی بار اچولی ؤ. کله چه هغه یوه ښار
ته ننوتو نو خلقو ډیر سخت ملامت کړ چه «تا په دومره کمزوری
خره دومره بار ولی اچولی دی.
کلال د خره مخ ته وړاندی شو او ورته وې ویل: ماته معلومه نه
وه چه ته په دې ښار کښی دومره خپلوان لرې.

potter *n, M1.* [kulā̃l] کلال

excessive, without measure *adj 4.* [be andāzé] بی اندازی

load *n, M2.* [bār] بار

blame, criticise *der. tr. vb..* [malāmátaw-] ملامتو-

## Selection C

Hewad 3/11/92

زرینه ورانگه
خاص د روژی لپاره
له دی کبله روژه د اسلام مبارك دین کی د تقوی او پرهیزگاری اصل او بنسټ گڼل شوی دی. چی دا یو داسی خاموش، چوپ او مخفی عبادت دی چی هیڅ ډول ریا او ښودنه په کی ځای نه لری. هو تر هغوی چی سری په خپله خوله چا ته ددغه ستر عبادت ښکارونه و نه کړی نو نور خلك پری نپوهیږی. چی په حقیقت کی همدغه لوړ صفت د ټولو عبادتونو او اخلاقو بنسټ جوړوی.
د همدغه خلوص او اخلاص او بی ریایی اثر دی چه الله تعالی (ج) د روژی په خصوص کی وفرمایل (روژه نیوونکی یوازی زما دپاره خپل اوبه او خواړه او نور لذتونه پریږدی نو له دی کبله روژه زما ده او زه به د هغی اجر ورکوم.)
دا خو یو څرگند او ښکاره حقیقت دی. چی د هر نیك او ښه عمل د اجرور کونکی لوی او مهربانه خدای دی. خو دا چی د روژی سترتوب لوی والی او عظمت خلکو ته ښه څرگند شی. نو پاك خدای د اجر او ثواب ورکول د خپل ځان پوری منسوب کړی، دی. دا هم یو څرگند حقیقت دی چی د روژی د نیولو له کبله ستړنزه گاالل یعنی د لوږی اوتندی زغم کول هم یو ډول صبر دی. چه له دی کبله روژه نیوونکی سربیره پر دی چی روژه یی نیولی ده د صابرانو په ډله کی هم راتلی شی او د صابرانو د صبر ثواب به هم ورته ورکړ شی...

### *Pre-reading*

*Background*

زرينه وړانګه is literally 'sunbeams', and is a column title under which various feature articles appear in the newspaper *Hewad* published in Kabul. The features are usually about some aspect of conduct or religion. This selection is the first few paragraphs of a long piece about fasting, which appeared at the beginning of the month of fasting in 1992.

The structure of the sentences strongly suggests that it was translated close to word-for-word from Persian.

Here is the piece in normal Pashto:

خاص د روژی دپاره:

روژه د اسلام په مبارك دين كې د تقوی بنسټ ګڼل شوی دی. ځكه دا داسی عبادت دی چه هيڅ ډول ريا او تظاهر پكښی نشته. كه يو انسان خپله چا ته ونه وايی، بل څوك نه پری پوهيږی چه هغه روژه نيولی ده او كه نه......؟

مسلمانان خاص د خدای تعالی د رضا د حاصلولو د پاره روژه نيسی. ځكه نو خدای تعالی وايی: «څوك چه روژه نيسی هغه اوبه، خواړه او نور لذتونه فقط زما په خاطر پريږدی. څرنګه چه روژه زما په امر نيوله كيږی نو اجر يی هم زه وركوم» په حقيقت كی خو د هر نيك عمل اجر خدای وركوی. مګر ددې دپاره چه د روژې عظمت ښه په ډاګه شی نو پاك خدای پدې خبره تاكيد كوی چه د روژې اجر دی خپله وركوی. څرنګه چه د روژې نيول خپله يو ډول ستر صبر دی نو څوك چه روژه نيسی هغه دصابرانو په ډله كی هم راځی او خدای يی د صبر اجر هم وركوی.

*Key vocabulary*

gain *der. tr. vb.* [hāsəlaw-́] حاصلو-

sake *n, M2.* [khātə́r] خاطر

quiet *adj 1.* [khāmósh] خاموش

Great Lord *phr.* [khwdāy taʔālá] خدای تعالی

sincerity *n, M2.* [khulús] خلوص

reward *n, M2.* [ájər] اجر

clear, obvious *phr.* [pə ḍāga] په ډاګه

insist *phr.* [tākíd kaw-] تاكيد كو

affectation *n, M2.* [tazāhór] تظاهر

virtue *n, F3.* [taqwā́] تقوی

| | |
|---|---|
| fasting *n, F1.* [rozhá] روژه | quality, merit *n, M2.* [sefát] صفت |
| fast *vb. phr.* [rozhá nis-́] - روژه نیسـ | act of piety *n, M2.* [ʔebādát] عبادت |
| hypocrisy *n, F3.* [riyā́] ریا | greatness *n, M2.* [ʔazmát] عظمت |
| suffer *phr.* [zghám kaw-́] -زغم کو | say, decree *smp. tr. vb.* [farmāy-́] -فرمای |
| greatness *n, M2.* [stərtób] سترتوب | just, only *adv.* [faqát] فقط |
| suffer, *phr.* [stúnza gāl-́] -ستونزه گال | enjoyment *n, M2.* [lezát] لذت |
| besides [sarbéra pər de] سربیره پر دی | greatness *n, M3.* [loy wā́lay] لوی والی |
| affectation *n, F1.* [xkārawə́na] ښکارونه | sacred *adj 1.* [mubārak] مبارك |
| show, sham *n, F1.* [xodə́na] ښودنه | hidden *adj 4.* [makhfí] مخفی |
| patient *adj 1.* [sābə́r] صابر | attribute *der. tr. vb.* [mansubaw-́] - منسوبو |
| patience *n, M2.* [sabə́r] صبر | good deed *phr.* [nék ʔamal] نیك عمل |

*Scanning hints*

1. The composition of this piece is such that there is no logical connection between the sentences and paragraphs. It reads as a series of unconnected statements about fasting.

2. Watch for the following synonyms:

تقوی او پرهیزگاری
اصل او بنسټ
خاموش، چوپ او مخفی
ریا او ښودنه
خلوص او اخلاص او بی ریایی
سترتوب، لوی والی او عظمت
اجر او ثواب

### *Post-reading*

۱. روژه د اسلام مبارك دین کې څه ارزښت لری؟

۲. په کوم عبادت کی ریا او تظاهر ځای نه لری؟

۳. الله تعالی د روژې په باره کې څه ویلی دی؟

٤. روژه نیوونکي ولی د صابرانو په ډله کې هم راځي؟

## *Notes for Detailed Rereading*

1. The word [xkārawə́na] ښکاروونه in the fractured Pashto version is a neologism, along the lines of something like 'showoffhood' in English. Pashtuns use. the word تظاهر .

په کال ۱۹۸۹ کې یوه ورځ افغانانو په پېښور کې دافغانستان د پخوانی پاچا په طرفداری مظاهره کړې وه. د مظاهرې په وخت کې د اخوانیانو یوې ډلې وغوښتل چې دغه مظاهره رنگه کړی. کله چې اخوانیان مظاهرې ته ور ورسېدل ورروسته له یو څه ناندریو نه یې خبره جنگ ته ورسېده. یوه غربی خبریال یوې رادیو ته د دغه جنگ رپوټ ورکړ او په هغه کې یې ولیکل چې اخوانیانو د پاچا طرفداران په «تو بای فور» وهل. «تو بای فور» داسې یو چاهاررخه د ختگرو چوبگز ته ورته لرگی دی چې یوه خوا یې دوه انچه وی او بله خوا یې څلور. خو دې رپوټ په پښتو ترجمه کې ویل شوی وو چې په جنگ کې دوو تنو اخوانیانو څلور تنه د پاچا طرفاران وهل.

تړی -

| | |
|---|---|
| fundamentalist *n, M1.* [ɪkhwānáy] اخوانی | disperse *der. tr. vb.* [ṛangaw-´] رنگو- |
| four-sided *adj 4.* [chārrákha] چاهاررخه | demonstration *n, F1.* [muzāhará] مظاهره |
| yardstick, level *n, M2.* [chobgáz] چوبگز | (bitter) exchange *n, F2.* [nāndráy] ناندری |
| reporter *n, M1.* [khabaryā́l] خبریال. | |

English words: تو بای فور انچه



ERIC

## Selection D

د کابل رژیم د نسکوریدو په حالت کی دی
دوناتیلا لوریچ
د افغان مجاهدین یو قوماندان وویل په افغانستان کی د هر غره په خوا کی پاچا دی.
هغه په خپلوخبرو کی څرگنده کړه چه ولی د مجاهدینو د مشرانو لپاره دا سخته بریښی چی خپلومنځو کی د افغانستان لپاره د حکومت په طرز باندی موافقه وکړی چی باید د روسانو د وتلو نه وروسته جوړ شی.
په پیښور کی، چی د افغان سرحد څخه ۲۵ کیلو متره فاصله لری، میشته خارجیان پدی شرط تړی چی د روسانوتر وتلوپوری به هیڅ شی پیښ نشی.
د پیښور په امریکن کلپ کی د خبرونو په تخته یو خبر داسی لوستل کیږی: "د کابل د اسونو مسابقی ته دننوتلو ټکټ ۱۰۰ روپی (۵ ډالره)" او بیا په یوه وړه چاپی پانه داسی لیکل شوی : "هغه ډیری نږدی وخت چی د کابل رادیو یو اسلامی جمهوریت اعلانوی، د لاتری جایزه گټی."
له مخکښی نه هلته دنومونو یو اوږد لست چی د ۱۹۸۹ د فروری د نیمایی څخه تراکتوبر پوری نیټی ور سره ملگری دی، موجود دی.
د کلپ یوی غړی څرگنده کړه "زه په مجاهدینو شرط تړم اود هغوی د مشرانو لپاره د بریالیتوب امکان نه وینم."
د خارجیانو او افغانانو دواړو لپاره یو شان د کابل د رژیم نسکوریدل او د افغانستان ازادی یوه جواری گرځیدلی ده په دیرو لږو ځایونو کی داسی عقیده موجوده ده چی د افغان مجاهدینو مشران به وکولای شی چه دفروری له ۱۵ څخه مخکښی چی د روسانود پووره وتلو نیټه اعلان شویده، یو با ثباته سیاسی عبوری حکومت رامنځ ته کړی.
په کابل کی دغه جواری د یو ډارونکی حالت په څیر ده یعنی کله چی روسان وتلی وی او د سولی هیڅ تړون موجود نه وی زیات خلك په پایتخت باندی د گوریلایانو د یرغل احساس کوی.

بهرني حکومتونه خپلو ديپلوماتانو ته د بيرته ورتګ امر ورکوی، او زيات خلك د وينو د حمام څخه په ويره کی دی. د بی بی سی راديو په دی هفته کی رپوټ ورکړ چی د کابل ښار د خوراکی موادو د مخ په زياتيدونکی کمبود اود لوږی د خطر سره مخامخ دی. په داسی حال کی چی د مجاهدينو قوماندانان د افغانستان په برخليك باندی د جنګ په ډګر کی تصميم نيسی. په دی نږدی ورځو کی دوی د جلال آباد په ښار باندی خپله کلابندی سخته کړيده. د جګړی څخه د خوندی پاتی کيدو له کبله د جلال آباد له سيمی څخه د کډوالو نوی بهير را روان دی چی شمير ئی زرهاوو تنو ته رسيږی او اکثره ئی زاړه خلك، ښځی او ماشومان دی چی د وارورو له ډکو غاښو څخه تيريږی او پاکستان ته ننوځی. ...

*Pre-reading*

*Background*

This article is translated from 'In Peshawar Everyone Awaits the Fall of Kabul', by Donatella Lorch, published in *The New York Times* , January 24, 1989. Here is the original (p. A8) (the last section of the article has been deleted):

IN PESHAWAR, EVERYONE AWAITS THE FALL OF KABUL
by Donatella Lorch
*Peshawar, Pakistan, Jan. 23* - "In Afghanistan behind every mountain there is a king," an Afghan guerilla commander said.

His words helped explain why the Afghan guerrilla leaders are finding it so hard to agree among themselves on what kind of government their country should have once the Soviet Union has completed its expected troop withdrawal in mid-February.

Foreigners in this city 25 miles from the Afghan border are betting that nothing will be decided until the Soviet troops have left.

At the Peshawar American Club, a sign on the bulletin board reads: "Kabul Sweepstakes, 100 rupees ($5) to enter." And then in smaller print: "The closest date to when Kabul radio announces an Islamic republic wins the jackpot."

Already there is a long list of names accompanied by dates ranging from mid-February to October 1989. "I'm betting on the muj, certainly not on the chances of anyone of the leaders getting their act together," explained one club member - muj being the affectionate term for the guerrillas or mujahedeen...

Fall of Kabul a Gamble

For Westerners and Afghans alike, the fall of Kabul and the "liberation" of Afghanistan has become a gamble. Few place any faith in the ability of the Afghan guerrilla leaders to create a viable interim government before Feb. 15, the announced date of the completion of the Soviet troop withdrawal.

In Kabul, the gamble is of a deadlier sort. With the Soviets all but gone and no peace agreement in sight, many people are bracing for a guerrilla assault on the capital. Foreign governments are ordering their diplomats home, and many fear a blood bath. The BBC this week reported the city is suffering increasingly severe food shortages and danger of starvation.

While the leaders squabble in Peshawar, the guerrilla commanders are deciding Afghanistan's fate on the battlefield. Most recently they have tightened the siege around the eastern city of Jalalabad. Escaping the fighting, new waves of refugees from the Jalalabad area, numbering in the thousands, mostly old men, women and children, have been seen crossing over the snow-covered passes into Pakistan. ...

And here is a translation into normal Pashto:

د کابل رژیم د نسکوریدو په حالت کی دی

دوناتیلا لوریچ

یوه افغان مجاهد وویل «په افغانستان کې د هر غره شاته یو امیرناست دی.» د هغه دا خبره ددې تکی له څرگندولو سره ښه مرسته کوی چه د مجاهدینو مشران ولی په خپل منځ کې پدې موافقه نشی کولی چه د شوروی عسکرو له وتلو نه وروسته په خپل ملك کې څه ډول حکومت جوړ کړی. ټاکل شوې ده چه شورویان خپل ټول عسکر د فبروری د میاشتی تر دوهمې یا دریمې هفتې پورې له افغانستان نه وباسی.

کوم خارجیان چه په پیښور کې اوسیږی هغوی داسی اټکل کوی چه د مجاهدینو مشران به د یوه آینده حکومت د څرنگوالی په باره کې تر هغوکومې موافقې ته ونه رسیږی څو چه شوروی عسکرله افغانستان نه، نه دی وتلی.

د خارجیانو خبره اوس پدې باره کې ټوکو او ملنډو ته رسیدلې ده. په پیښور کې د امریکایانو په کلوب کې د اعلاناتو په تخته دا عبارت لیکل شوی: «راځئ سل سل روپۍ (٥ ډالره) شرط وتړو چه مجاهدین به څه وخت د حکومت په جوړولو موفق شی.» پدې پسې په وړو حروفو

دا عبارت لیکل شوی دی: «ټولی د شرط پیسې به هغه څوك وګټی چه په کابل راډیو کې د یوه اسلامی حکومت دجوړیدلو د اعلان د نیټی په باره کې یې تر ټولونه حقیقت ته نژدی اټکل کړی وی.» پدې مسابقه کې ډیر زیات خلك داخل شوی دی. ټولو خپل نومونه پر تخته لیکلی او هر یوه له خپل نامه سره په کابل راډیو کې د یوه اسلامی حکومت د اعلان اټکلی تاریخ هم ثبت کړی دی. دا تاریخونه د نولس سوه نه اتیایم کال د فبرورۍ له نیمایی نه ددغه کال تر اکتوبره پورې رسیږی.

اما د کلوپ یوه غړی وویل: «زه پدی شرط ترم چه مجاهدین به څه وکړی، نه پدې چه ګوندې د هغوی کوم مشر به څه وکړی.» اوس هم خارجیان او هم افغانان د کابل د سقوط او د افغانستان د ازادیدلو په باره کې اټکلونه کوی. ډیر خلك داسی فکر کوی چه د مجاهدینو مشران به د روسانو د ټولو عسکرو له وتلو نه دمخه یعنی د فبرورۍ تر پنځلسم پورې داسی موقتی حکومت جوړ نه کړی شی چه بقا او دوام ولری.

په کابل کې خلك د مرګ او ژوند له سوال سره مخامخ دی. هلته خلك پدې ویره کې دی چه روسان به دمخه تر دې چه د افغانانو دښمنی ډلې کومې موافقی ته سره ورسیږی له افغانستان نه ووزی او په کابل کې به د مجاهدینو حملې پیل شی. ځکه نو خارجی حکومتونه خپلو دپلوماتانو ته هدایت ورکوی چه خپلو ملکونو ته ولاړ شی. دوی ډیر له دې ډاریږی چه په کابل کې به د وینو لښتی وبهیږی. بی بی سی په روانه هفته کې اعلان وکړ چه په کابل کې خواړه ورځ په ورځ بیخی کمیږی او ددې خطر شته، چه خلك به له لوږی مړه شی.

د مجاهدینو مشران په پیښور کې په جنګ او دعوی لګیا دی، خو د مجاهدینو قومندانان پدې کې دی چه د افغانستان سرنوشت دجګړی په میدان کې وټاکی. قومندانانو په دې وروستیو وختو کې د جلال آباد ښار بیخی کلك کلا بند کړی دی. کوم نوی مهاجر چه له جلال آباد نه د جنګ له امله تښتی د هغوی شمېر زرګونو تنو ته رسیږی او اکثره یې سپین ږیږی، ښځی او ماشومان دی. دغه مهاجر په واورو پټو غرونو نه تیریږی، پاکستان ته اوړی. ...

Key vocabulary

fall *n, M2.* [soqút] سقوط
question *n, M2.* [suā́l] سوال
bet, gamble *phr.* [shárt taṛ-] - شرط تړ
destiny *n, M2.* [sarnawíšht] سرنوشت
type, quality, form *n, M2.* [tarz] طرز
transitional *adj 4.* [ʔuburí] عبوری
militia *n, M1.* [askár] عسکر
distance *n, F1.* [fāsɪlá] فاصله
refugees *n, M irreg.* [kaḍwā́l] کډوال
besieged *adj 1.* [kalabánd] کلابند
siege *n, F2.* [kalabandí] کلابندي
scarcity *n, M2.* [kambúd] کمبود
help *phr.* [mrásta kaw-́] - مرسته کو
contest *n, F1.* [musābaqá] مسابقه
interim *adj 4.* [muwaqatí] موقتي
fine print *phr.* [wāṛə ĥorúf] واړه حروف
order *n, M2.* [hedāyát] هدایت

guess *n, M2.* [aṭkál] اټکل
possibility *n, M2.* [imkā́n] امکان
stable, solid *adj 4.* [ba sobā́ta] با ثباته
destiny *n, M2.* [barkhlík] برخلیك
success *n, M2.* [baryālaytób] بریالیتوب
viability, stability *n, F3.* [baqā́] بقا
determine *phr.* [tasmím nis-́] - تصمیم نیس
be scheduled *phr.* [ṭākəl kég-] - ټاکل کېږ
record, write *der. tr. vb.* [sabtaw-́] - ثبتو
prize *n, F1.* [jāyazá] جایزه
squabbling [jáng aw daʔawā́] جنگ او دعوی
outside (area) *n, M2.* [khāríj] خارج
be safe [khwandi pate kég-] - خوندي پاتي کېږ
shape *n, M3.* [tsərəngwā́lay] څرنگوالی
enmity *n, F3.* [duxmaní] دښمني
scary *adj 2.* [ḍārawúnkay] ډارونکی
current, ongoing *adj 1.* [rawā́n] روان

Scanning hints

1. Read both the original English and the normal Pashto version before tackling the fractured Pashto translation. Compare the English and fractured Pashto to see how the original English has influenced the translator.

2. Guess:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکتوبر | بی بی سی | تکټ | ډیپلومات | رپوټ |
| رژیم | کیلومتر | گوریلا | لاټري | لست |

### *Post-reading*

۱. د مجاهدينو مشران ولې په خپل منځ کې پدې موافقه نه شي کولی چه د شوروي عسکرو له وتلو نه وروسته څه ډول حکومت جوړ کړي؟

۲. کوم خارجيان چه په پېښور کې اوسيږي هغوی څه فکر کوي چه د مجاهدينو مشران به د يوه آينده حکومت په باره کې موافقې ته و رسيږي او کـ نه؟

۳. په پېښور کې د امريکايانو په کلوب کې داعلاناتو پر تخته څه ليکل شوي دي؟

٤. د کابل د سقوط په باره کې څوك اټکلونه کوي؟

٥. په کابل کې خلك له څه شي سره مخامخ دي؟

٦. څوك له دې داريږي چه په کابل کې به د وينو لښتې و بهيږي؟

۷. د مجاهدينو مشران په پېښور کې په څه شي لګيا دي؟

۸. کوم نوي مهاجر چه له جلال آباد نه تښتي د هغوی شمېر څوو ته رسيږي؟

### *Notes for Detailed Rereading*

1. The phrase راځئ سل سل روپۍ (٥ ډالره) شرط وترو translates idiomatically as 'let's each of us bet 100 rupees...'

2. د اسونو مسابقه in the fractured Pashto version is a horse race.

3. The word برخليك in the fractured Pashto version was created by the translator. The usual Pashto word for 'destiny' is سرنوشت

4. د وينو لښتې, literally 'stream of blood' in the normal Pashto version is an idiomatic translation of the English 'bloodbath'. د وينو حمام in the fractured Pashto version is a literal translation that has comic effects.

## Selection E

ملی آزادی ببنونکی غورځنګونه:
دا اصطلاح د دریمې نړۍ په هېوادونو کې د استعمار د له منځه وړلو په مفهوم په کار اچول شوې ده، او په ۱۹٦۰ کلونو کې د نویو آزادو شویو خلکو اوملتونو د آزادۍ په اعلامیو کې زیاته راوړل شوې ده. دا اصطلاح د لویدیځ امپریالیزم د پاتي ته رسولو له پاره د زرو په کار اچول را بولي، او زیات وختونه دا ډول زور د ډاراچونی په تکتیکی شکل کې را ښکاره شوی دی. دا اصطلاح اوس په یو موجوده نظام باندې د برید په صورت کې هم د مطلب د روښانولو له پاره په کار اچول کیږي...

د دریمی نړۍ د هېوادونو له خوا دا تعریف وړاندې کړای شو:
د استعماري، فاشستي او بهرنی رژیمونو د زور او وحشت نه ډك هغه اعمال، چې د آزادۍ ګټلو د مبارزینو پر ضد کیږي، او د فاشستی رژیمونو د بقایاوو او اجیرانو له خوایی ننګه او ملاتړ کیږي، هغوی چې د نورو خپلواکو هېوادونو پر ضد هم فعالیتونه کوي، د افرادو یا ډلو په لاس د زور او وحشت هغه اعمال چې د بی ګناه خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کوي، د انسان بنستیز حقوق له پښو لاندې کوي، او د استعماری او فاشستی رژیمونو لاندې خلکو د آزادۍ او د خپل سرنوشت د ټاکلو طبیعی حقوقو ته زیان رسوي، او یا د انسان په آزادۍ نور داسې ډول ډول بندیزونه لګوي. د زور هغه اعمال چې د انفرادی او شخصي ګټو د لاس ته راوړلو له پاره تر سره کیږي، چې زیان یی یوازې له هېواد پورې تړلی نه وي....

### *Pre-reading*

*Background*

These paragraphs are taken from the translation into Pashto of *The Soviet Union and Terrorism,* by Roberta Goren, 1984. It was translated into Pashto as part of a project undertaken, during the Soviet occupation of Afghanistan, by WUFA with funding from USIS. The project involved the translation into Pashto and Dari of books and articles on communism.

It is clear from the translation that the English of the original book, which as you can see is not particularly written with ease of reading in mind, was too much for the translator, not to mention that the concepts discussed are not those that translate easily into Pashto in the first place.

Here is the original English of the paragraphs:

'National Liberation'

This is a phrase coined by the Third World nations to describe the process of decolonization, as expressed in the Declaration for Granting of Independence to Colonial Countries and Peoples in 1960. It legitimizes the use of force to destroy colonialism (meaning past Western colonialism only) and often this force is represented by the use of terrorist tactics. The term is now used to describe an attack on the established order even when colonialism no longer exists. (pp. 12-13)...

'Another attempt [to define the term *international terrorism* ] came from a group of non-aligned nations which offered the following definition:

> acts of violence and other repressive acts by colonial, racist, and alien regimes against peoples struggling for their liberation... tolerating or assisting by a state or organization of the remnants of fascists or mercenary groups whose terrorist activity is directed against other sovereign countries; acts of violence committed by individuals or groups of individuals which endanger or take innocent human lives or jeopardize fundamental freedoms or affect the inalienable right to self-determination and independence of all peoples under colonial and racist regimes and other forms of alien domination ... acts of violence committed by individuals or groups of individuals for private gain, the effects of which are not confined to one State.' (p. 13)

And here is the passage translated into normal Pashto:

د خپلواکۍ غورځنګ :

دا اصطلاح، لکه څنګه چه استعمار لاندې ملکونو ته د خپلواکۍ د ورکولو په هغې اعلاميه کې توضيح شوې چه په نولس سوه شپېتم کال کې خپره شوې ده، د درې يمې نړۍ هيوادونو د استعمار د ختمولو د تحريك

په مفهوم استعمال کړې ده. ددې تحریك اصول خلکو ته اجازه ورکوی چه د استعمار د ختمولو دپاره له زور نه کار واخلی او ددغه زور د استعمال دپاره اکثره تروریستی لارې چارې غوره شوې دی. ( دلته د استعمار مطلب تېر غربی استعمار دی.) د «خپلواکۍ غورځنګ» اوس هم، سره له دی چه استعمار ختم دی، په یوه مسلط نظام باندې د حملې په معنا استعمالیږی....

د ناپییلو هېوادونو یوه ډله د بین المللی تروورزم په باره کې وایی: دا هغه له تشدد نه ډك او نور ظالمانه اعمال دی چه استعماری، د نژادی توپیر پالونکی او خارجی رژیمونه یې د هغو ولسونو پر ضد کوی چه د خپلې خپلواکۍ دپاره مبارزه کوی. دا د یوه دولت یا موسسې له خوا هغو فاشستانو یا اجېرو عسکرو ته مرسته ورکول یا هغوی ته د فعالیت اجازه ورکول دی چه تروورستی فعالیت یې نورومستقلو هیوادونو ته متوجه وی. دا د هغو ډلو او افرادو له تشدد نه ډك اعمال دی چه بېګناه انسانان وژنی او یا د هغوی ژوند یا بنیادی ازادۍ په خطر کې اچوی یا د ټولو هغو ولسونو د خودارادیت مسلم حق او ازادی متاثروی چه د استعماری او نژادی توپیر طرفدارو رژیمونو تر تسلط او یا کوم ډول خارجی سلطې لاندې ژوند کوی. دا هغه له تشدد نه ډك اعمال دی چه افراد او یا ډلې یې د خپلو شخصی ګټو دپاره کوی او اثرات یې یوازی په یوه دولت پورې محدود نه وی.

Key vocabulary

finish, end *n, M2.* [khátəm] ختم
self determination *phr.* [khud ɪrādiyát] خود ارادیت
racial *adj 4.* [nezhādi] نژادی
discrimination *n, M2.* [tawpír] توپیر
terrorism [ḍār āchawə́na] ډاراچونه
clarify *der. tr. vb.* [ruxānaw-́] روښانو
domination *n, F1.* [salatá] سلطه
cruel *adj 4.* [zalemaná] ظالمانه
movement *n, M2.* [ghurdzáng] غورځنگ
activity *n, M2.* [fāliyát] فعالیت
western *adj 1.* [lwedídz] لویدیځ
struggle *n, F1.* [mubārazá] مبارزه
militant *n, M irreg.* [mubāríz] مبارز
affect *der. tr.* [mutāseraw-́] متاثرو-
directed *adj 4.* [mətawajé] متوجه
limited *adj 1.* [mahdúd] محدود
dominant *adj 1.* [musalát] مسلط
inalienable *adj 1.* [musalám] مسلم
nonaligned *adj 2* [nāpeyə́lay] ناپیيلی
support *n, F1.* [nánga] ننگه
mercenary *n, M1.* [ajír] اجیر
liberation *phr.* [azādi baxúnki] آزادی ببښونکی
imperialism *n, M2.* [ɪstɪʔmār] استعمار
declaration *n, F1.* [ɪʔlāmiyá] اعلامیه
act, action. *n, M2.* [aʔmāl] اعمال
individual *adj 4.* [ɪnfɪrādí] انفرادی
remnant *n, F3.* [baqāyā] بقایا
restriction *n, M2.* [bandíz] بندیز
basic *adj. 1* [bansəṭíz] بنسټیز
basic *adj 4.* [bunyādí] بنیادی
advocate *n, M3.* [pālúnkay] پالونکی
against *phr.* [pər zə́d] پر ضد
in case of *phr.* [pə surát ke] په صورت کي
utilize *phr.* [pə kār achaw-́] په کار اچو
movement *n, M2.* [tahrík] تحریك
domination *n, M2.* [tasalút] تسلط
violence *n, M2.* [tashadúd] تشدد
definition *n, M2.* [taʔríf] تعریف
tactical *adj 4.* [taktikí] تکتیکی
be explained [tawzih kég-] توضیح کېږ-

Scanning hints

1. Read the English original and the normal Pashto version of the paragraphs before you tackle the fractured Pashto version./

2. Guess:

امپریالیزم ترورزم/تروروستی تکتیکی رژیم فاشست/ فاشستي

### *Post-reading*

۱. د «خپلواکۍ غورځنګ» د درې یمې نړۍ په هیوادونو کې څه مفهوم لری؟

۲. د «خپلواکۍ غورځنګ» اوس څه معنا لری؟

۳. تروریزم د کومو ډلو څه ډول اعمال دی؟

٤. کوم اعمال چه افراد یا ډلی یې د خپلو شخصی ګټو دپاره کوی او اثرات یې یوازې په یوه دولت پورې محدود نه وی، هغه په څه نامه یادیږی؟

Sign seen in Peshawar:

افغان
ریستورنټ ایند سنیك بار
تیلفون ٦٣١٢٤

## Answers to Post-Reading Questions

Selection A.

۱. د مالا کند د ایجنسي د تاني خلك صوبدار شیرنواب او محرر واصف شاه ته د هغوی د ایمانداری مبارکی ورکوی.

۲. د مالاکنډ ایجنسی د تاني خلکو له سیاسی کسانو سره تېزی خبرې وکړې.

۳. د تاني څوکۍ د انتظامیې د ایماندارۍ ژوندی ثبوت د ورمې ورځې د مالونو پیداکول دی.

٤. د مالاکنډ د ایجنسی د ژورنالستانو اتحادیې د شیرین وصال تر مشرۍ لاندې غونډه وکړه.

٥. پدې غونډه کې د جنید اقبال او فضل معبود نه علاوه ګنو صحافیانو ګډون کړې وه.

٦. غونډې فیصله وکړه چه د سرور سهیل د زوی د علاج بندو بست دې سرکاری وکړی شي.

Selection B.

۱. نانبایانو د پنځوسو افغانیو ډوډۍ سلو افغانیو ته لوړه کړه.

۲. عام ښاریان د ډوډۍ له کیفیت نه سر ټکوی.

۳. د کابل ښاروالی هڅه کوی چه نانبایان دې ته اړ کړی چه ډوډۍ په عادلانه بیه خرڅه کړی.

٤. ښاریان د پخې ډوډۍ له وزن نه شاکی دی.

٥. ښاریان له یوې مخې همدا خبره کوی چه د ارزانه ډوډۍ ساحه دې پراخه کړی.

Selection C.

۱. روژه د اسلام مبارك دین کې د تقوی او پرهیزګاری بنسټ دی.

۲. ریا او تظاهر په روژه کې ځای نه لری.

۳. الله تعالی د روژې په باره کې ویلی دی «خلك روژه زما په امر نیسی او اجر یې هم زه خپله ورکوم»

٤. روږه نیوونکی څکه د صابرانو په ډله کې هم راځی چه د روږې د نیولو له امله ستونزه ګالی.

Selection D.

١. د مجاهدینو مشران پدې باره کې څکه موافقه نشی کولی چه د هر غره شا ته یو امیر ناست دی.

٢. کوم خارجیان چه په پېښور کې اوسیږی هغوی فکر کوی چه د مجاهدینو مشران به پدې باره کې تر هغو موافقې ته و نه رسیږی څو چه شوروی عسکر له افغانستان نه نه وی وتی.

٣. د امریکایانو په کلوب کې د اعلاناتو پر تخته لیکل شوی چه راځی سل سل روپۍ شرط وترو...

٤. د کابل د سقوط په باره کې هم خارجیان او هم افغانان اټکلونه کوی.

٥. په کابل کې خلك د مرګ او ژوند سره مخامخ دی.

٦. خارجی حکومتونه له دې ډاریږی چه په کابل کې به د وینو لښتی وبهیږی.

٧. د مجاهدینو مشران په پېښور کې په جنګ او دعوی لګیا دی.

٨. کوم نوی مهاجرچه له جلال آباد نه تښتی د هغوی شمېر زرګونو ته رسیږی.

Selection E.

١. د «خپلواکۍ غورځنګ» د درې یمې نړۍ په هیوادونو کې د استعمار د ختمیدلو د تحریك مفهوم لری.

٢. د «خپلواکۍ غورځنګ» اوس په یوه مسلط نظام باندې د حملې معنا لری.

٣. تروورزم د هغو ډلو اعمال دی چه بېګناه انسانان وژنی.

٤. کوم اعمال چه افراد یا ډلی یې د خپلو شخصی ګټو دپاره کوی او اثرات یې یوازې په یوه دولت پورې محدود نه وی، هغه د تروورزم په نامه یادیږی.



ERIC Full Text Provided by ERIC